# د کان کیندنې تړون: [د کندهار ولایت د سمنټ پروژه]

**د افغانستان اسلامي امارت**
**د کانونو او پټرولیم وزارت**

**او**

**احمد نبي زاده د معدنکاری شرکت**

احمد نبی‌زاده شرکت
Ahmad Nabizada LTD
Import - Export
Kandahar Afghanistan

Islamic Emirate of Afghanistan
د کانونو او پټرولیم وزارت

# لیکلړ


جزئیات ........ 1
د محتویاتو شرحه........ 1
منل شوي اصطلاحات........ 2
1 تعریفونه او تفسیر ........ 2
2 د قوانینو لومړیتوب؛ ورتیا او اداره ........ 9
لومړی برخه: د تړون موده او د جواز ورکول........ 9
3 د تړون موده........ 9
4 د سپړنې یا اکتشافي جواز ورکول ........ 10
5 د کتې اخیستنې یا استخراج د جواز ورکول ........ 11
6 د جواز ساحه ........ 12
دویمه برخه: د پلانونو تسلیمول او تایید........ 13
7 پلانونه په عمومي دول........ 13
8 د پلانونو تایید ........ 14
9 د تایید شوو پلانونه بدلول ........ 14
دریمه برخه: هغه حقونه چې جواز یې تاییدوي ........ 15
10 هغه حقونه چې د سپړنې جواز یې تاییدوي ........ 15
11 د سپړنې د جواز په وسیله تایید شوي حقوق 16
څلورمه برخه: د جواز شرطونه ........ 16
12 د سپړنې د جواز شرطونه........ 16
13 د سپړنې د جواز شرطونه........ 17
پنځمه برخه: مالي قوانین ........ 17
14 د سطحې کرایه ........ 17
15 فیسونه........ 17
16 د امتیاز حق........ 17
17 مالیات........ 18
18 ګمرکي تعرفې........ 19
19 دولت ته تادیات........ 20
20 د بهرونې پولي واحد تادیه او منل ........ 20
21 مالي راپور ورکونه او محاسبه ........ 21
شپږمه برخه: نور حقوق او مسوولیتونه........ 21
22 ځانګړي شرایط........ 21
23 د کان سپړنې د فعالیتونو عمومي لاربنوونه ........ 21
24 بیمه........ 21
25 بشري حقوق........ 22


Ahmad Nabizada LTD
Import - Export
Kandahar Afghanistan
احمد نبی‌زاده شرکت
Islamic Emirate of Afghanistan

26 د رشوت او د اداري فساد ضد کړنې؛ روڼتیا ........ 22
27 چاپیربال ........ 23
28 کارګران ........ 23
29 روغتیا او خوندیتوب ........ 24
30 داخلي امنیت ........ 24
31 ځایي محتویات او د ټولنې د پراختیا پلان ........ 26
32 عامه کارونه ........ 27
33 د زېرښاوو جوړول ........ 27
34 لرغوني او فرهنګي آثار ........ 28
35 د تولیداتو پلور او صادرات ........ 29
اوومه برخه: راپور ورکول، ریکارډ ساتل او معاینه ........ 29
36 راپور ورکول ........ 29
37 د ریکارډ ساتل ........ 30
38 معاینه/ پلټنه ........ 31
اتمه برخه: ژمنې او ضمانتونه ........ 31
39 د تړون لرونکي په وسیله شوې ژمنې او ضمانتونه ........ 31
40 د دولت په وسیله ژمنې او تضمینونه ........ 33
نهمه برخه: مالي داد، مطابقت او اجراآت ........ 34
41 له لارښوونو سره مطابقت ........ 34
42 د اجرا ضمانتونه ........ 35
43 چاپیریالي ضمانتونه ........ 35
44 غرامت ........ 36
45 د مسوولیت محددودیت ........ 37
46 نابریالیتوب او د تړون پای ته رسول ........ 37
47 د تړون د پای ته رسولو پایلې ........ 38
48 د جواز د مودې د پوره کېدو، صرف نظر یا لغوه کولو پایلې ........ 39
49 تجمعي حللاري ........ 40
لسمه برخه: فرعي تړون ورکول، معامله ........ 40
50 فرعي تړون ورکول ........ 40
51 د مدیریت (کنټرول) بدلون ........ 41
52 د [حقوقو او مسؤلیتونو] پر لیږد وضع شوي محدودیتونه ........ 41
یوولسه برخه: عمومي حکمونه ........ 42
53 دولتي تضمینونه ........ 42
54 د تړون بیا کتنه او بدلون ........ 44
55 دوامداره کېدل (ثبات) 45

56 نه کنترولېدونکي پېښه ........ 46
57 د اختلافونو حل ........ 48
58 محرمانه معلومات ........ 50
59 ضمانت (ګرنټي) ........ 51
60 اخطارېي ........ 51
61 متفرقه موارد ........ 52
لومړی جدول: د کان سپړنې جواز ........ 54
لومړی برخه: مخکیني شرطونه ........ 54
دویمه برخه: د جواز اضافي شرطونه (د کانونو د قانون ۳۵ (۲) (۲) ماده) ........ 54
دریمه برخه: د جواز ساحه ........ 55
دویم جدول: د استخراج یا ګټې اخیستنې جواز ........ 56
لومړی برخه: د جواز اضافي شرطونه (د کانونو د قانون ۳۵ (۳) (۱) ماده) ........ 56
درېیم جدول: زېربنا او عامه کارونه ........ 57
لومړی برخه: زېربنا ........ 57
دویمه برخه: عامه کارونه ........ 57
څلورم جدول: ځانګړي شرایط ........ 57
اجراء ........ 58


Ahmad Nabizada LTD
Import - Export
Kandahar Afghanistan

Islamic Emirate of Afghanistan

د کان کیندني تړون: [د کندهار ولایت د سمنټ پروژه]

**جزئیات**
**نېټه**
**لوري**

**دولت**

| | |
|---|---|
| نوم | د افغانستان اسلامي امارت |
| پته | [د عبدالحق خلور لاری کابل افغانستان] |
| بریښنالیک | [lsmmd@momp.gov.af] |
| پاملرنه | دلوی مقیاس کانونو د تنظیم ریاست |

**تړون لرونکی**

| | |
|---|---|
| نوم | [د احمد نبي زاده د معدنکاری شرکت] |
| پته | [دریم منزل، یوولسم دفتر ایوبي مارکیټ کندهار ښار، کندهار افغانستان] |
| فکس | [*] |
| بریښنالیک | [info@anzintl.com] |

**د محتویاتو شرحه**

الف د کانونو د قانون د ۴۱مې مادې له مخې د کانونو او پټرولیم وزارت لهخوا د داوطلبی د پروسې له ترسره کولو وروسته، تړون لرونکې ته د دغه تړون ورکړه په لاندې ډول ترسره شوې:
(لومړی) د کانونو د قانون د ۴۵مې مادې له (۱) فقرې سره سم، په [....................] نېټه د عالي اقتصادي شورا لخوا تصویب شوی؛

ب دا تړون د کان کیندني تړون لرونکي ته د سپړنې جواز او د کېنې اخیستنې جواز د لومړیتوب حق ورکوي.

ج د کانونو قانون له ۴۶مې مادې سره سم دواړو لورو دغه تړون لاسلیک کړی، د ۴۶مې مادې د (۲) فقرې له مخې د انفاذ پړاو ته داخلېږي، او وزارت یې د دولت د استازي په توګه د کانونو د قانون د ۴۰مې مادې د (۸) فقرې له مخې مدیریت او سرپرستي پر غاړه لري.

د دا تړون د عامه کتنو اړونده موضوع ده او د کانونو قانون له ۲۵مې مادې سره سم به خپور او له خلکو سره به شریک شي.

**منل شوي اصطلاحات**

**1 تعریفونه او تفسیر**

**تعریفونه**

1.1 په دغه تړون کې کارول شوي هغه اصطلاحات چې لومړي توري یې لوی دي هغه معناګانې لري چې دوی ته د کانونو په قانون کې ورکړل شوي دي مګر دا چې شرایط بل ډول وي:

**د محاسبې معیارونه:** د محاسبې او د مالي راپور ورکونې د نړیوال سیستم (IFRS) د راپور ورکونې د معیارونو او اصولو په معنا دي؛

**اقدام:** د کړنې، شخړې، دعوا، غوښتنې، څېړنې، پوښتنې، قانوني تعقیب، حقوقي دعوا، منځګړیتوب یا د شخړې د حل په معنا دی.

**زیانمن لوری:** د دې اصطلاح اړونده معنا په ۵۶.۳ فقره کې شرح شوې ده؛

**افغانی:** د دولت قانوني کرنسي یا پیسې دي.

**د عامه محافظت معینیت او امنیتي تصدي:** د افغانستان د عامه ساتنې ځواک یا بله بدیله اداره چې د کورنیو چارو وزارت له خوا تاسیس شوې یا وزارت ته راپور ورکوي او په افغانستان د ننه کې د پلي کېدونکو پروژو لپاره امنیت برابروي.

**نافذ قانون:** د دولت د قوانینو په معنا دي، او د شک د مخنیوي لپاره لاندې موارد پکې شاملېږي:

(الف) د کانونو قانون، مقررات، لارښووني، د استملاک قانون، د ګمرکاتو قانون، د چاپېریال ساتنې قانون، پر عایداتو د مالیاتو قانون، د کار قانون، د شخصي پانګونې قانون؛ او

(ب) ټول نړیوال میثاقونه چې د دولت د اساسي قانون په اوومه ماده کې تصویب شوي دي.

**د استملاک قانون:** د استملاک قانون چې په ۱۲۵۸ ګڼه رسمي جریده کې د ۲۰۱۷ د فبروري پر ۸مه نېټه خپور شوی دی.

**منظوري:** د پلي کېدو وړ قانون له حکم سره سم له یوه جګپوړي مقام څخه د تائید، رضایت، صلاحیت، ثبت، برې لیک (سرټیفکېټ)، جواز، یا معافیت ترلاسه کولو په معنا دی.

**د منظورۍ باصلاحیته مرجع:**

(ج) د چاپېریالي مدیریت د پلان په برخه کې، د چاپېریال ساتنې ملي اداره (NEPA)؛ او

(د) د ټولنیزې ودې د پلان، د روغتیایي او ایمني پلان یا د سیمه ییزې کټې د پلان په برخه کې وزارت ته راجع کېږي؛ او

**د ټولنیزې ودې منظور شوی پلان:** د ټولنې د پرمختګ هغه پلان دی چې د کانونو د قانون د ۶۶مې مادې د (۴) فقرې یا د مقررو د ۹۱مې مادې د (۴) فقرې سره سم (هر یو چې د پلي کېدو وړ وي) د وزارت له لوري منظور شوی دی.

**منظور شوی سند:** د ټولنیزې ودې تصویب شوی پلان، د کورني امنیت تصویب شوی پلان، د چاپېریال د مدیریت تصویب شوی پلان، د اکتشاف تصویب شوی پروګرام، د روغتیا او خوندیتوب تصویب شوی پلان، د سیمه ییزو محتویاتو تصویب شوی پلان یا د کان کیندنې تصویب شوی وړاندیز؛

**د داخلي امنیت منظور شوی پلان:** د کورني امنیت پلان چې د کانونو قانون د ۸۵یمې مادې یا د مقررو د ۸۶یمې مادې له (۴) فقرې سره سم (هر یو چې د پلي کېدو وړ وي) د وزارت له خوا منظور شوی دی.

**د چاپېریال د مدیریت منظور شوی پلان:** د چاپېریال د مدیریت پلان چې د کانونو د قانون د ۶۴ مادې د (۲) فقرې یا د مقررو د ۸۱یمې مادې د (۴) فقرې سره سم (هر یو چې د پلي کېدو وړ وي) د چاپېریال ساتنې ملي ادارې له خوا منظور شوی دی.

**د سپړنې منظور شوی پروګرام:** د سپړنې یا اکتشاف هغه پروګرام چې د وخت په تېرېدو سره د بدلون له امله د کانونو د قانون له ۳۳مې مادې سره سم منظور شوی دی.

**د روغتیا او خوندیتوب منظور شوی پلان:** د روغتیا او حوندیتوب پلان چې د کانونو د قانون د ۷۰ مادې د (۲) فقرې یا د مقررو د ۶۷ مادې د (۴) مادې سره سم (څرنګه چې د پلي کېدو وړ وي) د وزارت له خوا منظور شوی دی.

Ahmad Nabizada LTD
Import - Export
Kandahar Afghanistan

**د سیمه‌ییزو محتویاتو منظور شوی پلان:** د سیمه ییزې ګټې پلان چې د کانونو د قانون د ۶۵ مادې د (۳) فقرې یا د مقررو د ۸۹ مادې د (۴) فقرې سره سم (څرنګه چې د پلي کېدو وړ وي) د وزارت له خوا منظور شوی دی.

**د کان سپړنې منظور شوی وړاندیز:** د کان کیندنې هغه وړاندیز چې کانونو د قانون د ۲۸ مادې د (۸) فقرې سره سم د عالي اقتصادي شورا له خوا منظور شوی دی، او د کانونو د قانون د ۳۳ مادې سره سم وخت پر وخت بدلون مومي.

**منظور شوی پلان:**

(الف) د اکتشافي جواز په صورت کې، د چاپیریال د مدیریت تصویب شوی پلان، روغتیا او خوندیتوب تصویب شوی پلان یا د سیمه ییزو محتویاتو تصویب شوی پلان (څرنګه چې د پلي کېدو وړ وي)؛ یا

(ب) د ګټې اخیستنې د جواز په صورت کې، د ټولنیزې ودې تصویب شوی پلان، د چاپیریال د مدیریت تصویب شوی پلان، د روغتیا او خوندیتوب تصویب شوی پلان یا د سیمه ییزې ګټې تصویب شوی پلان (څرنګه چې د پلي کېدو وړ وي)؛

**باصلاحیته مرجع** یعنې هر دولتي، نیمه دولتي، اداري، مالي یا قضایي ارګان، څانګه، کمیسیون، مقام، محکمه، اداره یا بله هر ډول اداره او د شک د مخنیوي لپاره خپله وزارت هم په کې شاملېږي.

**د غوره صنعت کړنه**: هغه کړنې، میتودونه او کړنلارې چې د خوندیتوب او قانوني اړتیاوو سره مطابقت لري او د مهارتونو، زحمت، هوښیارتیا او لر لید څخه په کټه اخیستنه ترلاسه کېږي چې د دې کړنې تمه په ورته کار او په ورته یا بېلابېلو فعالیتونو کې له بوختو مسلکي او تجربه لرونکو تړون کوونکو څخه کېږي او دوی تر ورته شرایطو لاندې په افغانستان کې کار کوي او د نړیوالو کان ایستونکو شرکتونو د روغتیا، خوندیتوب او چاپیریال ساتنې معیارونه پوره کوي.

**د داوطلبی اسناد:** په دې معنا دي چې ټول هغه اسناد چې د تړون لرونکي لخوا د داوطلبی د پروسې په جریان کې وزارت ته سپارل شوي، چې لاندې اسناد هم پکې شامل دي:

(ج) د اهلیت د مخکې ارزونې پوښتنپاڼه؛

(د) د داوطلبی وړاندیز (چې د شک د مخنیوي لپاره، د تخلیې جدول، د وړتیا او موافقت اظهارلیک او د وړتیا اظهارلیک هم پکې شاملېږي)؛

الف د تړون لرونکي لاندې توکي وړاندې کړي دي:

(لومړی) د سپړنې یا اکتشاف پروګرام؛

(دویم) د چاپیریال د مدیریت پلان؛

(دریم) د سیمه ییزو محتویاتو پلان؛

(څلورم) د روغتیا او خوندتابه پلان؛

(پنځم) د کورنې امنیت پلان؛

( شپږم) د کان کیندنی پلان؛

( اووم) د پروسس پلان

( اتم) د اجتماعی خدماتو پلان

( نهم) وړاندیز شوی رویالتی

(ب) د داوطلبی پروسې په جریان کې د تړون لرونکي لخوا چمتو شوي نور معلومات (مهمه نه ده چې دا ډول نور معلومات د وزارت لخوا د غوښتنې په ځواب کې چمتو شوي یا په بل ډول)؛

**د داوطلبی پروسه:** موخه یې هغه پروسه ده چې د دې تړون په الف شرح کې ورته اشاره شوې ده.

**کابینه:** د افغانستان د اسلامي امارت د وزیرانو کابینه ده.

**مرکزي بانک:** موخه یې د افغانستان بانک دی.

Ahmad Nabizada LTD

**د تړون ورکړه:** د کان کیندنې د تړون د ورکړې په معنا دی.

**تړون لرونکی:** معنا یې [ولیکئ]؛

**د کان سپړنې د تړون لرونکي تضمینونه:** هغه تضمینونه چې په ۳۹.۱ فقره کې شرح شوي دي.

**د کان سپړنې د تړون موده:** هغه موده چې په ۳.۲ فقره کې شرح شوې ده.

**مخکیني شرایط:** هغه شرطونه چې د لومړي مهالویش په لومړی برخه کې شرح شوي دي.

**محرم معلومات:** په دې معنا دي، چې لاندې معلومات چې په هر شکل کې د پروژې په تړاو د افشا کوونکي لوري یا د هغه استازو لخوا ترلاسه کوونکي لوري یا یې استازو ته ښکاره شوي وي:

أ) هغه معلومات چې د پلي کېدو وړ قانون له مخې محرم دي.

ب) شخصي موضوعات، د کارکوونکي روغتیایي ریکارډونه، یا د کارکوونکو او نورو کسانو سندونه او معلومات، او نور موضوعات چې د اشخاصو محرمیت پهکې شامل وي.

ت) د تجهیزاتو، د پروسې نوښتونو، امنیتي یا سوداګریزو رازونو په اړه محرم تخنیکي یا ملکیتي معلومات.

ث) د حقوقي سلاکارانو د سلا مشورې په ګډون محرم حقوقي موضوعات ؛

ج) د کان کیندنې اړوند معلومات؛

ح) د تړون لرونکي د معنوي مالکیت حق چې په پروژه پورې تړاو لري؛ یا

خ) هغه معلومات چې د کانونو د قانون له ۲۵مې مادې سره سم یا د مقررو د ۱۰۱ مادې د ۴مې فقرې له مخې د پلټنې په ترڅ کې ترلاسه شوي دي.

خو هغه معلومات نه پکې شاملېږي چې:

د) لاسته راوړونکی لوری اړ وي چې د کانونو د قانون، مقرراتو یا نورو نافذه قوانینو سره سم یې خپاره یا په عامه توګه وړاندې کړي؛

ذ) چې د عامه شتمنیو برخه وي او یا یې یوه برخه وبلل شي، په دې شرط چې د دغه تړون د نقض کېدو او یا د افشا کوونکي لوري او یا د هغوی د استازو په امانت کې د خیانت لامل نهشي.

ر) چې ترلاسه کوونکی لوری اثبات کړای شي چې د معلوماتو افشا کولو پر مهال افشا کوونکی لوری خبر و (خو دا چې یاد معلومات د افشا کوونکي لوري یا د هغوی د استازو د امانت ساتلو د اصل د نقضولو له امله نه وي)؛ او یا

ز) چې ترلاسه کوونکي لوري دا معلومات له افشا کوونکي لوري پرته له بلې سرچینې ترلاسه کړي وي او یاده سرچینه د معلوماتو د افشا صلاحیت ولري؛

**د ګمرکاتو قانون:** د ګمرکاتو قانون (۲۰۱۶) چې په [25/اکتوبر/2016] نېټه په [1235] ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی دی.

**افشاء کوونکی لوری:** هغه لوری چې محرم معلومات افشا کوي (یا په مستقیمه توګه یا د خپلو استازو له لارې).

**امریکایي ډالر (USD):** د امریکا د متحده ایالتونو مروجې پیسې.

**د کورني امنیت پلان:** د دې اصطلاح اړونده معنا په مقررو کې شرح شوې ده.

**د نافذېدو نېټه:** هغه نېټه په کومه چې د کان کیندنې تړون د ټولو لورو له خوا پلی کېږي، ثبتېږي او د کانونو د قانون د ۲۵ مادې د (۱) فقرې د حکم سره سم خپرېږي.

**د استخراجي صنایعو د روڼتیا نوښت (EITI)**

**د پای نېټه:** د مخکینیو شرایطو سره سم هغه نېټه چې د لومړي مهالوېش د لومړی برخې د مخکینیو شرایطو پر خلاف تاکل شوې ده.

**نابریالیتوب:** هغه نابریالیتوب چې په ۴۶.۱ فقره کې شرح شوی.

**د تبادلې نرخ:** هغه نرخ چې په تاکلې نېټه د راکړې ورکړې لپاره تاکل شوی وي.

**د کتې اخیستنې جواز:** هغه جواز چې د کانونو قانون د ۲۸ مادې د درېیمې او څلورمې فقرې له حکم سره سم تړون لرونکي ته ورکول کېږي چې د جواز په ساحه کې اجازه ورکوي.

**د سپړنې یا اکتشاف جواز:** هغه جواز چې د کانونو قانون د ۲۸ مادې د (۱) بند د حکم سره سم د کان کیندنې تړون لرونکي ته ورکول کېږي چې د جواز په ساحه کې د مرمرو د سپړنې اجازه ورکوي.

**د استملاک مرجع:** د دې اصطلاح معنا د استملاک په قانون کې شرح شوې ده.

**مالي کال:** دوولس میاشتنۍ دوره چې د هر کال د دسمبر په ۲۰مه (د لیندی ۳۰مه) نېټه پای ته رسېږي.

**له اختیار وتلې پېښه:** د دې اصطلاح اړونده معنا په ۵۶.۱ فقره کې شرح شوې ده.

**د مالي راپور ورکونې نړیوال معیارونه** چې د محاسبې د نړیوالو معیارونو د بورډ له خوا خپرېږي.

**پر عایداتو د مالیاتو قانون:** د ۲۰۰۹ کال پر عایداتو د مالیاتو قانون چې په [14/جنوری/2009] کې په [976] ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی دی.

**خپلواک متخصص:** د دې اصطلاح معنا په اړونده مقرراتو کې شرح شوې ده.

**نامستقیم زیان:** هر نا مستقیم زیان چې هر څنګه پېښ شوی وي. چې لاندې ټکي په کې شاملېږي:

أ) د ګټې اخیستنې، تولید، ګټې، عاید، کاروبار یا سپما له لاسه ورکول

ب) هغه زیان چې د سوداګریزې یا کاروباري ګډوډۍ له امله رامنځته شوی،

که څه هم نا مستقیم زیان د وړاندوېینې وړ وي یا نه وي.

**فکري مالکیت:** د اختراع، د کارونې وړ موډل، د نشر حق (د راتلونکي نشر د حق په ګډون)، سوداګریز نښان، لوګو او د ډیزاین نښو، خدماتي نښو، سوداګریزو نومونو، براند نومونو، ډیزاینونو، سوداګریزو رازونو، د ډومېن نومونو، د نړیوالې شبکې (world wide web) سره د نورو تړلو نومونو، انټرنېټي پتې، د حقونو په ګډون د فکري مالکیت د حقونو په معنا دی چې د نافذېدو له نېټې مخکې یا وروسته رامنځته کېږي او ټول غوښتنلیکونه او حقونه په کې شاملېږي چې د دې ډول فکري مالکیت د ثبتولو لپاره کارول کېږي.

**د مفلسۍ وضعیت:** په دې معنا دی چې د یوه لوري اړوند له لاندې مواردو څخه یو یا څو موارد رامنځته شي:

ج) دا د هر پلي کېدونکي قانون د اهدافو لپاره دی یا یې تصور شته دی (د هر هدف لپاره)؛

(لومړی) نه شي کولی خپل پورونه تادیه کړي؛ یا

(دویم) مفلس وي؛

د) د ټولو یا یوې طبقې پورونو تادیه ودروي، ویې ځنډوي یا یې له ګوابښ سره مخ کړي؛

ه) د پور ورکوونکو یوه غونډه رابلل کېږي یا ترسره کېږي؛

و) د مفلس یا دېوالي کولو لپاره کوم ګام اخیستل کېږي؛

ز) د ملکیت د ضبط لپاره یې کوم غوښتنلیک وړاندې کېږي یا یې د ضبط امر کېږي؛

Ahmad Nabizada LTD
Import - Export

ح) له قانوني غوښتنې سره په مطابقت کې پاتې راځي؛

ط) يو داسې گام اخيستل کيږي چې په يوه ناسم وضعيت کې پای مومي؛

ي) يو داسې گام اخيستل کيږي چې تر لاسه کوونکی، اخيستونکی او مدير، اداري، د تصفيې مدير يا موقتي د تصفيې مدير د همدغه يا يې کومې بلې شتمنۍ لپاره گومارل کيږي ورته کومه گمارنه ترسره کيږي؛

ك) د ټولو يا يې د پور ورکونکو د کټو لپاره هر ډول تړون، جوړښت يا ترتيب ته ننوځي، يا دنده ترسره کوي؛ يا

ل) هر هغه څه چې تر کوم قانون لاندې يا کوم صلاحيت لاندې پيښيږي چې د پورته توضيحاتو له کوم مورد سره ورته وي يا ورته اغيزې ولري؛

**د کار قانون:** د ۲۰۰۷ کال د کار قانون چې د ۲۰۰۷ کال د فبروری په ۴مه نېټه په ۹۱۴ گڼه رسمي جريده کې خپور شوی دی.

**جواز:** د کان سپړنې يا د کان د استخراج جواز (هر يو چې د کارېدو وړ وي)

**د جواز ساحه** په لاندې معنا ده:

(الف) د اکتشافي جواز په اړه، هغه ځمکه چې وخت په وخت د اکتشافي جواز موضوع جوړوي؛ او

(ب) د کټې اخيستنې يا استخراج د جواز په اړه، هغه ځمکه چې وخت په وخت د استخراج د جواز موضوع وي؛

**د جواز د پای نېټه:** د جواز په اړه له لاندې مواردو څخه هر هغه څه چې لومړی رامنځته شي:

أ) د جواز د وخت د ختمېدو نېټه؛

ب) له جواز څخه (يا يې يوې برخې څخه) د انصراف يا لاس اخيستو يا پرېښودو نېټه؛ او

ج) د کانونو قانون له مخې د جواز د لغوې نېټه؛

**زيان:** ټول زيانونه، ويجاړی او لگښتونه؛

**د کانونو قانون:** د ۲۰۱۸ کال د کانونو قانون چې په [13/اکتوبر/2018] نېټه [1315] گڼه رسمي جريده کې خپور شوی دی.

**د کان کيندنې معلومات:** د جواز يا د جواز په ساحه کې د پرتو کانونو په اړه ټول معلومات او مواد.

**وزارت:** د افغانستان د کانونو او پټروليم وزارت په معنا دی.

**بل لوری** په لاندې معنا دی:

أ) کله چې د کان کيندنې تړون لرونکی اغېزمن شوی لوری وي، دولت بل لوری بلل کېږي؛ يا

ب) کله چې دولت اغېزمن شوی لوری وي، د کان کيندنې تړون لرونکی بل لوری بلل کېږي؛

**د شخصي پانگونې قانون:** د ۲۰۰۵ کال د شخصي پانگونې قانون چې په [21/دسمبر/2005] په [869] گڼه رسمي جريده کې خپور شوی دی.

**پروژه:** په لويه کچه د کان کيندنې پروژه ده چې له دې تړون سره سم د کان کيندنې د تړون لرونکي له خوا د جواز په ساحه کې پلې کېږي.

**وړانديز شوی پلان:** معنا دا چې تړون لرونکی له لاندې مواردو څخه کوم يو يې وړانديز کړي:

أ) د چاپېريالي مديريت پلان؛

ب) د سيمه ييزې گټې پلان؛

ج) د روغتيا او خونديتابه پلان؛ يا

د) د تولینزې ودې پلان،

(څرنګه چې د پلې کېدو وړ وي)، او د شک له منخه وړلو لپاره، تر ۹ فقرې لاندې د یوه تصویب شوي پلان هر ډول وړ اندیز شوی بدیل یکې شاملېږي؛

**د عامه مسوولیت بیمه**: معنا عامه او د درېیم لوري بیمه:

أ) د لاندې مواردو لپاره قانوني مسوولیت رانغاړي:

(لومړی) د درېم لوري حقیقي یا شخصي ملکیت ته ضرر رسېدل، او

(دویم) د کوم شخص ټپي کېدل یا مړینه،

دغه پېښې د کان کېدنې د تړون لرونکي د فعالیتونو په پایله کې رامنځ ته شوې وي؛

ب) د درېیم لوري د مسولیت پوښل چې د زېربناوو یا د وسایلو له کاروني څخه رامنځته کېږي او دغه مسولیتونه د لېږد د ماشین لرونکو وسایلو د بېمې تر پالیسی لاندې نه وي راغلي؛ او

ج) دغه مسولیت باید د هرې پېښې لپاره د ۲۰،۰۰۰،۰۰۰ ډالرو څخه کم نه وي؛

**عامه کارونه:** معنا هغه کارونه چې د ۳ جدول په ۲ برخه کې ذکر شوي دي؛

**د کان کېدنې د صنعت وړ مالیه ورکوونکی:** نسبت یې هغې اصطلاح ته کېږي چې پر عایداتو د مالیاتو په قانون کې تشریح شوې ده؛

**ترلاسه کوونکی لوری:** معنا هغه اړخ چې محرم معلومات (په مستقیم ډول او یا هم د خپلو استازو په وسیله تر لاسه کوي)؛

**مقرارت**: معنا د کانونو مقرارت چې د کانونو د قانون په تعقیب خپاره شوي؛

**اړوند لوری**: معنا یې د یوې حقوقي ادارې په برخه کې هر هغه شخص ته ده، چې د یوه یا څو منځګړو په وسیله عمده مالک وي، یا په دې حقوقي اداره کې په مستقیم او یا نامستقیم ډول د مشارکت عمده برخه لري؛

**د یوه لوري استازی** په لاندې معنا دی:

أ) له هغه لوري سره اړوند یو لوری؛ او

ب) آمر، رئیس، کارکوونکی، استازی، تفتیش کوونکی، مشاور، شریک، ګډ پانګوال، مشاور یا د هغه لوري قراردادي یا د هغه لوري اړوند لوری؛

**اړینه بیمه:** معنا دا چې د عامه مسؤلیت بیمه او کومه بله بیمه چې د نافذ قانون لخوا اړینه بلل شوې وي؛

**د بیا مېشتېدنې کمېټه:** هغه کمېټه ده چې د استملاک قانون د ۳۸مې مادې له (۲) فقرې سره سم جوړه شوې؛

**د بیا مېشتېدنې د پروژې د تطبیق پلان:** معنا یې د بیا میشتیدنې د کمیټې لخوا د استملاک له قانون سره سم د هغو اشخاصو د بیا میشتیدنې لپاره چمتو شوی پلان دی چې ځمکه یې په اجباري ډول اخیستل شوې وي.

**ځانګړي شرایط:** معنا هغه خاص شرایط چې په ۴ جدول کې ذکر شوي دي؛

**د دولت تضمینونه**: هغه تضمینونه او ژمنې چې په ۴۰.۱ بند کې روښانه شوي دي؛

**د مالیاتو قانون:** یعني هر قانون چې په هر ډول مالیاتو پورې اړوند وي (د ګمرکاتو قانون او پر عاید د مالیاتو قانون په ګډون)؛

**درېیم لوری: یعني** پرته د کان کېندنې د قراردادي او یا هم د هغه اړوند لوري څخه کوم بل لوری؛

**تضمین:** د کان کیندنې د قراردادي تضمین او یا هم د دولت تضمین (هر کوم چې د پلې کېدو وړ وي)؛ او

**تفسیر**

1.2 د دغه تړون په تفسیر کې لاندې موارد شاملېږي، مګر دا چې محتویات بل ډول غوښتنه ولري:

1.2.1 عنوانونه یوازې د آسانتیا په خاطر ځای پر ځای کېږي او د دغه تړون د محتویاتو پر تشریح کوم اغېز نه لري؛

1.2.2 د طبعي شخص په اصطلاح کې هر فرد، شرکت، کمپنی، موسسه، حکومت، دولت یا د دولت اداره یا کومه ټولنه، مسؤول مقام، ګډه پانګونه، د مشارکت کنسورتیوم (که بېل قانوني شخصیتونه ولري او یا یې و نه لري) شاملېږي؛

1.2.3 که یوې کلیمې یا عبارت ته یوه مشخصه معنا ورکړل شوې وي، د دغه کلیمې یا عبارت راتلل د بحث په بله برخه کې، یا یې بله ګرامري بڼه ورته معنا لري؛

1.2.4 یوه کلمه چې مفرد ښیي، د هغه کلیمې جمع هم ښیي او یوه کلمه چې جمع ښیي، د همدغې کلمې مفرد هم ښیي؛

1.2.5 هر جنسیت ته اشاره د هغه بل جنسیت هم ښیي؛

1.2.6 د 'شامل' یا 'شاملېږي' کلمې ته مراجعه پرته له کوم محدودیت څخه تعبیر کېږي؛

1.2.7 د تړون یوه لوري، بند، جدول او یا ضمیمې ته اشاره، د دغه تړون یوه لوري، بند، جدول او یا هم ضمیمې ته اشاره ده؛

1.2.8 یوه لوري، سند یا هوکړه لیک ته په اشاره (د دغه تړون په ګډون) کې، د هغه لوري د کار اجرا کوونکي، مدیران، ځایناستي او اجازه لرونکي حواله اخیستونکي شاملېږي، په شمول د هر هغه کس چې تبدیل شوی وي؛

1.2.9 یوه سند یا هوکړه لیک ته اشاره (د دغه تړون په ګډون) هغه سند یا هوکړه لیک ښیي چې وخت پر وخت تعدیل شوی، نوی شوی، ضمیمه شوی او یا بدل شوی وي؛

1.2.10 جدولونه او ضمیمې د دغه تړون برخه جوړوي؛

1.2.11 هر قانون، تقنین یا مقننه احکامو ته په اشاره کې (د کانونو د قانون، استملاک قانون، د ګمرکونو قانون، د چاپېریال قانون، د کار قانون او پر عایداتو د مالیاتو قانون او د خصوصي پانګونې د قانون په شمول) هر ډول قانوني تعدیل، یا د وخت په تیریدو سره بیا نافذول شامل دي، او کوم ماتحت قانون یا مقررات چې تر دغه قانون یا مقننه مادې لاندې صادر شوي، هغه که د انفاذ له نېټې څخه وړاندې وي یا وروسته؛

1.2.12 په تضمینونو کې تضاد او یا هم د تړون ماتولو ته له اشارې څخه موخه هغه تضمینونه دي چې سمې نه وي، بشپړې او یا سمې نه وي، یا هم ګمراه کوونکي او خطا ایستونکي وي؛ او

1.2.13 د کان کېندنې د دغه تړون د مادو نېمګړتیاوې باید یوازې هغه طرف ته په دې سبب چې د دغه تړون مادې یې جوړې کړې او په تړون کې یې شاملې کړې، تعبیر نه شي.

**کاري ورځې او د وخت محاسبې ته اشاره**

1.3 په دغه تړون کې هدف په لاندې ډول دی، مګر دا چې محتویاتو کې په بل ډول روښانه شوې وي:

1.3.1 له ورځې څخه موخه د وخت هغه موده ده چې په نیمه شپه کې پیلېږي او ۲۴ ساعته وروسته پای ته رسېږي؛

1.3.2 د ورځې له وخت څخه موخه د کابل، افغانستان وخت دی؛

1.3.3 له کاري ورځې څخه موخه ټولې ورځې شاملېږي پرته له جمعې او عمومي رخصتیو، په کومو کې چې بانکونه د عمومي کاروبارونو لپاره په کابل، افغانستان کې پرانیستل شوي دي؛

1.3.4 له 'میاشتې' څخه موخه د لمریزې جنترۍ میاشت او له 'کال' څخه موخه د لمریزې جنترۍ کال دی؛

1.3.5 که د یوه فعالیت یا یوې پیښې ورځ یا د وخت یوه موده له یوې ټاکلې نېټې یا ورځې څخه مشخصه شوې وي، دغه ورځ په محاسبه کې نه شمېرل کېږي؛ او

1.3.6 که د دغه تړون پر اساس د دغه تړون د کوم فعالیت د ترسره کېدو ورځ، کاري ورځ نه وي، نو ورځ راتلونکې کاري ورځ تفسیر کېږي او فعالیت باید په راتلونکې کاري ورځ ترسره شي.

### غوره هڅې

1.4 د دغه تړون هر حکم چې له يوه اړخ څخه غوښتنه کوي چې "غوره هڅې" وکړي ترڅو داړ حاصل کړي چې يو څه ترسره کيږي يا واقع کيږي، دا مکلفيت له څان سره نه لري چې:

1.4.1 د کوم شخص پر وړاندې کوم قانوني عمل يا اقدام وکړي؛

1.4.2 په بشپړ ډول دا داړ ترلاسه کړي چې دا څيز ترسره کيږي يا پيښيږي؛ يا

1.4.3 هر هغه لګښت چې تر هغې کچې تر لوړ وي چې له شرايطو سره سم مناسب بلل کيږي.

## 2 د قوانينو لومريتوب؛ وړتيا او اداره

### لمريتوب

2.1 که د لاندې مواردو ترمنځ توپير يا تضاد موجود وي:

2.1.1 هر نافذ قانون؛

2.1.2 دا تړون؛

2.1.3 د هر جواز شرايط؛ او

2.1.4 يو منظور شوی سند،

نو بيا به د دغه تضاد تر کچې، اسناد په هغه ترتيب سره غالب وي کوم چې په دې (۲.۱) فقره کې ياد شوي دي.

### ظرفيت او اداره

2.2 وزير يا وزيره دغه تړون د خپلې وړتيا پر بنسټ د دولت په استازولۍ اجرا کوي.

2.3 د تړون څښتن منې چې دولت، وزارت د خپل استازي په توګه تاکلی تر څو د دولت د حقوقو تمثيل وکړي اومسوليتونه يې ترسره کړي.

### د حاکميت د معافيت محدود ابطال

2.4 ۲.۵ بند ته په کتو سره دولت، د سياسي حاکميت پر وړاند لاندې ادعاوې په يو اړخيز ډول له پامه غورځوي:

2.4.1 هره هغه ادعا چې د دغه تړون پر وړاندې کيږي (د هرې هغې ادعا په ګډون چې د دغه تړون پر بنسټ د بحث موضوع ده)؛

2.4.2 هغه اقدامات چې د يوې فتوا د تشخيص، اجرا او عملي کولو لپاره ترسره کيږي (د محکمې له قضاوت او د جلب څخه د خونديتوب په ګډون)؛ او

2.4.3 هره هغه فيصله چې د دولت د شتمنيو او يا ملکيت پر وړاندې شوې وي، او يا هغه شتمني چې دولت د تجارت او يا هم نورو موخو لپاره ساتلې وي.

2.5 په دغه تړون کې هيڅ شی (د شک د لرې کولو لپاره، د ۲.۴ بند په ګډون) د کانونو د قانون، مقرراتو او يا هم د بل پلې کيدونکي قانون د اجرايي صلاحيت مخنيوی نه شي کولای، او د دغه اجرايي صلاحيت د تمثيل لپاره دولت، د دولت او د حاکميت د معافيت پر وړاندې هيڅ ادعا له پامه نه غورځوي.

## لومړۍ برخه: د تړون موده او د جواز ورکول

## 3 د تړون موده

### د تړون ثبت او خپرېدل

3.1 دولت په باوري کوي چې د اړخونو له خوا د دغه تړون له پلې کولو وروسته به وزارت په ۱۰ کاري ورځو کې:

3.1.1 د مقرراتو مطابق به دغه تړون په "راجستر" کې ثبتوي؛ او

3.1.2 د کانونو د قانون د ۲۵ مادې د (۱) فقرې مطابق به د دغه تړون کاپي او د تړون لرونکي اړخ د مالکيت جزيات خپروي.

3.1.3 يو داسې ليکلی فرمان به صادروي چې د تړون لرونکي ته اجازه ورکوي چې د لومړي مهالويش په دريمه برخه کې مشخص شوي ځمکې ته لاسرسی ومومي) تر دې چې دا د ۷.۱.۲ بند مطابق د هر وړانديز شوي پلان د نهايي کولو لپاره اړين وي، په دې شرط چې د يوه جواز له ورکړې پرته به د ځمکې د ګډوډولو کار ته اجازه نه ورکول کيږي.

**موده**

3.2 دغه تړون د انفاذ له نېټې پلېږي او په لاندې مواردو کې چې څه لومړی واقع شول، پر اساس يې تړون پای ته رسيږي:

3.2.1 هغه نېټه چې پر اساس يې دغه تړون د ۴.۶، ۴۶.۲ يا ۵۶.۱۰.۲ بند مطابق پای ته رسيږي؛ او

3.2.2 هغه نېټه چې:

3.2.2.1 په هغه باندې د دغه تړون طرفين په ليکلي ډول د تړون د پای ته رسولو هوکړې ته رسيږي؛ او

3.2.2.2 د تړون پای ته رسېدل د اقتصاد د عالي شوار له خوا منظور شي (د تړون دغه پای ته رسيدل د کان کېدنې د تخنيکي کمېټې د وړانديز په تعقيب کېږي).

## 4 د سپړنې يا اکتشافي جواز ورکول

### د سپړنې د جواز لپاره د اجراء ضمانت

4.1 د تړون څښتن اړ دی چې وزارت ته د اجرا ضمانت چمتو کړي. د دغه تضمين موخه د هغه ژمنو ترسره کول دي چې د سپړنې په تاييد شوي پروګرام کې ذکر شوي او موده يې ۲۰ کاري ورځې ده (په هغه صورت کې چې د اجرا ضمانت د کار د پيل او د غوښتل شوې نېټې څخه وړاندې وزارت ته نه وي ورکړل شوي).

4.2 د تړون څښتن تاييدوي چې ۴.۱ مادې مطابق وزارت ته د اجرا د ضمانت په وړاندې کولو کې د هغه پاتې راتلل يوه فرضي پېښه ده، هماغسې چې په ۴۶.۱ ماده کې يې وړاندوينه شوې ده.

### مخکېنۍ شرطونه

4.3 مخيکنې شرطونه يوازې او يوازې ددولت په انحصار کې دي او يوازې د يوه ليکلي خبرداري په بنه هر يوه لوري ته ورکول کيږي.

4.4 هر لوری بايد خپلې پوره هڅې وکاروي ترڅو د مخکينو شرطونو پلي کيدل د اجرا له نيټې وروسته يا د اختتام تاريخ مخکې په دادمن ډول ترسره شي.

4.5 يو لوری بايد سملاسي:

4.5.1 د تړون هر لوری بايد ژر تر ژر د مخکينيو شرطونو د پلي کيدو يا پلي کولو (يا د نه پلي کيدو) څخه په ليکلي بڼه خبر ورکړي.

4.5.2 د قرارداد نورو لوريو ته مرستندويه اسنادونه او لاسوندونه چمتو کول لازم دي تر څو وکتلی شي چې مخکېني شرطونه پلي شوي او يا هم د پلي کېدو وړ نه دي.

4.6 دولت کولی شي د ۴.۷ مادې پر بنسټ دغه تړون نورو لوريو ته د ليکلي خبرداري په لېږلو سره پای ته ورسوي:

4.6.1 که چيرې د هيڅ يوه مخيکنی شرط پلی کېدل د رضايت وړ و نه ګرځيد او د ۴.۳ بند پر بنسټ تر ۳۵ کاري ورځو وروسته يې د ترسره کېدو ډاډ ترلاسه نه شي او په پايله کې يې مخکيني شرطونه د پلي کيدو وړ و نه ګرځي.

4.6.2 که چيرې کوم يو مخکينی شرط د رضايت وړ نه وي، يا يې ۴.۳ مادې سره مطابقت ونه لری او يا هم د ټاکلې نېټې تر رسېدو پورې د ډاډ وړ نه وي.

4.7 دولت نه شي کولی دا تړون د ۴.۶ بند پر بنسټ له منځه یوسي، تر دې چې:

4.7.1 دولت د ۴.۴ او ۴.۵ بندونو له مخې خپل مکلفیتونه پوره کړي وي؛ او

4.7.2 لغوه کول د عالي اقتصادي شورا لخوا تصویب شوي وي (د کانونو د تخنیکي کمیټې له سپارښتنې وروسته).

4.8 که چیرې دا تړون د ۴.۶ بند پر بنسټ لغوه کړای شي نو ۴۷ بند د پلي کیدو وړ ګرځي.

**د سپړنې یا اکتشافي جواز ورکړه**

4.9 دولت به داډ ورکوي چې وزارت تړون لرونکي ته د سپړنې جواز د ۱۵ کاري ورځو په جریان کې چې د لاندې نېټې نه محاسبه کېږي، ورکوي:

4.9.1 د انفاذ یا پیل نېټه

4.9.2 هغه نیټه چې تړون لرونکی به د سپړنې د جواز اجرایوي تګلاره د ۴.۱ مادې پر بنسټ وزارت ته په کې سپاري؛ او،

4.9.3 هغه نېټه چې د ۴.۳ مادې سره په مطابقت د مخکینو شرطونو رضایت پکې ترلاسه شوی وي یا نه وي ترلاسه شوی.

4.10 دولت مکلف دی چې وزارت اړ باسي تر څو د ۱۰ کاري ورځو په بهیر کې د سپړنې جواز خپور کړي:

4.10.1 د سپړنې جواز به د قانون او اصولو مطابق ثبت او راجستر کیږي او

4.10.2 د سپړنې د جواز یوه کاپي به د کانونو د قانون د ۲۵(۱) مادې پر اساس چاپ او نشریږي.

## 5 د ګټې اخیستنې یا استخراج د جواز ورکول

**د لومړیتوب حق**

5.1 د تړون د قانوني مودې په جریان کې، د تړون څښتن د ترلاسه کړي جواز په ساحه کې د یوې یا څو سپړنو د لومړیتوب حق درلودلی شي.

**د سپړلو د جواز لپاره غوښتنه**

5.2 تړون لرونکی کولی شي وزارت ته د ګټې اخیستنې یا استخراج د جواز ترلاسه کولو لپاره په مقرراتو کې تشریح شوي توګه داسې غوښتنلیک ورکړي، چې د کانونو د قانون د ۲۸ (۵) مادې او د مقررې د ۲۷ مادې له مخې غوښتل شوي اسناد ورسره وي.

5.3 د شک او بې باورۍ څخه د مخنیوي په خاطر، د چاپیریالي مدیریت پلان، د ځایي منځپانګې پلان او د روغتیا او خوندیتوب پلان د ۵.۲ فقرې سره سم ثبت شي او یا کیدلی شي چې د هغې پر ځای د چاپیریالي مدیریت تصویب شوی پلان، د ځایي منځپانګې تصویب شوی پلان او یا هم د روغتیا او خوندیتوب تصویب شوی پلان چې د پلي کیدو په جریان کې دي ځای پر ځای شي.

**د کان سپړنې د پروپوزل یا وراندیز تایید**

5.4 د ۵.۲ فقرې د غوښتل شویو اسنادو له ترلاسه کولو سره سم، دولت باید باوري کړي چې وزارت او د کانونو تخنیکي کمیټه د ټاکل شوي وخت په پام کې نیولو سره، د کانونو د قانون د ۲۸(۵) څخه تر ۲۸(۹) مادو سره په مطابقت کې خپل اړوند مسؤلیتونه په چټکۍ سره ترسره کړي، او هغه زماني چوکاټونه به په پام کې نیسي کوم چې په هغو لارښوونو کې مشخص شوي چې د کانونو د قانون تر ۲۸ (۱۲) مادې لاندې د عالي اقتصادي شورا لخوا تصویب شوي.

5.5 د کانونو د قانون د ۲۵(۹) مادې له پامه غورځولو پرته، د دولت په استازیتوب وزارت باید د تړون لرونکي ته په لیکلي ډول د لاندې مواردو خبرتیا ورکړي:

5.5.1 باید د اقتصاد د عالي شورا له خوا د کان سپړنې پروپوزل د تایید یا رد خبر؛ او

5.5.2 که د کان سپړنې پروپوزل منل شوی وي، د کانونو د قانون د ۲۸(۸) مادې مطابق که د سپړنې پر جواز هر ډول شرط اېښودل شوی وي.

5.6 د تړون لرونکی اعتراف کوي چې، د کانونو د قانون د ۲۸(۹) مادې مطابق، د ګټې اخیستنې جواز به تر هغه نه ورکول کېږي تر څو چې د اقتصاد عالي شورا د کان سپړنې اړوند پروپوزل تصویب کړي او د کانونو د قانون مطابق اړین اسناد چمتو کړي.

### د اجرا ضمانت او د کان کیندنې جواز

د تړون لرونکی باید وزارت ته د تضمین په توګه وړاندې کړي. تضمین د هغو ژمنو په بدل کې وړاندې کېږي چې د کان سپړنې په منل شوي پلان کې شوي. تړون لرونکي باید د وزارت له خبرتیا وروسته د ۴۰ کاري ورځو په جریان کې په هغه نېټه په کومه چې وزارت د کان سپړنې پلان د ۵.۵ بند مطابق تاییدوي (که د دغې نېټې تر مخه وزارت ته د اجرا ضمانت نه وي سپارل شوی)، وسپاري.

5.7 د تړون لرونکی مني که د اجرا ضمانت وزارت ته د ۵.۷ بند مطابق وړاندې نه کړي، نو دا د ۴۶.۱. بند مطابق یوه فرضي پېښه ده.

### د ګټې اخیستنې یا استخراج د جواز ورکول

5.8 د ۵.۱۰ بند مطابق، دولت باید باوري کړي چې وزارت به د سپړنې جواز چې د تړون لرونکي په وسیله کارول کېږي د ۵.۲ بند مطابق چې څومره ژر شوني وي د ۱۵ کاري ورځو په جریان کې د لاندې مواردو په صورت کې اماده کوي:

5.8.1 له هغې نېټې څخه پر کومه چې د اقتصاد عالي شورا د کان سپړنې پروپوزل د ۵.۲ بند مطابق تاییدوي او د کان سپړنې پر پروپوزل د کانونو د قانون د ۲۸(۸) مادې مطابق کوم شرطونه وضع کوي؛ او

5.8.2 هغه نېټه پر کومه چې د تړون لرونکی وزارت ته د اجرا ضمانت د ۵.۷ بند مطابق تسلیموي.

5.9 د ۵.۹ بند سربېره، د تړون لرونکی مني چې، د کانونو قانون د ۴۰(۵) مادې مطابق وزارت ممکن د ګټې اخیستنې جواز تړون لرونکي ته ور نه کړي، مګر دا چې وزارت د هغه شرایطو په اړه چې په دغه تړون او د کانونو په قانون کې ذکر شوي داډه شي.

5.10 دولت باوري کوي چې د سپړنې د جواز له ورکولو ورسته، د نورو ۱۰ کاري ورځو په جریان کې به وزارت:

5.10.1 د سپړنې جواز په "راجستر" کې د قوانینو مطابق ثبتوي؛ او

5.10.2 د کانونو د قانون د ۲۵(۱) مادې مطابق به د ګټې اخیستنې د جواز یوه کاپي خپروي.

## 6 د جواز ساحه

### د ګټې اخیستنې یا استخراج جواز

6.1 د تړون لرونکي مني چې د سپړنې د جواز په تر لاسه کولو سره د سپړنې جواز نوموړي ته اجازه ورکوي تر څو هغه فعالیتونه چې په ۱۰.۱ کې راغلي د جواز په ساحه کې اجرا کړي، منفي هغه ساحې:

6.1.1 د کانونو د قانون د ۳۲(۱) مادې مطابق د تړون لرونکي له خوا وخت پر وخت صرف نظر تری شوی وي؛ او

6.1.2 د کومو په اړه چې د ۶.۲.۲ بند مطابق د کان سپړنې جواز لغوه شوی وي.

6.2 تړون لرونکی دا مني چې د کانونو قانون له ۲۸ (۱۱) مادې سره سم، د ګټې اخیستنې یا استخراج د جواز په ورکولو سره د جواز ساحې ټولې یا کومې برخې ته چې په ۶.۱ بند کې ورته اشاره شوې، د سپړنې یا اکتشافي جواز به:

6.2.1 د کانونو قانون د ۳۱ (۱) مادې په پیروی، جواز د هغې ساحې په اړه چې د ګټې اخیستنې د جواز تابع نه ده؛ د اعتبار وړ وي؛ او

6.2.2 د ګټې اخیستنې جواز د جواز د ساحې د یوې برخې په اړه فسخ شوی وي.

**د ګټې اخیستنې جواز**

6.3 د تړون لرونکی منې چې د جواز په ورکولو سره، جواز تړون لرونکي ته اجازه ورکوي تر څو هغه فعالیتونه چې د جواز په ساحه کې په ۱۱.۱ بند کې ذکر شوي، منفي هغه ساحې چې د تړون لرونکي د کانونو د قانون د ۳۲(۱) مادې مطابق صرف نظر تري کړی وي.

6.4 د تړون لرونکي منې چې د کانونو د قانون د ۳۰(۳) مادې مطابق، دسپړنې ساحه به له هغه اندازې نه پراخه کېږي چې په عادلانه توګه د سپړنې د فعالیتونو د ترسره کولو لپاره اړینه ده.

**دویمه برخه: د پلانونو تسلیمول او تایید**

**7 پلانونه په عمومي ډول**

**وړاندیز شوي پلانونه**

7.1 تړون لرونکی دا منې چې:

7.1.1 تړون لرونکي ته د دغه تړون ورکړه د وړاندیز شوو پلانونو د هغو نسخو پر بنسټ شوې، چې د داوطلبی اسناد رانغاړي؛ او

7.1.2 د وړاندیز شوو پلانونو نسخې چې د تایید لپاره وړاندې شوې باید د وړاندیز شوو پلانونو هغو نسخو ته ورته وي چې د داوطلبی اسناد یکې شامل دي، یوازې د هر ډول هغې بیاکتنې تابع دي چې اړین تعدیلات یکې شامل وي او د تایید د مرجع لخوا وړاندې شوو نظرونو ته ځواب ووایي.

**اړین تایید شوي پلانونه**

7.2 تړون لرونکی منې چې د سپړنې جواز او د ګټې اخیستنې د بل هر جواز په برخه کې یو اړین شرط، د ځمکې د کیندې له پیل څخه مخکې، له باصلاحیت چارواکي څخه د اړوند هر وړاندې شوي پلان تایید تر لاسه کول دي (تر هغې برخې پورې چې ترمخه اړوند تایید شوی چاروکي د کشف یا سپړنې په برخه کې نه وي تایید کړي، څنګه چې د اجرا وړ وي)؛

**تایید شویو پلانونو ته عام لاسرسی**

7.3 د تړون لرونکی منې چې تایید شوي پلانونه به د کانونو د قانون د ۲۵(۶) مادې مطابق د عامه لاسرسي وړ وي.

**د داخلي امنیت پلان**

7.4 د شک د لرې کولو لپاره:

7.4.1 دویمه برخه د داخلي امنیت د کوم پلان په اړه بحث نه کوي؛ او

7.4.2 د داخلي امنیت د پلان تایید او یا هم د داخلي امنیت په تایید شوي پلان کې هر ډول تغیرات د ۳۰ بند په وسیله اداره کېږي.

Ahmad Nabizada LTD Import - Export Kandahar

Islamic Emirate of Afghanistan

## 8 د پلانونو تایید

### د باصلاحیته سرچینې په وسیله ارزونه او تایید

8.1 که چیرته:

8.1.1 د اکتشافي جواز په صورت کې، د داوطلبی پروسې په جریان کې د تړون لرونکي لخوا وړاندې شوی پلان د انفاذ له نیټې څخه مخکې د اړونده تاییدونکي مقام لخوا تایید شوی نه وي؛ یا

8.1.2 د سپړنې د جواز په برخه کې، د سپړنې وړاندې شوی پلان چې تړون لرونکي له خوا د کانونو د قانون د ۲۸(۵) مادې مطابق وړاندې شوی او د اړوند صلاحیت لرونکي تایید شوي مقام له خوا د سپړنې د جواز تر مخه نه وي تایید شوي.

دولت به د انفاذ یا پیل تر نیټې یا د سپړنې له جواز وروسته څومره ژر چې امکان ولري، پلانونه اروزي او تاییدوي (څرنګه چې د اجرا وړ وي)

8.1.3 اړوند تایید شوی مقام به د کانونو د قانون او مقرراتو مطابق وړاندې شوی پلان ارزوي.

8.1.4 که هغه تاییدونکی مقام:

8.1.4.1 د کانونو د قانون مطابق هغه وړاندې شوی پلان تاییدوي، نو دغه تایید شوی مقام باید د تړون لرونکي په لیکلي بڼه خبر کړي (سره د هغو شرایطو چې د تایید پر وخت په پلان باندې وضع شوي)؛ یا

8.1.4.2 د کانونو د قانون مطابق هغه وړاندې شوی پلان تعدیل او یا دغه وړاندې شوي پلان په اړه فیډبک ورکوي، نو دغه تایید شوی مقام باید د تړون لرونکي په لیکلي د پلان له تعدیل او یا فیډبک څخه خبر کړي (څرنګه چې د اجرا وړ وي).

### د تاییدونکي مقام په وسیله غوښتل شوي تعدیلات

8.2 که تاییدونکی مقام تړون لرونکي ته د ۸.۱.۴.۲ بند مطابق خبرتیا خپروي، نو باید:

8.2.1 تړون لرونکی باید پر وړاندې شوي پلان بیا کتنه وکړي او هغه تعدیلات چې مقام یې غوښتنه کړې یا یې مشخص کړي په پلان شامل کړي (څرنګه چې د اجرا وړ وي)؛

8.2.2 د تړون لرونکي باید وړاندې شوی پلان (د هغه بیا کتنې په ګډون چې په ۸.۲.۱ بند کې اشاره ورته شوې) د خبرتیا له تر لاسه کولو وروسته څومره ژر چې شوني وي، وزارت ته بیا تسلیم کړي؛

8.2.3 د ۸.۲.۲ بند مطابق، د وړاندې شوي پلان له تر لاسه کولو وروسته څومره ژر چې شوني وي، دولت باید باوري کړي چې اړوند مقام وړاندې شوی پلان بیا ارزوي او د ۸.۱.۳ او ۸.۱.۴ بندونو د پراونو مطابق د تړون لرونکي ته خبرتیا ورکوي؛ او

8.2.4 هغه پړاونه چې په ۸.۲.۱ او ۸.۲.۳ بندونو کې ورته اشاره شوې (انحصاري)، تر هغه به تکرارېږي چې اړوند مقام د کانونو د قانون مطابق وړاندې شوی پلان تایید کوي.

## 9 د تایید شوو پلانونه بدلول

### د تایید شوي پلان بدلول

9.1 د تړون لرونکي به تایید شوی پلان اپډېټ او بیا وګوري او وړاندې شوی پلان به د تایید شوي پلان پر ځای د استفادې په موخه، کله چې د قوانینو او یا بل اړوند قانون په وسیله غوښتل کېږي، تسلیموي.

9.2 د تړون لرونکی مني چې تړون لرونکی کولای شي د تایید شوي پلان پر ځای د بدیل پلان لپاره غوښتنه وکړي او د مقرراتو مطابق وزارت ته وړاندې شوي پلان (که د ۹.۱ بند مطابق کوم اړوند تغیرات په کې اړین وي یا نه) تسلیم کړي،

**د تاییدوونکي مقام په وسیله ارزونه او تایید**

9.3 دولت باید باوري کړي چې د وړاندې شوي پلان وروسته چې د ۹.۲ مطابق تسلیمیږي، څومره ژر چې شوني وي:

9.3.1 اړوند تایید شوی مقام باید وړاندې شوی پلان د مقرراتو مطابق و ارزوي؛ او

9.3.2 که هغه تاییدوونکی مقام:

9.3.2.1 وړاندې شوی پلان د قوانینو مطابق تاییدوي، تایید شوی مقام باید فورا د تړون لرونکی په لیکلي ډول (وضع شویو شرایطو د جزیاتو سربېره چې پر تایید وضع شوي) د تایید څخه خبر کړي؛ یا

9.3.2.2 که په وړاندې شویو پلانونو کې د قوانینو مطابق تعدیلات غواړي او یا د وړاندې شوي پلان په اړه فیډبک ورکوي، تایید شوی مقام باید تړون لرونکي ته د تعدیلاتو یا فیډبک په اړه بیړنی خبرتیا ورکړي (کوم ډول چې د اجرا وړ وي).

**هغه تعدیلات چې تاییدوونکی مقام یې غوښتنه کوي**

9.4 که کوم تایید مقام د تړون لرونکي ته د ۹.۳.۲.۲ بند مطابق خبرتیا ورکوي، نو د ۸.۲.۱ څخه بیا تر ۸.۲.۴ پورې بندونه (په هر اړخیز ډول) د اړینو بدلونونو سره د پلي کېدو وړ دي.

**دریمه برخه: هغه حقونه چې جواز یې تاییدوي**

**10 هغه حقونه چې د سپړنې جواز یې تاییدوي**

**اجازه لرونکي فعالیتونه**

10.1 د تړون لرونکی منې چې د جواز په ترلاسه کولو سره، د سپړنې جواز اجازه ورکوي تر څو هغه فعالیتونه چې د کانونو د قانون په ۳۴(۱) ماده کې ذکر شوي د جواز په ساحه کې د سپړنې د شرایطو، د دغه تړون او د اړوند قانون مطابق پر غاړه واخلي.

**د نمونو مالکیت**

10.2 د ۱۰.۳ بند په پام کې نیولو سره:

10.2.1 د تړون لرونکي باید د سپړنې د جواز د اعتبار د مودې د ختمېدو، د کان سپړنې د پرېښودو یا د تړون د لغوه کېدو پر مهال د کانونو د قانون د ۲۴(۳) مادې مطابق د ټولو منرالونو او کاني ډبرو نمونې جیولوژیکي سروې ته چمتو کړي.

10.2.2 تړون لرونکي به د دغه تړون د مودې د ختمېدو، پرېښودو یا لغوه کېدو پر مهال د ټولو منرالونو او کاني ډبرو د نمونو مالکیت دولت ته سپاري.

10.3 د کانونو قانون له ۱۰.۲ بند او ۲۴ (۳) مادې سره سره:

10.3.1 تړون لرونکی اړ نه دی، چې د جیولوژیکي سروې لپاره د منرالونو نمونې، د کاني ډبرو یا اکتشاف معلومات چمتو کړي؛ او

10.3.2 دولت به د کانونو د نمونو، د کاني ډبرو یا اکتشافي معلوماتو مالکیت نه غواړي،

تر هغه حده چې دا ډول منرالي یا کاني نمونې، د کاني ډبرو معلومات یا اکتشافي معلومات د جواز د ساحې په هرې برخې پورې اړه لري چې د استخراج د جواز په ورکولو کې لغوه کیږي، لکه څنګه چې ۶.۲.۲ بند ته په پام سره دي.

## 11 د سپړنې د جواز په وسیله تایید شوي حقوق

### اجازه لرونکي فعالیتونه

11.1 د تړون لرونکی منې چې د جواز په تر لاسه کولو سره، د سپړنې جواز اجازه ورکوي تر څو هغه فعالیتونه چې د کانونو د قانون په ۳۴ (۳) ماده کې ذکر شوي د جواز په ساحه کې د سپړنې د شرایطو، د دغه تړون او د اړوند قانون مطابق پر غاړه واخلي.

### د منرالونو مالکیت

11.2 د ۱۱.۴ بند په متابعت، ټول هغه منرالونه چې د سپړنې د جواز د شرایطو مطابق را ایستل شوي (که په هر شکل یا تولید په بڼه وي) د کانونو د قانون د ۱۵(۲) مادې مطابق د تړون لرونکي ملکیت دئ او د هغو منرالونو مالکیت چې جواز د ساحې له تفکیک ورسته تر لاسه شوي دي او د دولت له خوا تړون لرونکي ته ورکړل شوي.

11.3 د تړون لرونکي باید د سپړنې جواز د اعتبار د مودې د ختمېدو، د کان سپړنې د پرېښودو یا د تړون د لغوه کېدو پر مهال د کانونو د قانون د ۲۴(۳) مادې مطابق د ټولو منرالونو او کاني ډبرو نمونې جیولوژیکي سروې ته چمتو کړي.

11.4 تړون لرونکي به د ګټې اخیستنې د دغه تړون د مودې د ختمېدو، پرېښودو یا لغوه کېدو پر مهال د ټولو منرالونو او کاني ډبرو د نمونو مالکیت دولت ته سپاري.

## څلورمه برخه: د جواز شرطونه

## 12 د سپړنې د جواز شرطونه

### شرطونه

12.1 د تړون لرونکي باید د سپړنې د جواز د شرایطو سره مطابقت وکړي، د هغو شرطونو په ګډون چې په لاندې ځایونو کې ځانګړي شوي:

12.1.1 د کانونو د قانون ۳۵(۲) ماده؛

12.1.2 د دغه تړون د لومړي جدول دویمه برخه: (د نورو خینو اضافي شرطونو په ګډون چې د تړون لرونکي یې باید د کانونو د قانون د ۳۵(۲)(۲) مادې مطابق، مطابقت وکړي)، او

12.1.3 د مقرارتو ۲۵ ماده.

### د سپړنې د تایید شوي پروګرام بدلون

12.2 تړون لرونکی کولی شي د اکتشاف د منل شوي پروګرام د بدلون لپاره وزارت ته د وړاندیز شوي او تعدیل شوي اکتشافي پلان په وړاندې کولو سره غوښتنه وکړي.

12.3 د تړون لرونکي منې چې د کانونو د قانون د ۳۳(۲) مادې په تعقیب، هغه نوسان چې د ۱۲.۲ بند مطابق د کان کېدنې د تخنیکي کمېټې او د اقتصاد د عالي شورا د تایید څخه مخکې غوښتل شوی، وزارت ممکن رد او یا هم تایید کړي.

12.4 دولت باید باوري کړي چې وزارت به ډېر زر تړون لرونکي ته په لیکلي ډول د بدلون د غوښتنې د تایید یا رد خبر ورکوي.

### د سپړنې د تایید شوي پروګرام خپرول

12.5 د تړون لرونکي منې چې د کانونو د قانون د ۲۵(۶) مادې په تعقیب، د سپړنې د تایید شوي پروګرام یوه کاپي به د مقراراتو مطابق په عام ډول د لاسرسي وړ وي.

## 13 د سپړنې د جواز شرطونه

**شرطونه:**

13.1 تړون لرونکی باید د سپړنې د پروګرام د شرایطو سره مطابقت وکړي، د هغو په ګډون چې په لاندې ځایونو کې روښانه شوي:

13.1.1 د کانونو د قانون ۳۵(۳) ماده؛

13.1.2 د دویم جدول لومړی برخه: د دغه تړون (د ځینو نورو اضافي شرطونو په ګډون چې د تړون لرونکی یې باید د کانونو د قانون د ۳۵(۳)(۱) مادې مطابق، مطابقت وکړي)، د کان ایستنې د اړوندو هغو شرایطو په ګډون چې چې د یوه جواز له لارې د اقتصاد عالي شورا د کانونو قانون د ۲۸(۸) مادې له مخې ټاکلی؛ او

**د کان سپړنې د تایید شوي وړاندیز بدلون**

13.2 تړون لرونکی کولی شي له وزارت څخه د وړاندیز شوي او تعدیل شوي کان کیندنې وړاندیز په وړاندې کولو سره د تایید شوي کان کیندنې وړاندیز د بدلون لپاره غوښتنه وکړي.

13.3 د تړون لرونکي منې چې د کانونو د قانون د ۳۳(۲) مادې په تعقیب، هغه نوسان چې د ۱۳.۲ بند مطابق د کان کېدنې د تخنیکي کمېټې او د اقتصاد د عالي شورا د تایید څخه مخکې غوښتل شوی، وزارت ممکن رد او یا هم تایید کړي.

13.4 دولت باید باوري کړي چې وزارت به ډېر زر تړون لرونکي ته په لیکلي ډول د بدلون د غوښتنې د تایید یا رد خبر ورکوي.

**د کان کیندنې د تایید شوي پروپوزل خپرول**

13.5 تړون لرونکی منې چې د کانونو د قانون د ۲۵(۶) مادې په تعقیب، د کیندنې د تایید شوي پروپوزل یوه کاپي به د مقرراتو مطابق په عام ډول د لاسرسي وړ وي.

**پنځمه برخه: مالي قوانین**

## 14 د سطحې کرایه

14.1 صرف نظر له دې چې د سطحې کرایه دولت، مالک او یا هم د جواز د ساحې د یوې برخې مستاجر ته تادیه کېږي، د تړون لرونکی باید دولت ته د سطحې کرایه د مقرارتو د [۴۶] مادې مطابق تادیه کړي.

14.2 د تړون لرونکی منې، که د جواز د ساحې د یوې برخې د سطحې کرایه د سطحې مالک یا مستاجر ته د تادیې وړ وي، اړوند مقدار به د تړون لرونکي په وسیله وزارت ته تادیه کېږي (څرنګه چې په ۱۴.۱ بند کې په پام کې نیول شوي) او بیا به د وزارت له خوا د سطحې مالک یا مستاجر ته د مقراراتو د ۴۶ (۲) مادې مطابق لېږل کېږي.

## 15 فیسونه

15.1 تړون لرونکی باید وزارت ته د مقرراتو د [۴۷] مادې مطابق وزارت ته فیسونه تادیه کړي.

## 16 د امتیاز حق

**د امتیاز د حق مکلفیت**

16.1 تړون لرونکی باید دولت ته د هر ټن ګچ په مقابل کې ۳۵ افغانی رویالټي ورکړي

16.2 تړون لرونکی باید دولت ته د هر ټن ګل رس په مقابل کې ۳۵ افغانی رویالټي ورکړي

16.3 تړون لرونکی باید دولت ته د هر ټن سنګ چونه په مقابل کې ۳۵ افغانی رویالټي ورکړي

**د خپلواک متخصص لګښتونه**

16.4 تړون لرونکی منې چې:

16.4.1 د خپلواکو متخصصانو د ونډې اخیستلو د هر ډول لګښتونو مسوولیت د مقررې د ۴۱ (۷) مادې له مخې په دې پروسه کې د تړون لرونکې پر غاړه دی؛ او

16.4.2 د مقرراتو له پنځم مهالویش سره سم، وزارت ممکن دا غوښتنه وکړي چې:

16.4.2.1 تړون لرونکی د خپلواک متخصص فیسونه او لګښتونه مستقیم هماغه خپلواک متخصص ته ورکړي؛ یا

16.4.2.2 تړون لرونکی د خپلواک متخصص ټول هغه فیسونه او لګښتونه چې د وزارت لخوا ورکړل شوي، د اړوندو رسیدونو د کاپي په ترلاسه کولو سره بیرته تادیه کړي.

16.5 که وزارت د مقرراتو له ۴۱ مادې سره سم یو خپلواک متخصص یا کارپوه استخدام کړي، نو:

16.5.1 وزارت کولی شي د خپلواک متخصص له ښکیلتیا وروسته هر وخت د تړون ښښتن ته په لیکلي ډول له خبرتیا ورکولو سره غوښتنه وکړي چې د تړون ښښتن وزارت ته د خپلواک متخصص له مجموعي اټکل شوو فیسونو او لګښتونو سره مساوي پیسې ورکړي (لکه څنګه چې د خپلواک متخصص د ښکیلتیا په شرایطو کې مشخص شوي یا په بل ډول د وزارت لخوا په معقول ډول ټاکل شوي وي)؛ او

16.5.2 که وزارت د ۱۶.۳.۱ بند مطابق تړون لرونکي ته خبرتیا ورکړي، نو:

16.5.2.1 تړون لرونکی باید وزارت ته د خبرتیا له نیټې وروسته تر ۳۰ کاري ورځو پورې هغه پیسې ورکړي چې په دې خبرتیا کې په ګوته شوې دي؛

16.5.2.2 د ۱۶.۳.۲.۱ فقرې مطابق د تړون ښښتن له خپلو مکلفیتونو سره د موافقت تابع دی، وزارت باید د خپلواک متخصص ټول فیسونه او لګښتونه د خپلواک متخصص د ښکیلتیا له شرایطو سره سم د ۱۶.۳.۲.۱ بند مطابق د تړون لرونکي لخوا تادیه شوي مقدار پورې ورکړي؛ او

16.5.2.3 که د خپلواک متخصص ټول فیسونه او لګښتونه:

(الف) د ۱۶.۳.۲.۱ بند مطابق د تړون لرونکي لخوا له تادیه شوي مقدار څخه ډیر وي، نو بیا تړون لرونکی له مقرراتو سره سم د دغو فیسونو او لګښتونو د توازن مسؤل دی؛ یا

(ب) د ۱۶.۳.۲.۱ بند مطابق د تړون د ښښتن لخوا له تادیه شوي مقدار څخه کم وي، نو دولت باید داډ حاصل کړي چې وزارت د خپلواک متخصص د فیسونو او لګښتونو د وروستي بیان د ترلاسه کولو له نیټې څخه وروسته ژر تر ژره د دغو پیسو بیلانس د تړون ښښتن ته بیرته ورکړي.

## 17 مالیات

### مالیات په عمومي ډول

17.1 د ۱۷.۲ بند مطابق تړون لرونکي او د هغه ټول استازي مسوول دي تر څو د اړوند قانون مطابق ټول مالیات او تعرفې تادیه کړي.

### معافیتونه

17.2 د تړون اړخونه مني چې، د کانونو د قانون د ۴۸(۱) مادې مطابق د تړون لرونکی د خمکې د مالیې د تادیې مسوولیت نه لري ځکه هغه یوازې جواز لرونکی دی.

### د سپرنې د صنعت په شرایطو پوره مالیه ورکوونکې

17.3 د تړون په ورکولو سره د سپرنې تړون لرونکې، پر عاید د مالیاتو د قانون د ۱۲م څپرکي مطابق، د سپرنې د صنعت په شرایطو پوره مالیه ورکوونکو کې شاملیږي.

**د مالیاتي د فورمونو ترتیب او تسلیمول**

17.4 د تړون لرونکی باید خپله بیلانس پاڼه او د هر کال نور مالي راپورونه د مالیاتو د قانونو د محاسبې د معیارونو مطابق ترتیب کړي.

17.5 څومره ژر چې شوني وي، د کلنیو مالي راپورونو له ترتیب ورسته باید د تړون لرونکي د هر کال مالي راپورنه د لاسرسي وړ وي، مګر د راتلونکي مالي کال له پیل څخه به تر شپږو میاشتو ها خوا نه ځنډیږي، تړون لرونکي باید وزارت ته د خپلې پانګون پلان د غوره صنعت رویه (Best Industry Practice) د فارمټ مطابق وسپاري.

17.6 د هر کال مالي راپورنه باید لاندې اسناد له ځان سره ولري:

17.6.1 د ټولو ښکېلو اړخونو سره د تړون لرونکي د ترسره شویو معاملو لېست، چې په دغو مالي راپورنو کې غبرګون ورکړل شوی، او د هرې معالې په برخه کې لاندې موضوعات روښانوي:

17.6.1.1 اړوند ښکېل لوری؛

17.6.1.2 د معاملې اندازه؛

17.6.1.3 د معاملې ماهیت؛ او

17.6.1.4 او دا چې آیا معامله د تړون لرونکي او بل هر ښکېل لوري تر منځ د هوکړه شوي قیمت په اثر رامنځ ته شوې یا نه؛ او

17.6.2 یو تاییدي سند چې د تړون لرونکي د مشر مالي مدیر (یا یې هم رتبه) په وسیله لاسلیک شوی وي او تاییدوي چې د دغه کال په جریان کې:

17.6.2.1 تړون لرونکی د دغه تړون او مالیاتو د قانون د غوښتونو سره په مطابقت کې وو؛

17.6.2.2 هغه توکي او خدمات چې د بیې د معتبر هوکړه لیک پر بنسټ د تړون لرونکي او بل هر اړخ ترمنځ تبادله شوي، د تړون لرونکي چې کومې بیې تادیه کړې د ترسره شوي هوکړه لیک د معیارونو مطابق محاسبه شوي دي؛ او

17.6.2.3 هغه توکي یا خدمات چې د تړون لرونکي او بل اړوند لوري تر منځ په معامله کې پلورل شوي او یا اماده شوي او د کوم هوکړه لیک په وسیله نه دي پوښل شوي، په اړونده دوره کې د دوی قیمتونه د مالیاتو د قانون مطابق محاسبه شوي دي.

17.7 د تړون لرونکي باید د هرې معاملې معاصر اسناد چې د تړون لرونکي او اړوند اړخ تر منځ تبادله شوي وساتي، اسناد به د معاملو د بیو شواهد او د مالیاتو د قانون سره مطابقت وښیي.

**پر معاشاتو موضعي مالیه**

17.8 د تړون لرونکی باید پر عایداتو د مالیاتو د قانون او د نورو اړوندو قوانینو چې له ده څخه د معاشونو د مالیاتو د ورکړې غوښتنه کوي پیروي وکړي، تول هغه تادیات چې کوم شخص (که دلته استوګن وي یا نه وي) د فزیکي اشخاصو او شرکتونو په ګډون او یا کارکوونکو یا هم تړون لرونکي یا د هغو اړوندو اړخونو ته کیږي، باید مالیات یې وګرخول شي.

## 18 ګمرکي تعرفې

**د تړون لرونکي حقونه**

18.1 د ۱۸ بند مطابق د تړون لرونکي د پیروی او د نوموړي د مسولیتونو په پام کې نیولو سره، تړون لرونکي او د هغه استازي ممکن:

18.1.1 د ۳۱ بند څخه په مطابعت، پرزې، توکي، مواد، سون توکي او تجهیزات او ممکن نور اړین او حتمي شیان چې د کان سپړنې د فعالیتونو لپاره اړین دي را وارد کړي؛ او

18.1.2 د ۳۵ بند څخه په پیروی، هر تولید په هر وخت کې صادر کړي.

**د تړون لرونکي مسولیتونه**

18.2 د کاني سپړنې د فعالیتونو په ترسره کولو کې باید تړون لرونکي د ګمرکي تعرفو د قانون او د وارداتو او صادراتو په برخه کې د نورو تولو اړوندو قوانینو څخه پیروي وکړي.

18.3 د ۱۸.۲ بند له محدودلو پرته، تړون لرونکی باید ګمرکي تعرفې، مالیات، خسارې او نور ورته لګښتونه چې د اړوند قانون په وسیله د توکو د صادراتو او وارداتو په برخه کې (د تولید په ګډون) وضع کېږي، تادیه کړي.

**د دولت مسولیتونه**

18.4 د تړون لرونکي له خوا د تړون د شرطونو څخه متابعت او تولو اړوندو قوانینو ته په کتو (د شک د لرې کولو په ګډون، ۳۵ بند)، دولت باید باوري کړي چې اړوندې ادارې د تړون لرونکي له خوا د تولو وارداتو او صادراتو د داخلېدو، تصفیې، تایید او کاروني اسانتیاوې برابروي.

**19 دولت ته تادیات**

**د تادیاتو مېتود**

19.1 تول هغه تادیات چې د تړون لرونکي له خوا دولت ته د دغه تړون، د کانونو د قانون او مقرراتو په سبب کېږي. باید په هغه بڼه ترسره شي چې د مقرراتو په ۴۸ ماده کې ورته اشاره شوې.

**کسر/ کمښت**

19.2 د تړون لرونکی باید تول هغه تادیات چې د دغه تړون، د کانونو د قانون او مقرراتو په سبب یې کوي، پرته له کوم مالیاتي یا بل کمښت تادیه کړي، مګر دا چې دغه کسر/ کمښت د اړوند قانون په وسیله غوښتل شوی یا اجازه ورکړل شوې وي.

**په تادیاتو کې پاتې راتلل**

19.3 که د تړون لرونکی په اړونده نېټه د سطحې د کرایې، فیس، امتیاز حق او نورو تادیاتو په تادیه کې چې د دغه تړون، د کانونو د قانون او مقرراتو پر اساس کېږي، پاتې راشي، پرته د کوم اړوند قانون د محدودولو، ناتادیه شوی مقدار (په شمول د مقرراتو مطابق هر ډول وضع شوې جریمې) دا پور بلل کېږي او باید د تړون لرونکي له لوري دولت ته تحویل شي.

**معاوضه**

19.4 هغه مقدار تادیات چې دولت ته د سطحې د کرایې، فیس یا رویالتي په توګه د دغه تړون او د کانونو د قانون او مقرراتو مطابق تادیه کېږي، که په اړوند تاریخ نه وي تادیه شو، دولت ممکن د هغو تادیاتو سره چې د دولت له خوا تړون لرونکي ته د دغه تړون او د کانونو د قانون او مقرراتو مطابق تادیه کېږي، معاوضه کړي، په دغه شرط چې د معاوضې هر ډول اندازه به د ۱۹.۴ بند مطابق نور پور نه ورکوي او د تړون لرونکي لهخوا به ورکول کېږي.

19.5 د شک لرې کولو لپاره، په دغه شرط چې د معاوضې هر ډول اندازه به د ۱۹.۴ بند مطابق نور پور نه ورکوي او د تړون لرونکي لهخوا به ورکول کېږي.

**20 د بهرونی پولي واحد تادیه او مثل**

**بانکي حسابونه**

20.1 د تړون لرونکی کولای شي بانکي حسابونه پرانیزي او په هغه کې پیسې وساتي:

20.1.1 د دولت په قلمرو کې په افغانیو یا ډالرو؛ او

20.1.2 د دولت څخه د باندې د بهروني پولي واحد په بڼه.

**د بهرنيو پيسو تبادله**

20.2 ټول هغه تاديات چې د دغه تړون پر اساس کېږي بايد په افغانيو يا ډالرو وي.

20.3 که د دغه تړون پر اساس کوم تاديات په ډالر روښانه شوي وي او په افغانيو ترسره کېږي، نو هغه مقدار چې طلب دئ د تادياتو په ورځ به د ورځې د تبادلې د نرخ مطابق پر افغانۍ بدلېږي.

20.4 که د دغه تړون پر اساس کوم تاديات په افغانيو روښانه شوي وي او په ډالرو ترسره کېږي، نو هغه مقدار چې طلب دئ د تادياتو په ورځ به د ورځې د تبادلې د نرخ مطابق پر ډالر بدلېږي.

**واردات او د وجوهاتو تصفيه**

20.5 د تبادلې د هر عام وضع شوي کنټرول څخه په اطاعت سره، چې په بې طرف ډول د بيړني مالي حالت په صورت کې وضع کېږي:

20.5.1 د تړون لرونکی ممکن:

20.5.1.1 وجوهات ترلاسه کړي، و بې ساتي او وجوهات په داسې ډول، پولي واحد او يا ځايونو کې تصفيه کړي چې تړون لرونکي يې په خپله مطلقه پوه تاکي؛ او

20.5.1.2 او د ۲۰.۵.۱.۱ بند له محدودولو پرته ممکن په آزاد ډول:

(أ) هغه ټولې اړينې بودجې افغانستان ته واردې کړي، چې د پروژې د فعاليتونو لپاره ورته اړتيا لري؛ او

(ب) له افغانستان څخه بېرون پيسې ولېږي، بېرته خپل تاتوبي ته وګرځي او ټولې پيسې مصرف کړي (د ټولو عوايدو په شمول چې په افغانستان کې يې له پلور، تبادلې او توليداتو د صادرولو څخه ترلاسه کړي)؛ او

20.5.2 د پيسو ټولې حوالې او تاديات چې د تړون لرونکي له خوا د هېواد له بهر څخه د ننه او يا له د ننه څخه بهر ته کېږي، له هر ډول مستقيمي او نا مستقيمي جريمې او محدوديت څخه خوندي دي.

## 21 مالي راپور ورکونه او محاسبه

**مالي راپور ورکول**

21.1 د تړون لرونکی بايد د مالي راپورنو د ورکولو او د تاييد د ټولو معيارونو چې د داخلي او بېرونيو شرکتونو لپاره د پلي کېدو وړ دي، مطابقت وکړي؛ که په افغانستان کې تر اړوند قانون لاندې د پلي کېدو وړ وي.

**محاسبه**

21.2 د دغه تړون پر اساس، د تړون لرونکي د محاسبې ټول سيستم بايد په افغانيو ثبت شوی وي.

**شپږمه برخه: نور حقوق او مسووليتونه**

## 22 خانګړي شرايط

22.1 اړخونه بايد د خانګړو شرايطو (که کوم يو يې) په ۴ جدول کې ذکر شوی وي، پېروي وکړي.

## 23 د کان سپړنې د فعاليتونو عمومي لاربښوونه

23.1 تړون لرونکی به، د اړوند قانون مطابق، د کان سپړنې فعاليتونه په خورا احتياط سره تر سره کوي او د منل شوي کاري عرف (Best Industry Practice) د معيارونو مطابق به د کان سپړنې فعاليتونه ترسره کوي (بايد اړين اقدامات ترسره کړي تر څو د ددولت او يا هم د دريم لوري ملکيت ته د جواز په ساحه کې تاوان و نه رسېږي).

## 24 بيمه

24.1 د تړون لرونکی به د اړوند قانون مطابق:

24.1.1 د تړون د مودې لپاره اړينه بيمه اجراء او ساتي؛

24.1.2 د اړینې بیمې په برخه کې به هغه کړنه نه ترسره کوي یا به څه تړي نه حذفوي، کوم چې ممکن بیمه بې ګټې یا لغوه کړي؛ او

24.1.3 وزارت ته به د لاندې مواردو په صورت کې فورا خبر ورکوي:

24.1.3.1 هره هغه پېښه چې اړینه بیمه بې ګټې، لرې او یا لغوه کړي؛ یا

24.1.3.2 هره هغه ادعا چې د اړینې بیمې په برخه کې د کان سپړنې د فعالیتونو په تړاو تر سره شوې.

## 25 بشري حقوق

### عمومي اصول

25.1 د تړون لرونکي د ټولو هغه افرادو د بشري حقونو د خوندیتوب ژمنه کوي چې له پروژې څخه اغېزمن کېږي؛ هغه حقوق چې په لاندې ځایونو کې راغلي:

25.1.1 د ملګرو ملتونو د ۱۹۴۸ کال د بشري حقوقو اعلامیه؛

25.1.2 د مدني او سیاسي حقوقو په اړه نړیوال میثاق؛

25.1.3 د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقوقو په اړه نړیوال میثاق؛ او

25.1.4 اړوند قانون.

25.2 د ۲۵.۱ بند له محدودیت پرته، د تړون لرونکي باید خپلې پوره هڅې وکړي تر څو د دولت او ځایي ټولنې سره همکاري او مشورې وکړي او باوري کړي چې تړون لرونکي په ۲۵ بند کې خپل ذکر شوي مسولیتونه په پوره توګه تر کومې کچې چې شوني وي تر سره کوي.

### د تړون لرونکي مسوولیتونه

25.3 تړون لرونکی به:

25.3.1 د ځایي ټولنې حقوق، دودونه او عنعنات پېژني او درناوی به یې کوي؛

25.3.2 داډ به ورکوي چې د دوی عملیاتي پالیسي ګانې او لارښودونه د بشري حقوقو په برخه کې د دوی مسولیت منعکسوي، په شمول د هغه مسولیت چې د کان سپړنې له فعالیتونو څخه د را پیدا شوو ناوره پېښو د مخنیوي په برخه کې یې لري او د غه پېښې د انساني حقوقو ضد وي؛ او

25.3.3 څومره ژر چې شوني وي، د هغه پېښې مخنیوی به کوي چې د کان سپړنې له فعالیتونو رامنځ ته کېږي او پر انساني حقوقو منفي اغېز کوي، د لاندې مواردو په ګډون (چې څه ډول مناسب وي):

25.3.3.1 د منفي اغېزو قرباني ته کافي خساره ورکول یا بله مناسبه حل‌لاره لټول

25.3.3.2 د منفي اغېزو د علت لرې کول یا تغیر ورکول تر څو د عین ډول اضافي منفي اغېزو سبب نه شي؛ او

25.3.3.3 د عملیاتي پالیسو او لارښودونو بیاکتنه تر څو د دغسې پېښو د بیا پېښېدو مخنیوی به کوي، یا د منفي اغېز د سبب حذف کول؛ او

25.3.3.4 نورې ورته کړنې تر څو په راتلونکي کې د ورته پېښو د منفي اغېز مخنیوی وکړي.

## 26 د رشوت او د اداري فساد ضد کړنې؛ روڼتیا

### عمومي مسولیتونه

26.1 د تړون لرونکي تصدیقوي چې هغه د ټولو اړوندو قوانینو تابع دی، او د کانونو ټول فعالیتونه به د اړوندو قوانینو مطابق او د رشوت او فساد په برخه کې د اړوندو قوانینو مطابق، او د کانونو قانون د ۱۳ مادې په مطابق ترسره کوي.

**د ګټو د مالکيت په برخه کې بدلون يا قابليت**

26.2 د کانونو د قانون د ۳۵(۲)(۳) او ۳۵(۳)(۲) مادې مطابق (څنګه چې د پلي کېدو وړ وي)، د تړون لرونکی بايد څومره ژر چې شوني وي، د ګټو د مالکيت د بدلون په صورت کې وزارت ته په ليکني بڼه خبر ورکړي، خبر بايد د ګټو د مالکيت د بدلون د رامنځ ته کېدو له نېټې څخه وروسته د ۵ کاري ورځو په جريان کې ورکړل شي.

26.3 که تړون لرونکي د کانونو د قانون د ۱۷.۱ مادې مطابق و نه شي کولای د جواز قابليت وساتي، د کانونو د قانون د ۱۷(۳) مادې له محدودولو پرته، بايد څومره ژر چې شوني وي وزارت ته په ليکلي ډول، د جواز د ساتنې د قابليت د له لاسه ورکولو وروسته، د ۷ کاري ورځو په جريان کې خبر ورکړي.

**د استخراجي صنايعو د روڼتيا نوښت (EITI)**

26.4 تړون لرونکی تصديقوي، چې د انفاذ د نېټې په څېر، دولت د کان سپړنې د صنايعو د روڼتيا د نوښت کانديد هېواد دی او د ۲۰۱۶ کال د کان سپړنې د صنايعو د روڼتيا د نوښت د معيارونو د پلي کولو اراده لري.

26.5 که وزارت يې اړينه وبولي نو تړون لرونکی بايد ټول اړين اقدامات وکړي تر څو د EITI پر يوه ملاتړ کوونکي شرکت بدل شي.

**27 چاپېريال**

**عمومي مسوليتونه**

27.1 تړون لرونکی بايد د چاپېريال په اړ د اړوندو قوانينو رعايت وکړي، په شمول د:

27.1.1 د کانونو د قانون ۱۱ څپرکی؛

27.1.2 د مقرراتو [۸] څپرکی؛ او

27.1.3 د چاپېريال قانون.

**د چاپېربال د مديريت له پلان سره مطابقت**

27.2 تړون لرونکی منې چې د سپړنې د جواز او د ګټې اخيستنې د جواز او بل هر اقدام يو شرط د هغو شرطونو منل دي د چاپېريال پر پلان وضع شوی او نوموړی يې رعايت کوي.

**د چاپېريال اجازه**

27.3 د تړون لرونکي منې چې د سپړنې د جواز او د ګټې اخيستنې د هر جواز يو شرط دغه دی چې تړون لرونکی به:

27.3.1 له جواز سره سم د ځمکې د ګډوډولو کار تر پيل دمخه د چاپېريال جواز ترلاسه کوي؛ او

27.3.2 د هغو شرطونو پيروي به کوي چې پر چاپېريالي پلان باندې وضع شوي دي

**28 کارګران**

28.1 تړون لرونکی به د کارګرو د قانون پيروي کوي، په شمول دي:

28.1.1 د کار قانون؛ او

28.1.2 د کار د نړيوال سازمان تر چتر لاندې د کارګرو ټول نړيوال منل شوي معيارونه کوم چې دولت په کې يو اړخ دی.

## 29 روغتیا او خوندیتوب

**عمومي مسولیتونه**

29.1 د تړون لرونکي باید د هغو کسانو په برخه کې چې کان سپړنې په فعالیتونو کې ښکېل دي، د خوندیتوب او روغتیا د پلان پیروي کوي، په شمول د:

29.1.1 د کانونو د قانون ۱۳ څېرکی؛ او

29.1.2 د مقرارتو [۷] څېرکی.

**د خوندیتوب او د روغتیا د پلان پیروي**

29.2 د تړون لرونکی مني چې د سپړنې د جواز، د سپړنې د هر جواز او د بل هر اقدام یو اړین شرط د هغوشرطونو پیروي ده چې د روغتیا او د خوندیتوب پر تایید شوي پلان وضع شوي.

## 30 داخلي امنیت

**د داخلي امنیت له تایید شوي پلان څخه پیروي**

30.1 د تړون لرونکي مني چې، د مقرراتو د ۸۴(۲) مادې په تعقیب به تړون لرونکي د داخلي امنیت پلان تسلیموي او تایید به یې د سپړنې د جواز او د سپړنې د جواز په تعقیب، د څمک - کېندنې له پیلولو څخه مخکې تر لاسه کوي:

30.2 تړون لرونکی به:

30.2.1 د داخلي امنیت پلان په خپل لګښت پلی کوي؛

30.2.2 د ټولو اقداماتو او هغو شرطونو مطابقت کوي چې د داخلي امنیت په تایید شوي پلان وضع شوي؛

30.2.3 د ۳۰.۲.۱ بند له محدودلو پرته، تر هغې کچې پورې چې د تصویب شوي داخلي امنیت پلان یا بل ډول د پلی کېدونکو قوانینو لهخوا اړین دي:

30.2.3.1 تړون لرونکي کولای شي د APPF سره د داخلي امنیت د تایید شوي پلان مطابق د کارکوونکو د روزنې په برخه کې تړون لاسلیک کړي؛

30.2.3.2 تړون لرونکي به د ټولو هغو خدمتو لګښت تادیه کوي چې د APPF په وسیله وراندي شوي.

**د مسؤلیت محدودیت**

30.3 په دې تړون کې له نورو څیزونو سره سره، تړون لرونکی د دغه تړون مطابق د APPF د هر هغه عمل یا پاتې کیدو لپاره کوم مسؤلیت نه لري، چې د تصویب شوي کورني امنیت پلان څخه سرغړونه کوي یا دا چې په بل ډول له کوم اړوند قانون سره متناقض وي.

**د امنیتي خطر ارزونه**

30.4 تړون لرونکی باید یو وړ او په شرایطو پوره درېیم کس وګوماري تر څو د جواز په ساحه کې د سپړنې د جواز له انفاذ یا پیل وروسته څومره ژر چې شوني وي، د خطر ارزونه ترسره کړي، د خطر په ارزونه کې لاندې هر اړخیزه ارزونه شامله ده:

30.4.1 امنیتي خطرونه، د تاوتریخوالي کچه، بشري حقوق، د قانون حاکمیت، د کړکېچ تجزیه او د تجهیزاتو لېږد؛ او

30.4.2 د لاندې مواردو لپاره د اړین امنیتي پرسونل شمېر:

Ahmad Nabizada LTD Import - Export Kandahar Afghanistan
Islamic Emirate of Afghanistan

30.4.2.1 د پروژې په اوږدو کې، د جواز په ساحه کې د امنیت ساتل

30.4.2.2 د ټولو هغو کسانو ساتنه باوري کړي چې د تړون لرونکي له خوا یا د هغه په استازیتوب د پروژې په برخه کې ګومارل شوي دي

**د داخلي امنیت د پلان تایید**

30.5 تړون لرونکی به:

30.5.1 وزارت ته د امنیتي خطر د ارزونې راپور چې تړون لرونکي د ۳۰.۴ بند مطابق پر غاړه اخیستی او د ارزونې بشپړ جزیات به لري، وزارت ته تسلیم کړي

30.5.2 دا داخلي امنیت پلان چې وزارت ته د داوطلبۍ د پروسې په جریان کې استول شوی، د وزارت سره په مشوره او څومره ژر چې د ۳۰.۴ بند مطابق د خطر د ارزونې له ترسره کولو وروسته شونې وي، باید بیا کتنه وکړي؛ او

30.5.3 د داخلي امنیت بیا کتل شوي پلان وزارت ته د تایید لپاره تسلیم کړي.

30.6 دولت باید باوري کړي، د داخلي امنیت بیا کتل شوی پلان چې وزارت ته د تایید لپاره د ۳۰.۵ بند مطابق استول شوي، هر څومره زر چې کېږي تایید کړي:

30.6.1 وزارت به د مقرراتو مطابق د داخلي امنیت لپاره د وړاندې شوی پلان ارزونه ترسره کوي؛ او

30.6.2 که چېرته وزارت:

30.6.2.1 د مقرراتو د ۸۵(۱) مادې مطابق د داخلي امنیت پلان تاییدوي، وزارت زر تر زره تړون لرونکي ته په لیکلي ډول (سره د هغو شرطونو چې پر تایید وضع شوي) د تایید خبرتیا ورکړي.

30.6.2.2 د مقرراتو د ۸۵(۱) مادې مطابق په وړاندې شوي پلان کې د تعدیلاتو غوښتنه کوي او یا د وړاندې شوي پلان په اړه فیډبک ورکوي، وزارت باید زر په زره په لیکلي ډول د دغه ډول تعدیلاتو یا فیډبک په اړه تړون لرونکي ته خبر ورکړي (د شونتیا په صورت کې).

30.7 که وزارت تړون لرونکي ته د ۳۰.۶.۲.۲ بند مطابق خبرتیا خپروي، نو باید:

30.7.1 تړون لرونکي باید د داخلي امنیت وړاندې شوي پلان تعدیل کړي او د وزارت د فیډبک یا غوښتنې مطابق تعدیلات په کې ترسره کړي (څرنګه چې د پلې کېدو وړ وي)؛

30.7.2 تړون لرونکي باید داخلي امنیت پلان (په شمول د هغو تعدیلاتو چې په ۳۰.۷.۱ بند کې اشاره ورته شوې) د خبرتیا له تر لاسه کولو وروسته څومره ژر چې شونې وي، وزارت ته تسلیم کړي؛

30.7.3 د داخلي امنیت د وړاندې شوي پلان له تر لاسه کولو وروسته چې د ۳۰.۷.۲ بند مطابق وزارت ته سپارل شوی، دولت باید باوري کړي چې وزارت وړاندې شوی پلان زر تر زره بیا ارزوي او په دې اړه تړون لرونکي ته د هغه پړاونو مطابق چې په ۳۰.۶.۱ او ۳۰.۶.۲ بند ذکر شوي، لیکلی خبر ورکوي؛ او

30.7.4 هغه پړاونه چې له ۳۰.۷.۱ څخه تر ۳۰.۷.۳ بند پورې ذکر شوي (په هر اړخیز ډول)، تر هغه وخت به تکرارېږي تر څو چې وزارت د داخلي امنیت اړوند وړاندې شوی پلان د مقرراتو د ۸۵ مادې مطابق تاییدوي.

**د داخلي امنیت د تایید شوي پلان تعویض**

30.8 تړون لرونکی به د داخلي امنیت تایید شوی پلان بیا ګوري او اپډیټ کوي، د داخلي امنیت وړاندې شوی پلان به د تایید شوي پلان لپاره د تعویض په توګه کله چې د مقرارتو د ۸۶ مادې مطابق غوښتل کېږي، تسلیموي.

30.9 د تړون لرونکي مني چې تړون لرونکي ممکن د داخلي امنیت د تایید شوي پلان د تعویض لپاره غوښتنه وکړي (که په پلان کې د ۳۰.۸ بند مطابق تغیر شوي او یا یې) د مقرراتو د ۸۶(۳) مادې مطابق د داخلي امنیت وړاندې شوي پلان، وزارت ته تسلیم کړي.

30.10 دولت باید زر تر زره باوري کړي چې د داخلي امنیت وړاندې شوی پلان چې وزارت ته د ۳۰.۹ بند مطابق سپارل شوی:

30.10.1 وزارت به د مقرراتو مطابق د وړاندې شوي پلان ارزونه کوي؛ او

30.10.2 که چېرته وزارت:

30.10.2.1 د مقرراتو د ۸۶(۴) مادې مطابق د داخلي امنیت پلان تاییدوی، وزارت باید زر تر زره تړون لرونکي ته په لیکلي ډول (سره د هغو شرطونو د جزیاو چې پر تایید وضع شوي) د تایید خبرتیا ورکړي.

30.10.2.2 د داخلي امنیت په وړاندې شوي پلان کې د مقرراتو د ۸۶(۴) مادې مطابق تعدیلات غواړي او یا د داخلي امنیت د وړاندې شوي پلان په اړه فیډبک ورکوي، وزارت به د دغو تعدیلاتو یا فیډبک په اړه تړون لرونکي ته زر تر زره خبرتیا ورکوي.

30.11 که چېرته وزات تړون لرونکي نه د ۳۰.۱۰.۲.۲، ۳۰.۷.۱ بیا د ۳۰.۷.۴ څخه تر (په هر اړخیز ډول) پوري خبرتیا خپروي، اړین بدلونه به اجرا کړي.

**د داخلي امنیت د تایید شوي پلان خپرول**

30.12 د شک د لرې کولو لپاره، د داخلي امنیت تایید شوی پلان به د وزارت لهخوا په عام ډول د لاسرسي وړ نه وي.

## 31 خایي محتویات او د تولنې د پراختیا پلان

**عمومي مسولیتونه**

31.1 د تړون لرونکي به د تولو اړوندو قوانینو، چې د سپړنې په فعالیتونو کې د تولنې د وندې په اړه دي، پیروي کوي؛ په شمول د:

31.1.1 د کانونو د قانون ۱۲ څپرکی؛ او

31.1.2 د مقرراتو [۱۰] څپرکی.

**د خایي محتویاتو له پلان څخه پیروي**

31.2 د تړون لرونکی مني چې د سپړنې د جواز او د سپړنې د جواز او بل هر اقدام یو شرط، د هغو شرطونو منل دي د خایي محتویاتو په تایید شوي پلان کې وضع شوی او نوموړی یې مطابقت کوي.

**د تولنې د پراختیا د تایید شوي پلان مشوره او ترتیب**

31.3 د کانونو د قانون د ۲۸(۵) مادې په تعقیب، د تولنې د پراختیا د پلان له تسلیمولو مخکې باید تړون لرونکي د وزارت او د خایي تولنې سره، د مقرراتو د ۸۷ مادې مطابق د پلان په اړه مشوره وکړي.

31.4 د تړون لرونکي به د تولنې د پراختیا وړاندې شوی پلان، چې د نوموړي په وسیله به د کانونو د قانون د ۲۸(۵) مادې او د ۳۱.۳ بند په پام کې نیولو سره په مشوره ترتیب شوی، وزارت ته تسلیم کړي

**د تولنې د پراختیا له پلان څخه پیروي**

31.5 تړون لرونکی مني چې د سپړنې د جواز او د سپړنې د جواز او بل هر اقدام یو شرط، د هغو شرطونو منل دي دتولنې د پراختیا په تایید شوي پلان کې وضع شوی او نوموړی یې مطابقت کوي.

## 32 عامه کارونه

32.1 تړون لرونکي به د ټولو هغو عامه کارونو چې د ۳ جدول د برخې، په ۲ برخه کې ذکر شوي: (که کوم وي) په هغه موده کې چې په جدول کې ذکر شوې، په خپل لګښت پلان کوي، پراختیا به ورکوي او جوړوي به يې.

32.2 د ټولو عامه کارونو مالکیت چې د دغه تړون پر بنسټ د تړون لرونکي له خوا جوړېږي، کله چې جوړ شي مالکیت یې د دولت تر ولکې لاندې راځي.

## 33 د زېربناوو جوړول

### عمومي مسولیتونه

33.1 د ۳۳.۴ او ۳۳.۵ بندونو څخه په پیروی، د تړون لرونکي باید هغه ټولې زېربناوې جوړې کړي چې د کان سپړنې د فعالیتونو لپاره اړینې دي، د هغه زېربنا په شمول چې د ۳ جدول په ۱ برخه کې راغلې؛

33.2 تړون لرونکی باید ټولې زېربناوې پلان کړي، پراختیا ورکړي او جوړې يې کړي او ټولې زېربناوو چې د ۳۳.۱ بند پر اساس يې جوړول اړين دي:

33.2.1 د هغو اجازو، چې د ۳۳.۵ په تعقیب ورکول کېږي او نورو ټولو اړوندو قوانینو مطابق؛ او

33.2.2 تر هغې اندازې به اقدامات کوي تر کومه چې د ۳۳.۲.۱ بند سره مطابقت لري، په داسې ډول چې د سپړنې په تایید شوي پروګرام یا د کان سپړنې په منل شوي پروګرام کې ذکر شوي وي (څنګه چې د پلي کېدو وړ وي)

### د زېربنا ګډ کارول

33.3 د تړون لرونکي باید پوره هڅه وکړي چې د ټولې زېربنا پلان جوړ کړي په داسې ډول چې لاندې اسانتیاوې رامنځ ته کړي:

33.3.1 د نورو په وسیله ګډه کارونه (د دریم جواز لرونکي اړخ په شمول (څرنګه چې د کانونو په قانون کې تعریف شوی))؛ او

33.3.2 په دوامداره توګه د هغې ساحې اقتصادي او ټولنیز پرمختګ کې ونده اخیستل په کوم کې چې تړون لرونکی شته.

33.4 د ۳۳.۱ بند سربېره، د تړون لرونکی اړتیا نه لري چې په لاندې مواردو کې زېربنا جوړ کړي، که:

33.4.1 که د هغو زېربنا پر ځای چې د کانونو د قانون د ۳۷(۱) مادې او د مقرراتو د ۳۶ مادې مطابق جوړېږي، وزارت د شته او یا ګډې زېربنا څخه د استفادې اجازه ورکړي، ؛ او

33.4.2 د تړون لرونکی د زېربنا له څښتن یا د هغه له شریکانو سره د هغه زېربنا په اړه چې د کان سپړنې د فعالیتونو لپاره به وکارول شي، هوکړې ته ورسي.

### د زېربنا اجازه

33.5 د تړون لرونکي منې چې دا د سپړنې د جواز او د سپړنې د هر جواز شرط دئ چې تړون لرونکی به د کانونو د قانون د ۳۷(۲) مادې او د مقرراتو د ۳۷ مادې مطابق د زېربنا له جوړولو مخکې د جوړولو اجازه اخلي.

### د زېربنا د مالکیت سلبول

33.6 د تړون لرونکي منې، که چېرته د کانونو د قانون د ۳۷(۴) مادې په تعقیب، وزارت تشخص کړي چې د جواز په ساحه کې کومه زېربنا د کان سپړنې د فعالیتونو پرته عام ملکیت دئ، وزارت ممکن په هر وخت کې، د جواز د مودې له ختمېدو، د جواز څخه د صرف نظر یا د جواز د سلب کېدو څخه مخکې، تړون لرونکي ته خبر ورکړي چې د زېربنا ملکیت د جواز د مودې په پوره کېدو، د هغه څخه د صرف نظر او یا د جواز د سلب کېدو په صورت کې د دولت په لاس کې پاتې کېږي.

Ahmad Nabizada LTD Import - Export Kandahar Afghanistan

33.7 د شک د لرې کولو لپاره،که وزارت تړون لرونکي ته د ۳۳.۶ بند مطابق خبرتیا ورکوي، نو تړون لرونکي به هغه زیربنا نه لرې کوي چې په ۴۸.۳ بند کې ذکر شوي.

## 34 لرغوني او فرهنګي آثار

### عمومي مسولیتونه

34.1 که د کان سپړنې د فعالیتونو په جریان کې تړون لرونکي لرغوني یا فرهنګي آثار یا ساحه ومومي، نو تړون لرونکی باید د کانونو د قانون د ۷۳(۱) مادې مطابق سملاسي:

34.1.1 د کانونو وزارت او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارتونو ته خبر ورکړي؛ او

34.1.2 د لرغونو او فرهنګي آثارو په شاوخوا کې د کان سپړنې فعالیتونه تر هغه باید ودرول شي تر څو وزارت بیا اجازه نه وي ورکړې، چې اجاز ممکن د نورو اضافي شرطونو تابع وي.

34.2 د تړون لرونکی منې چې د ۷۳(۱) بند برخلاف د کان سپړنې فعالیتونه ترسره کول د کانونو له قانون څخه سرغړونه ده او د مقرراتو په اساس د جریمې سبب کېږي.

### د وزارت په وسیله د تایید ورکول یا ردول

34.3 دولت باید باوري کړي چې:

34.3.1 د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د کانونو وزارت ته د لرغونو او فرهنګي آثارو او ساحې په اړه راپور او د نورو اړینو شرطونو په اړه معلومات چې باید تړون لرونکي یې پیروي وکړي، برابروي، دغه کړنه د تړون لرونکي د خبرتیا څخه وروسته چې د ۳۴.۱.۱ بند مطابق د کانونو د قانون ۷۳(۲) مادې په پام کې نیولو سره یې تړون لرونکي وزارت ورکوي، څومره ژر چې شونې وي، او د هرې پېښې په صورت کې د دریو میاشتو په جریان کې به د اطلاعاتو او کلتور وزارت دغه راپور ورکوي.

34.3.2 وزارت، څومره ژر چې شوني وي، د اطلاعاتو او فرهنګ له وزارت څخه د اړوند راپور له تر لاسه کولو وروسته د تړون لرونکي ته خبرتیا ورکوي، خبرتیا باید تایید کړي چې:

34.3.2.1 آیا وزارت د لرغونو او فرهنګي آثارو په شاوخوا یا ساحه کې تړون لرونکي ته د کار اجازه ورکوي یا نه؛ او

34.3.2.2 که چېرته وزارت:

(أ) د کار جواز ورکوي، هر اضافي شرط چې باید تړون لرونکی یې پیروي وکړي؛ یا

(ب) که وزارت د کار جواز ردوي، د لرغونو یا فرهنګي آثارو یا ساحې څخه فاصله، په کومه کې چې باید د کان سپړنې فعالیتونه تر سره نه شي (کوم چې ممکن، که د پلې کېدو وړ وي، د ثبت شوي ساحې حدودو ته په کتو سره دغه لرغوني آثار یا ساحه باید په داسې ډول مشخص شي په کوم ډول چې د لرغونو آثارو د ساتنې او بیارغونې د اداري له خوا د *لرغونو او فرهنګي ملکیتونو د ساتنې قانون ۲۰۰۴* مطابق مشخصه شوې ده.

34.4 که وزارت د لرغونو او فرهنګي آثارو په شاوخوا او یا ساحه کې د کار جواز ورکوي، نو تړون لرونکي باید هغو اضافي شرطونو پیروي وکړي چې د وزارت له خوا پرې وضع شوي (لکه څرنګه چې د وزارت له خوا تړون لرونکي ته د ۳۴.۳.۲.۲ فقرې د (أ) بند مطابق خبرتیا ورکړل شوې)

34.5 که وزارت د کان سپړنې د فعالیتونو د بیا پیل لپاره د لرغونو او فرهنګي آثارو په شاوخوا یا ساحه کې جواز نه ورکوي، نو د تړون لرونکي باید په ساحه کې د کان سپړنې فعالیتونه ترسره نه کړي، کومه ساحه چې تړون لرونکي ته د ۳۴.۳.۲.۲ (ب) بند پر اساس روښانه شوې، تر هغې تر کومه چې وزارت د کان سپړنې د فعالیتونو د بیا پیل اجازه نه وي ورکړې.

**35 د تولیداتو پلور او صادرات**

**بازار موندنه، پلور او صادرات په عمومي ډول**

35.1 د دغه تړون او اړوند قانون څخه په پیروی، تړون لرونکی:

35.1.1 ممکن بازار موندنه وکړي، تولید وپلوري او یا یې صادر کړي، څه ډول چې مناسب وي؛

35.1.2 د تولید د بازار موندنې، پلور او یا په بل ډول د تولید د وړاندې کولو او مدیریت انحصاري کنټرول لري؛

35.1.3 ټول هغه خطرونه چې د تولید د بازار موندنې، پلور او یا په بل ډول د تولید د وړاندې کولو یا صادراتو سره تړلي ، د هغو خطرونو په ګډون چې د پیشکي پلور سره تړلي دي، په غاړه اخلي.

**د تولیداتو پلور**

35.2 تړون لرونکی باید باوري کړي چې ټول تولید چې پلورل شوی یا د تړون لرونکي له خوا یا د هغه په استازیتوب کشف شوی، پلورل شوی او یا کشف شوی:

35.2.1 د نړیوال تجارت د عمومي منل شویو معیارونو مطابق؛ او

35.2.2 په هغو شرایطو (د تادیې د شرایطو په ګډون) کوم چې د تجارت له نظره عادلانه دي او تړون لرونکي ته لږ د خوښې وړ نه وي او ورسره هغه شرایط چې د دریم اړخ په وسیله د بازار په نرخ په ورته شرایطو کې قبول شوي او په نړیوال بازار کې حاکم دي.

**د تولیداتو صادرول**

35.3 د تړون لرونکي منې چې:

35.3.1 د تړون لرونکي باید له هېواد څخه هغه تولید صادر نه کړي د کوم لپاره چې د پلې کېدو وړ صادراتي پالیسي د کانونو د قانون د ۳۶(۱) مادې مطابق خپره شوې، مګر دا چې تړون لرونکي د پلي کېدو وړ د دغه پالیسۍ پیروي وکړي؛ او

35.3.2 محدود شوي منرالونه باید و نه کارول یا صادر نه شي، مګر دا چې د محدود شویو منرالونو د اجراا وړ پروګرام اجازه ورکړي.

35.4 د ۵۳.۱ بند له محدودلو پرته، دولت باید باوري کړي چې اړوند مقام به تړون لرونکي ته د هر اړین جواز د ورکولو پروسه چټکوي، تر څو تړون لرونکي هر تولید چې د کانونود سپړنې له ساحې تر لاسه شوی صادر کړي.

**اوومه برخه: راپور ورکول، ریکارډ ساتل او معاینه**

**36 راپور ورکول**

**راپور په عمومي ډول**

36.1 د ۳۶ بند د نورو مادو له محدودولو پرته به تړون لرونکی:

36.1.1 وزارت یا بل اړوند مقام ته اړوند راپورونه، یاداشتونه او نور اسناد چې د دغه تړون یا اړوند قانون مطابق غوښتل کېږي، تسلیموي؛

36.1.2 باوري کړي چې د تړون لرونکي له خوا یا د هغه په استازیتوب مقام ته ټول وړاندې شوي اسناد پوره او سم دي او هغه نېټه چې اسناد پرې سپارل شوي او پر اسنادو لیکل شوي ګمراه کوونکي نه

Ahmad Nabizada LTD Import - Export Kandahar Afghanistan
Islamic Emirate of Afghanistan 14

36.1.3 د ۳۶.۱.۲ بند له محدودلو پرته، تړون لرونکي یا د هغه استازی معلوماتي مواد له هغو اسناد څخه چې تړون لرونکي یا د هغه استازی یې کوم مقام ته سپاري، نه حذفوي او نه یې پټوي؛

**قانوني راپور ورکونه**

36.2 تړون لرونکي باید وزارت ته لاندې مواد تسلیم کړي:

36.2.1 د کانونو د قانون د ۳۵(۲)(۶) او ۳۵(۳)(۶) مادې مطابق (کومه چې د اجراا وړ وي) به وزارت ته تخنیکي راپور تسلیموي؛

36.2.2 د کانونو د قانون د ۳۵(۲)(۷) او ۳۵(۳)(۷) مادې مطابق (کومه چې د اجراا وړ وي) به وزارت او د چاپیریال ساتنې ملي ادارې ته د چاپیریال راپور ورکوي؛

36.2.3 د کانونو د قانون د ۳۵(۲)(۸) مادې مطابق به وزارت ته د سپړنې د جواز په اړه راپور تسلیموي؛

36.2.4 د کانونو د قانون د ۳۵(۳)(۸) مادې مطابق به د ګټې اخیستنې د جواز په اړه راپور تسلیموي؛ او

36.2.5 د کانونو د قانون د ۳۵(۳)(۱۰) مادې مطابق به وزارت ته د ګټې اخیستنې د جواز د تفتیش شویو حسابونو په اړه وزارت ته راپور تسلیموي.

**د راپورونو تسلیمول**

36.3 ټول راپورونه، یاداشتونه او نور سندونه چې د تړون لرونکي څخه د وزارت په وسیله او یا هم د چاپیریال ساتنې د ملي ادارې په وسیله د کانونو د قانون مطابق غوښتل کېږي، باید تړون لرونکي په هغه بڼه تسلیم کړي په کومه بڼه چې په مقرراتو کې ذکر شوي.

**37 د ریکارډ ساتل**

**ریکارډ ساتل په عمومي ډول**

37.1 د ۳۷ بند د فقرو له محدودولو پرته، تړون لرونکي باید ټول تخنیکي، مالي، تجارتي او نور ریکارډونه او حسابونه د اړوند قانون مطابق وساتي.

**د کان سپړنې د فعالیتونو ریکارډ**

37.2 تړون لرونکی باید د محاسبې د معیارونو او د غوره صنعت د رویې د معیارونو مطابق د حسابونو هر اړخیز، دقیق او اپډېټ ریکارډونه د سپړنې د ټولو فعالیتونو په اړه وساتي، په شمول د:

37.2.1 ریکارډونه او حسابونه چې د لاندې مواردو سره تړاو ولري:

37.2.1.1 عواید او لګښتونه؛

37.2.1.2 د تولید تولیدول؛ او

37.2.1.3 خرڅلاو او یا د تولید کارونه (د هر تولید د لېږد په شمول)؛ او

37.2.2 د کان سپړنې ټول معلومات.

37.3 ټول حسابونه او ریکارډونه چې باید په افغانستان کې د ننه د ۳۷.۲ بند مطابق په فزیکي ډول وساتل شي؛

37.4 د تړون لرونکي منې چې د کانونو د قانون د ۲۴ مادې مطابق، د لاندې مواردو په اړه ټول اسناد ساتي:

37.4.1 جواز به د مودې له تېرېدو، انصراف او یا لغوه کېدو ورسته، لږ تر لږ د ۱۰ کلونو لپاره ساتي، او

37.4.2 تړون به د پای ته رسولو له نېټې ورسته، لږ تر لږه د ۱۰ کلونو لپاره ساتي،

او دغه اسناد به د پلټنې په موخه د ۳۸ بند مطابق د اړوندې دورې لپاره د لاسرسي وړ وي.

**پولي واحد**

37.5 ټول محاسبوي ریکاردونه به د هغه پولي واحد په حساب ساتل کېږي چې ۲۱.۲ بند کې ورته اشاره شوې.

**38 معاینه/ پلټنه**

**د پلټنې مدیر**

38.1 د تړون لرونکي مني چې د کانونو د قانون د ۵۶ مادې مطابق؛

38.1.1 د پلټنې مدیر ممکن د هر جواز لپاره و گومارل شي؛ او

38.1.2 د پلټنې مدیر ښایي:

38.1.2.1 د جواز د ساحې معاینه وکړي (د کان سپړنې د هغو فعالیتونو په شمول چې د جواز په ساحه کې ترسره شوي دي)؛

38.1.2.2 د کوم کس څخه وغواړي چې تر څو اړین معلومات برابر کړي؛ یا

38.1.2.3 د کوم کس څخه وغواړي چې د کومې اړوندې موضوع په اړه پلټنو ته حاضر شي.

38.2 د تړون لرونکي به، او باید باوري کړي چې د هغه استازي به د پلټنې مدیر ته ټول امکانات او آسانتیاوې برابروي، ترڅو هغه اجرات چې د کانونو قانون واک ورکړی ترسره کړي، په شمول د:

38.2.1 د هغه معلوماتو او اسنادو برابرول چې د پلټنې مدیر یې غواړي(په شمول د، د شک د لرې کولو لپاره، ټول ریکاردونه او حسابونه چې د تړون لرونکي له خوا یا د هغه په استازیتوب د ۳۷ بند مطابق ساتل کېږي)؛ او

38.2.2 د معاینې په موخه د اړوندې موضوع په اړه د پلټنې مدیر ته د معلوماتو او اسنادو وړاندې کول.

38.3 د شک د لرې کولو په موخه، ۳۸.۲ فقره د کانونو قانون پر (۳)۵۶ ماده کوم محدودیت نه وضع کوي.

**اتمه برخه: ژمنې او ضمانتونه**

**39 د تړون لرونکي په وسیله شوې ژمنې او ضمانتونه**

**د تړون لرونکي ضمانتونه**

39.1 له دولت سره د تړون لرونکي ژمنې او ضمانتونه هغه دي چې:

39.1.1 د تړون لرونکی پر خپل وخت ثبت شوی دی او شتون یې د هغه ځای د ثبت د قانون مطابق چې ده ځان په کې ثبت کړی، قانوني دی.

39.1.2 د تړون لرونکي ټول اړین فعالیتونه چې ده ته د کار کولو د صلاحیت ورکولو لپاره اړین دي، ددغه تړون مطابق تر سره کړي؛

39.1.3 د تړون لرونکي واک لري، پرته د بل شخص د خوښې، چې دغه تړون ته داخل شي او خپل مسولیتونه ترسره کړي؛

39.1.4 دغه تړون پر تړون لرونکي باندې قانوني او جبري مسولیتونه وضع کوي، او دغه مسولیتونه د دغه تړون د شرایطو مطابق پر تړون لرونکي د تطبیق وړ دي؛

39.1.5 د تړون لرونکي په وسیله د دغه تړون پر بنسټ د مسولیتونو ترسره کول، د تړون لرونکي د تاسیس کوونکو اسنادو د بې اعتباره کېدو سبب نه کېږي، هېڅ قانون او یا بل قید او نور اسناد چې پر تړون لرونکي عملي کېږي؛

39.1.6 د تړون لرونکي د ناوړه پېښې څخه ضرر نه دی لیدلی؛

39.1.7 د تړون لرونکې نه دی:

39.1.7.1 یو اړخ او یا تابع د کومې کړنې؛ یا

39.1.7.2 د کومې اداري یا بل دولتي، نیمه دولتي، اداري، مالي یا قضایي ارګان، څانګې، کمیسیون، مقام، محکمې، اداري یا اداري لخوا د هر ډول حکم، قضاوت، یا فرمان موضوع،

کومه چې، یا شوني ده چې، د تړون لرونکي توانایي په مالي توګه اغېزمنه کړي تر څو د دغه تړون له مسولیتونو سره مطابقت وکړي؛

39.1.8 د تړون لرونکي خبر دی چې د دې پر وړاندې کوم اقدام، فیصله، قضاوت، حکم او یا پرېکړه چې په ۳۹.۱.۷ بند کې ورته اشاره شوې نه شته، نه یې تهدید شته او نه یې وړاندوینه کېږي؛

39.1.9 نه تړون لرونکی او نه هم د دغه تړون کوم بل اړوند اړخ، د کومې اداري یا بل دولتي، نیمه دولتي، اداري، مالي یا قضایي ارګان، ریاست، کمیسیون، یا مقام لخوا د کوم حکم، قضاوت، یا فرمان له مخې تاکل شوی، یا هر ډول بنسټ چې د هر ډول قوانینو له مخې رامنځته شوی ترڅو د هر ډول صلاحیت، قانون یا کوم سند څخه سرغړونه وي چې په هغه اړخ پورې تړاو لري:

39.1.9.1 د کانونو سپړنه او د کاني موادو پروسس کول او د سمنټ تولید

39.1.9.2 د چاپیریال ساتنه؛

39.1.9.3 د هغو کسانو روغتیا او خوندیتوب چې د طرف له خوا ګومارل شوي او یا په بل ډول بنکېل شوي وي؛

39.1.9.4 رشوت او اداري فساد؛

39.1.10 نه تړون لرونکی، نه د هغه کوم استازی، نه کوم شخص د هغه له طرفه، نه له تړون لرونکی سره کوم اړوند اړخ، رسمي کارکوونکی نه کوم تادیات کړي، نه یې نورې منافع ور رسولي، نه یې د ورکړې وعده ورکړې او نه یې د ورکړې زمینه برابره کړې، په دې موخه چې د رسمي کارکوونکي په کړنو کې چې د کانونو د قانون او بل اړوند قانون مطابق ترسره کېږي، نفوذ وکړي؛

39.1.11 تړون لرونکی د کاني سپړنې له فعالیتونو سره بلد دی، تجربه او وړتیا یې لري او سرچینې لري تر څو د دغه تړون او اړوند قانون مطابق د سپړنې فعالیتونه ترسره کړي؛

39.1.12 تړون لرونکی داسې یو شخص نه دی چې و نه شي کولای دغه تړون ته داخل شي او یا د کانونو د قانون د ۱۷(۱) مادې مطابق و نه شي کولای دغه جواز ولري؛

39.1.13 ټول هغه اسناد چې د تړون لرونکي یا د هغه له خوا کوم مقام ته تسلیم شوي (د شرطپاڼو، او نور اسنادو په شمول چې د کټې اخیستنې د جواز د غوښتنې په موخه تسلیم شوي) سم او بشپړ دي او هغه نېټه چې اسناد پرې تسلیم شوي تېروېستونکي نه دي؛

39.1.14 د تړون لرونکي یا هم د هغه استازي له هېڅ کوم مقام څخه مالي معلومات نه دي سپمولي، نه یې حذف کړي او نه یې له کوم سند څخه چې د دغه تړون مطابق تسلیمېږي، معلومات حذف کړي؛

39.1.15 د تړون لرونکي له خوا یا د هغه له طرف مقام ته د کوم سند تسلیمول او د مقام په وسیله د کانونو د قانون مطابق د داسې سند کارونه یا یې خپرول، یا یې ویشل د کوم شخص د معنوي شتمنیو ملکیت د څخه سرغړونه نه ده؛ او

39.1.16 د تړون لرونکي ټول تاییدونه، رضایتونه او جوازونه تر لاسه کړي او ټولې رویالټي ګانې، د جواز فیسونه او نور اړین تادیات یې کړي، چې ده ته اجازه ورکوي تر څو اړوند اسناد چې کوم شخص یې د معنوي شتمنیو ملکیت لري، مقام ته تسلیم کړي، ویې کاروي او یا یې خپاره کړي؛

**دقت او سموالی**

39.2 مګر دا چې په ۳۹.۱ بند کې په بل ډول روښانه شوي وي، دولت ته د تړون لرونکي تضمینونه او ژمنې او چې د هر تړون لرونکي تضمین به:

2.1.1 سم، بشپړ او درست وي او د انفاذ نېټه به یې تېروېستونکي نه وي؛ او

2.1.2 سم، بشپړ او درست وي او د تړون په موده کې د هرې ورځې په اړه ګمراه کوونکی نه وي.

**بېل تضمینونه**

39.3 د هر تړون لرونکي تضمین ته به د بېلې ژمنې او تضمین په نظر کتل کېږي. د هر راپور تفسیر چې تر سره شوی، ممکن د بل راپور څخه د استنباط او بل اخځ په وسیله محدود نه شي.

**انګېزه**

39.4 د تړون لرونکي منې چې:

39.4.1 هغه د ددغه تړون تضمینونه په دې انګېزه جوړ کړي، تر څو دولت وهڅوي چې دغه تړون ته داخل شي؛ او

39.4.2 دولت په دغه تړون کې د تړون لرونکي پر تضمینونو باندې د پوره تکیې څخه وروسته داخل شوی.

**د تړون لرونکي د تضمینونو لپاره بنسټ**

39.5 د هر تړون لرونکي تضمین د تړون لرونکي د پوهې، معلوماتو، باور او باخبرۍ په اساس ورکړل شوي، او په دې اساس ورکړل شوي چې د تړون لرونکي تضمین سمه، بشپړه، درسته او ګمراه کوونکې نه ده، د تړون لرونکي د عادلانه ژمنو استازیتوب کوي، او په منطقي ډول تمه کېږي چې امیتاز لرونکي پوهېږي چې د کومې اړوندې موضوع په اړه یې دغه تضمین تسلیم کړې ده.

**غرامت**

39.6 د ۴۵ بند څخه په پیروی، د تړون لرونکی به دولت ته د ټولو هغو تاوانونو غرامت ورکوي چې دولت ته د تړون لرونکي د ناسمې، نابشپړې، غلطې او ګمراه کوونکي وارنټی په سبب اوښتي.

**40 د دولت په وسیله ژمنې او تضمینونه**

40.1 د دغه تړون لرونکي پر وړاندې د دولت ژمنې او تضمینونه:

40.1.1 د اجرا پر نېټه، دغه تړون به:

40.1.1.1 ټول اړین تاییدونه تر لاسه کړي وي؛ او

40.1.1.2 د دولت قانوني، معتبر او پر هغه پلې کېدونکي مسولیتونه شته، چې د شرایطو مطابق د دولت پر وړاندې د پلې کېدو وړ دي؛ او

40.1.2 د دغه تړون لرونکي پرته (لکه څرنګه چې د کانونو په قانون کې ورته اشاره شوې) د دغه جواز د ساحې او یا یې د یوې برخې په اړه بل چا جواز نه ورکول کېږي.

**سموالی**

40.2 مګر دا چې په ۴۰.۱ بند کې په بل ډول ذکر شوي وي، د تړون لرونکي پر وړاندې د دولت ژمنې او تضمینونه روښانوي چې، د دولت هر تضمین:

40.2.1 سم، بشپړ، درست او د اجرا د نېټې په اړه تېروېستونکی نه دی: او

40.2.2 سمه، بشپړه، درسته به وي او د دغه تړون په موده کې د هرې ورځې په اړه تېروېستونکي نه ده.

**بېل تضمینونه:**

40.3 د دولت هر تضمین د بېلې ورانتی او ژمنې په حیث ګڼل کېږي. د هر راپور تفسیر چې تر سره شوی، ممکن د بل راپور څخه د استنباط او بل ماخذ په وسیله محدود نه شي.

**انګېزه**

40.4 دولت منې چې:

40.4.1 هغه د دغه تړون تضمینونه په دې انګېزه جوړ کړي، تر څو تړون لرونکی وهڅوي چې دغه تړون ته داخل شي؛ او

40.4.2 تړون لرونکی په دغه تړون کې د دولت پر تضمینونو باندې د پوره تکیې څخه وروسته داخل شوی.

**پر تضمینونو محدودیت**

40.5 دولت د تړون لرونکي د نفعې لپاره کومه ژمنه نه کوي، نه کوم تضمین ورکوي، مګر د د دولت هغه تضمینونه او ټولې ژمنې ترې مستثنی دي چې د قانون مطابق تر اعظمي کچې پلې کېږي.

40.6 د تړون لرونکي منې چې کله تړون ته داخلېږي:

40.6.1 هغه د دولت پر تضمینونو، خپلو پلټنو، څېړنو، مهارتونو، عقایدو او تر لاسه شویو مشورو تکیه کړې؛ او

40.6.2 د دولت له تضمینونو پرته، پر هغو څرګندونو، انګېزو، اقداماتو، عقایدو، مشورې، ژمنو او ورانتي ګانو چې په شفاهي یا لیکلي ډول د دولت یا د هغه له طرف ورکړل شوې، تکیه نه ده کړې.

**غرامت**

40.7 د ۴۵ بند څخه په پیروی، دولت به د تړون لرونکي ته د ټول هغه تاوان غرامت ورکوي چې تړون لرونکي ته د دولت د ناسمې، نابشپړې، نادرستې او یا ګمراکوونکي تضمین په سبب اوښتی.

**نهمه برخه: مالي داد، مطابقت او اجرآت**

**41 له لارښوونو سره مطابقت**

41.1 تړون لرونکی باید له اړوند قانون سره سم د یوې اداري لخوا صادرې شوې هرې لیکلې لارښوونې سره سم عمل وکړي، کوم چې له تړون لرونکي څخه د هر ډول مادي سرغړونې د مخنیوي غوښتنه لري، یا هر ډول هغه شرایط چې دغې اداري تاکلې په معقول ډول احتمال لري د مادي سرغړونې پایله ولري:

41.1.1 د دغه تړون هره موده؛

41.1.2 د کانونو د قانون، مقرراتو یا کوم بل د تطبیق وړ قانون؛ یا

41.1.3 د جواز هر شرط،

د هغې وروستی نېټې مطابق چې په دغه لاربنوونه کې ذکر شوې، د وروستی نېټې د نه شتون په صورت کې، د لاربنوونې له خپرولو ورسته څومره ژر چې شوني وي، تړون لرونکي یې باید پلې کړي.

41.2 که تړون لرونکي د لیکلي قانوني لاربنوونې په پلي کولو کې، چې د مقام له خوا د ۴۱.۱ بند مطابق خپره شوې، پاتې راشي، نو:

41.2.1 وزارت یا کوم بل مناسب مقام د تړون لرونکي سره له مشورې پرته تول اړین ګامونه واخلي تر څو د لاربنوونې سره مطابقت وکړي،

41.2.2 تړون لرونکي باید اړوند مقام ته تولې اسانتیاوې چې د مقام په وسیله غوښتل کېږي برابرې کړي، تر څو اړونده مقام اړین ګامونه واخلي او لاربنوونه پلې کړي؛ او

41.2.3 تړون لرونکي باید اړوند مقام ته تول هغه لګښتونه بیا تادیه کړي چې د لاربنوونې د پلي کولو په اړوندو پړاونو کې د لاربنوونې څخه د مطابقت په موخه ترسره شوي، تړون لرونکي باید د مقام له لیکلي غوښتنې څخه وروسته د ۲۰ کاري ورځو په جریان کې تادیات وکړي.

## 42 د اجرا ضمانتونه

### د اجراء د ضمانت غوښتنې

42.1 د ۴.۱ یا ۵.۷ بند له محدودولو پرته، تړون لرونکی باید وزارت ته د اجرا ضمانت وسپاري:

42.1.1 د سپړنې د جواز څخه ورسته د تضمین په توګه راوړل، تر څو د هغو ژمنو تضمین وکړي چې د سپړنې په تایید شوي پلان کې شوي؛ او

42.1.2 د کټې اخیستنې له جواز څخه ورسته د تضمین په توګه راوړل، تر څو د هغو ژمنو تضمین وکړي چې د کان سپړنې په تایید شوي پلان کې شوي؛ او

42.2 شرکت مکلف دی چې د اکتشاف مرحلې لپاره د څلور سوه زره امریکایي دالره په ارزښت د فعالیت ضمانت د کانونو او پترولیم وزارت ته وسپاري

42.3 شرکت مکلف دی چې د بهره برداری په مرحلې کې یوازې د استخراجي پانګونې د مقدار (پروسس په کې نه حسابیږي) ۵٪ برخه د کانونو او پترولیم وزارت ته د فعالیت ضمانت په شکل وسپاري.

42.4 د فعالیت ضمانت په هره بنه کې چې د مقرراتو د ۹۵ (۲) مادې لخوا اجازه ورکړل شوې، چمتو کیدای شي.

### د اجرا د ضمانت ضبطول

42.5 تړون لرونکی مني، که چېرته د کانونو د قانون د ۵۵(۲) مادې مطابق، تړون لرونکی د هغو ژمنو په ترسره کولو کې پاتې راځي، چې د سپړنې په یوه تایید شوي پلان یا د کان سپړنې په تایید شوي پروپوزل (کوم یو چې د اجرا وړ وي) کې ورکړل شوې دي، نو وزارت ممکن د اجرا ضمانت چې د سپړنې د تایید شوي پلان یا د کان سپړنې د تایید شوي پروپوزل (کوم یو چې د اجرا وړ وي) په اړه تسلیم شوی، ضبط کړي.

### د اجرا د ضمانت ازادول

42.6 که د ۴۲،۴ بند مطابق د اجرا ضمانت نه وي ضبط شوی، د اجرا ضمانت ممکن تړون لرونکي ته د ۴۸.۷ بند مطابق د دغه تړون د پای ته رسولو ورسته آزاد شي.

## 43 چاپیریالي ضمانتونه

### د چاپیریال د تضمین غوښتنې

43.1 تړون لرونکی باید د خمکې د کېدنې کار تر هغه پیل نه کړي تر څو یې چې وزارت د چاپیریال تضمین نه دی تسلیم کړی، تر څو د هغو ژمنو تضمین وکړي چې د چاپیریال ساتنې دمدیریت په تایید شوي پلان کې یې کړي دي.

43.2 د چاپیریال د تضمین چې د جواز په بدل کې غوښتل کېږي، مقدار به یې د وزارت په وسیله دلاندې موارد و مطابق و ټاکل شي:

43.2.1 د مقرراتو مطابق:

43.2.2 د چاپیربال د مدیریت تایید شوي پلان ته په پاملرنې؛ او

43.2.3 د چاپیریال ساتنې د ملي ادارې سره په مشوره

43.3 د چاپیریال ساتنې د تضمین بڼه به د مقرراتو د ۹۶(۲) مادې مطابق وټاکل شي.

**د چاپیریال د تضمین تعدیل**

43.4 د تړون لرونکې منې چې:

43.4.1 نوموړی باید د مقرراتو ۹۶(۳) مادې مطابق د چاپیریال د تضمین مقدار په کلنۍ دول نوی کړي؛ او

43.4.2 له ده ممکن وغوښتل شي تر څو د مقرراتو د ۹۶(۶) مادې مطابق د چاپیریال تضمین تعدیل کړي.

**د چاپیریال د تضمین ضبطول**

43.5 د تړون لرونکی منې چې، د کانونو د قانون د ۵۵(۳) مادې په تعقیب؛ که تړون لرونکې د هغو ژمنو په پوره کولو کې پاتې راغلو چې د چاپیریال د مدیریت په تایید شوي پلان کې شوې، وزارت ممکن:

43.5.1 د چاپیریال تضمین ضبط کړي؛ او

43.5.2 بدیله حللاره پر کار واچوي او د پلي کولو لګښت یې د تړون لرونکې څخه د پور په توګه چې پر تړون لرونکې باندې دی، تر لاسه کړي.

**د چاپیریال د تضمین آزادول**

43.6 که د ۴۳.۵ بند مطابق د چاپیریال تضمین نه وي ضبط شوی، د چاپیریال هر تضمن ممکن تړون لرونکې ته د ۴۸.۷ بند مطابق د دغه تړون د پای ته رسیدلو، بشپړولو یا بیا اصلاح څخه وروسته آزاد شي.

**44 غرامت**

**د تړون لرونکې غرامت**

44.1 د ۴۵ بند څخه په پیروی، تړون لرونکی به دولت ته ټول هغه غرامت ورکوي چې دولت یا د هغه استازو ته اوښتی، علت یې د تړون لرونکې په وسیله د دغه تړون ماتول وي، پرته له دې چې که دولت ته د تړون د هغو برخو د ماتولو څخه تاوان اوښتی وي چې دولت یې سبب دی، تړون لرونکی د دغه غرامت له تادیې څخه خوندي دی.

**د دولت غرامت**

44.2 د ۴۵ بند څخه په پیروی، دولت به تړون لرونکې ته ټول هغه غرامت ورکوي چې تړون لرونکې یا د هغه استازو ته اوښتی، علت یې د دولت په وسیله د دغه تړون د تړون ماتول دي، مګر که تړون لرونکې ته د تړون د هغو برخو د ماتولو څخه تاوان اوښتی وي چې تړون لرونکې یې سبب دی، دولت د دغه غرامت له تادیې څخه خوندي دی.

Ahmad Nabizada LTD
Import - Export

**د غرامتونو کټه**

44.3 د تړون لړونکی او دولت دواړه مني چې د ۴۴.۱ او ۴۴.۲ بندونو لاندې د دوی اړوند میثاقونه د کټې او د بل لوري له خوا د دغه تړون د پلي کولو په موخه دي، د دې سربېره چې هغه لوری ممکن د دغه تړون لوری نه وي.

**45 د مسوولیت محدودیت**

45.1 په دغه تړون کې د نور څه سربېره، د یوه لوري مسولیت د بل لوري یا د هغه د استازي پر وړاندې تر واقعي ثابت شوي تاوان پورې محدود دئ او لومړی ذکر شوی لوری، په هېڅ شرایطو کې د نامستقیم تاوان لپاره مسولیت نه لري.

**46 نابریالیتوب او د تړون پای ته رسول**

**د نابریالیتوب پېښې**

46.1 د دغه تړون په موخه، یوه **پېښه** یا **نابریالیتوب** د تړون لړونکي له خوا واقع کېږي که چېرته:

46.1.1 که چېرته تړون لړونکی د **(د اجرا ضمانت)** په راوړلو او یا په هغه بڼه او مقدار د ضمانت په ساتلو کې چې په ۴۲ بند کې ورته اشاره کړې، پاتې راشي:

46.1.1.1 د هغو ژمنو د تضمین په توګه چې اجرا کوونکي د سپړنې په تایید شوي پروګرام کې د ۴.۱ بند مطابق کړې؛ یا

46.1.1.2 د هغو ژمنو د تضمین په توګه چې اجرا کوونکي د کان سپړنې په تایید شوي پروپوزل کې د ۵.۷ بند مطابق کړې؛

46.1.2 **(د جواز لغوه کول)** هغه جواز چې تړون لړونکی يې لري د کانونو د قانون د ۶۰ مادې مطابق لغوه کېږي؛

46.1.3 **(د جواز پای ته رسول)** ټول هغه جوازونه چې د دغه تړون پر اساس ورکړل شوي، یا

46.1.3.1 موده يې پوره شوې وي؛

46.1.3.2 د کانونو د قانون د ۳۲ مادې مطابق ترې صرف نظر شوی؛ یا

46.1.3.3 د کانونو د قانون د ۶۰ مادې مطابق (د ۴۶.۱.۲ بند له محدودلو پرته) لغوه شوي دي؛

46.1.4 **(قابلیت)** د تړون لړونکي د کانونو د قانون ۱۷(۱) مطابق د جواز د ساتلو قابلیت له لاسه ورکوي؛

46.1.5 **(د ځنډ له خبرتیا څخه سرغړونه)** که د تړون لړونکي د ځنډ د خبرتیا څخه وروسته چې د کانونو د قانون د ۵۹ مادې مطابق خپرېږي، د جواز په ساحه کې د کان سپړنې فعالیتونه ترسره کړي نو ځنډ له خبرتیا څخه سرغړونه ګڼل کېږي؛

46.1.6 **(د لاربښوني څخه په پیروی کې پاتې راتلل)** تړون لړونکی د کومې قانوني لیکلي لاربښوونې په پلي کولو کې چې د ۴۱.۱ بند مطابق د وزارت له خوا خپرېږي پاتې راځي؛

46.1.7 **(د منځګړي د پرېکړې په پیروی کې پاتې راتلل)** تړون لړونکي د کومې منځګړي پرېکړې په پیروی او پلي کولو کې چې پر د ۵۷ بند مطابق تر سره شوې پاتې راځي؛

46.1.8 **(ناخوښه پېښه)** تړون لړونکي د ناخوښې پېښې تابع دئ؛

46.1.9 **(په کنترول کې بدلون)** د دغه تړون په کنټرول بدلون پرته د وزارت له تایید څخه ځرنګه چې په ۵۱.۳ بند کې ذکر شوی رامنځ ته کېږي؛

46.1.10 **(د تضمین ماتول)** تړون لړونکي د تړون لړونکي کوم تضمین ماتوي؛

46.1.11 **(په تادیاتو کې پاتې راتلل)** د تړون لرونکی د کومې سطحې د کرایې، فیس، رویالټي او نورو د د اداینې وړ مقدارونو په تادیه کې چې د دغه امیتاز پر اساس ترسره کېږي، پاتې راځي، د کانونو دقانون مطابق دغه ډول مقدار چې د تادیې پر نېټه ناتادیه شوی پاتې کېږي، د تادیې له نېټې څخه تر ۲۰ کاري ورځو پورې ځنډول کېږي، یا

46.1.12 **(اساسي سرغړونه)** تړون لرونکي په عمده ډول لاندې سرغړونې کوي:

46.1.12.1 د دغه تړون له کوم موې څخه (پرته د هغه مودې چې تړون لرونکي په کې د سطحې کرایه، فیس، رویالټي او کوم بل مقدار، د کومو په اړه چې ۴۶.۱.۱ بند د پلې کېدو وړ دئ، تادیه کوي)، دغسې پاتې راتلل یا حللاره نه لري او یا د د وزارت له رضایت څخه ورسته د ۲۰ کاري ورځو په موده (یا بله هغه موده چې لوري ممکن هوکړه پرې وکړي) کې، تړون لرونکی یې په حل کې پاتې راځي، دغه موده تړون لرونکي ته د وزارت د لیکلي خبرتیا له خپرېدو ورسته حساب کېږي ترڅو د ۴۶.۱.۱۲.۱ بند د موخې لپاره تړون لرونکي د خپل پاتې راتللو علاج وکړي؛

46.1.12.2 د کانونو قانون، مقررات او یا بل اړوند قانون؛ یا

46.1.12.3 د جواز کوم شرط.

**د تړون پای ته رسول**

46.2 تړون لرونکي منې چې، که د تړون په برخه کې د تړون لرونکي د پاتې راتللو کومه پېښه رامنځ ته کېږي، د کانونو د قانون د ۴۰(۹) ماد مطابق، وزارت ممکن د کانونو د تخنیکي کمېټې په وړاندیز او د اقتصاد د عالي شورا په تایید سره دغه تړون پای ته ورسوي.

**د پای ته رسولو طلاعیه**

46.3 که وزارت د کانونو د قانون د ۴۰(۹) مادې مطابق دغه امیتاز پای ته رسوي، نودولت باید باروې کړي چې وزارت به تړون لرونکي ته لیکلي خبرتیا خپروي چې د تړون د پای ته رسولو د اجرا نېټه او دغه تړون پای ته رسي.

47 **د تړون د پای ته رسولو پایلې**

**د جوازونو لغوه کېدل**

47.1 د هر دلیل په سبب د دغه تړون پای ته رسول، هر هغه جواز چې د دغه تړون په تعقیب خپور شوی، ممکن د وزارت له خوا کانونو د قانون د ۶۰(۱)(۲) مادې مطابق پای ته ورسول شي.

**د تړون د پای ته رسولو نورې پایلې**

47.2 د هر دلیل په سبب د دغه تړون په پای ته رسولو سره:

47.2.1 تړون لرونکی باید د کان سپړنې په اړه د تړون د مودې په اوږدو کې د ټولو راټولو شوو معلوماتو کاپیانې چې د وزارت له لوري یې غوښتنه شوې (او په وزارت به یې کوم لګښت نه وي) وزارت ته د کان کیندنې د معلوماتو د غوښتنې له لیکلي خبرتیا وروسته په ۲۰ کاري ورځو کې (یا بله داسې اوږده موده چې دواړه لوري پرې توافق وکړي) ورسپاري؛

47.2.2 هر اړخ د دغه امیتاز پر اساس د خپلو مسولیتونوڅخه خلاصېږي، پرته د هغو چې په ۲،۱، ۴۲، ۴۳، ۴۴، ۴۵، ۴۷، ۴۸ او ۵۷ څخه تر ۶۱ بند پورې (په انحصاري ډول) (پرته د ۶۱.۶ بند څخه) کې راغلي او پر اساس یې له پای ته رسېدو ورسته د دوی مسولیتونه پر ځای پاتې کېږي؛ او

47.2.3 هر لوری کولای شي د بل لوري پر وړاندې د دغه امیتاز د ماتولو په صورت کې له خپلو حقوقو چې د تړون له پای ته رسولو مخکې یې درلودل، دفاع وکړي.

**48 د جواز د مودې د پوره کېدو، صرف نظر یا لغوه کولو پایلې**

**د کان سپړنې د فعالیتونو پای ته رسېدل**

48.1 د تړون لرونکی باید د جواز د نېټې په پوره کېدو سره د جواز په ساحه کې د کان سپړنې فعالیتونو پای ته و رسوي.

**د استازو لرې کول**

48.2 د امیتاز لرونکی باید، پرته د هغو کسانو چې د ۴۸.۳ او ۴۸.۶ بندونو پر بنسټ د تړون لرونکي مسولیتونه تر سره کوي، نور ټول استازي د جواز د نېټې په پای ته رسېدو سره د جواز له ساحې وباسي.

**د تجهیزاتو اوزېربنا لرې کول**

48.3 پرته له هغه اندازې چې د ۴۵.۵ بند پر اساس د تړون لرونکي د مسولیتونو لپاره اړینه ده،د تړون لرونکی به:

48.3.1 ټول هغه وسایل چې د تړون لرونکي یا د هغو د استازو په وسیله د جواز ساحې ته راوړل شوي، لرې کوي؛ او

48.3.2 د ۳۳.۶ بند څخه په پیروی، لغوه کول (که اړین وي) او د زېربنا لرې کول چې جواز په ساحه کې د تړون لرونکي یا د هغه د استازو په وسیله جوړه شوې،

په هر صورت به تر لاندې نېټو نه ځنډېږي:

48.3.3 د جواز دپای ته رسېدو نېټه،

48.3.4 که اړوند جواز د کانونو د قانون له مخې لغوه شوی و، دا نېټه به د لغوه کېدو له نېټې ۶۰ کاري ورځې وروسته وي.

48.4 که کوم تجهیرات یا زېربنا په هغه موده کې چې په ۴۸.۳ بند راغلې د جواز له ساحې لرې نه شي، د مودې په پای ته رسېدو سره یې ملکیت دولت ته انتقالیږي.

**د پاتې مسولیتونو ترسره کول**

48.5 د جواز د مودې په پوره کېدو، صرف نظر او یا لغوه کېدو سره، د تړون لرونکی به:

48.5.1 د جواز د نېټې له پای ته رسېدو وروسته څومره ژر چې شوني وي، تړون لرونکی به د جواز ساحه د وزارت د قناعت تر کچې خوندي کړي، تر څو د کوم شخص یا څاروي د زخمي کېدو او یا نورو ملکیتونو د تاوان د اوښتو مخنیوی وکړي،

48.5.2 د چاپېریال د مدیریت منل شوي پلان په پام کې نیولو سره تړون لرونکی باید خپل ځنډېدلي/ پاتې مسولیتونه ادا کړي (د شک د لرې کولو په موخه، هغه پاتې مسولیتونه چې تړون لرونکي یې د بیا رغونې او د کان د مخې د بندولو په برخه کې لري)؛

48.5.3 ټول اړین کامونه باید واخلي تر څو د اړوند قانون سره مطابقت وکړي؛ او

48.5.4 څومره ژر چې شوني وي، وزارت ته په لیکلې ډول د هغو مسولیتونو د اجرا په اړه لیکلی خبر ورکړي چې د ۴۸.۵.۱ تر ۴۸.۵.۳ بند (په هر اړخیز ډول) مطابق یې ترسره کړي.

**د جواز په پای ته رسېدو سره ساحې ته لاسرسی**

48.6 د ۴۸ بند سربېره، تړون لرونکی:

48.6.1 ممکن د جواز ساحې ته د هغه مودې لپاره د خپلو استازو او تجهیزاتو سر داخل شي چې په منطقي ډول د ۴۸.۵.۱ تر ۴۸.۵.۳ پورې د تړون لرونکي د مسولیتونو د پوره کولو لپاره اړین دي او ساحې ته د دغو تجهیزاتو وړل او له استازو سره داخل کېدل یوازې د مسولیتونو د ترسره کولو او چټکیا په موخه وي؛ او

48.6.2 او هره هغه لاربنونه چې ساحې ته د لاسرسي په اړه یې مقام خپروي، تړون لرونکي یې باید پیروي وکړي.

**د اجراء د تضمین او د چاپېریال د تضمین مستردول**

48.7 دولت باید باوري کړي چې وزارت به:

48.7.1 د تړون لرونکي په وسیله د ۴۸.۵.۴ بند مطابق د خبرتیا له تر لاسه کولو وروسته، وزارت باید د شونتیا تر کچې د جواز د ساحې معاینه ترسره کړي، تر څو د تړون لرونکي له خوا د معیارونو سره مطابقت او پر هغو ژمنو عمل تایید کړي چې د سپړنې په تایید شوي پروګرام، د کان سپړنې په تایید شوي پروپوزل کې (هر یو چې د اجرا وړ وي) او د چاپېریال دمدیریت په تایید شوي پلان کې شوي دي.

48.7.2 وزارت باید د شونتیا تر کچې د تړون لرونکي له خوا د معیارنو څخه پیروي او پر ژمنو باندې د عمل له تایید څخه وروسته چې په لاندې مواردو کې شوي، وزارت:

48.7.2.1 د سپړنې په تایید شوي پروګرام یا د کان سپړنې په تایید شوي پروپوزل کې (کوم چې د اجرا وړ وي) ژمنې، وزارت تړون لرونکي ته اړوند تضمین بېرته ورکوي؛ او

48.7.2.2 د چاپېریال د مدیریت په تایید شوي پروګرام کې د شویو ژمنو تر سره کول، وزارت تړون لرونکي ته چاپېریال تضمین بېرته ورکوي؛

48.7.2.3 د چاپېریال تضمین کیدای شي په بشپړ ډول یا په یوه برخه کې د وزارت په اختیار کې شي ترڅو د کان له تړلو وروسته د رواني څارنې لپاره امنیت چمتو کړي. که چیرې وزارت وغواړي چې د چاپېریال تضمین مقدار بدل کړي، نو کولی شي د مقرراتو له ۹۶ (۵) – (۸) مادې سره سم یې ترسره کړي.

**49 تجمعي حل‌لارې**

49.1 هغه حقوق او حللارې چې په دې برخه یعنې نهمه برخه کې یادې شوې، دهغو حللارو څخه برعلاوه وضع شوې چې په اړوند قانونو کې راغلي دي او د هغو پر ځای نه بلل کېږي (د کانونو قانون په لسمه برخه کې د تاکل شوو حقوقو او حل‌لارو په ګډون).

**لسمه برخه: فرعي تړون ورکول، معامله**

**50 فرعي تړون ورکول**

50.1 که تړون لرونکي د کان سپړنې د فعالیتونو په اړه د بل قراردادي سره معامله کوي، نو:

50.1.1 تړون لرونکي باید په فوري ډول وزارت ته په لیکلي ډول د قرارداد یاو د هغهو فعالیتونو جزیات ورکړي چې قراردادي یې تر سره کوي؛

50.1.2 د تړون لرونکي باید باوري کړي چې د کان کېندنې د هر فعالیت څخه تر مخه:

50.1.2.1 د اجرا کوونکي قراردادي له خوا تر سره کېږي، قراردادي باید د تړون لرونکي له اړخه په لیکلي ډول روښانه کړي چې د تولو هغو شرطونو پیروي کوي چې په دغه تړون کې راغلي او د قراردادي د سپړنې فعالیتونو لپاره د پلې کېدو وړ دي؛ او

50.1.2.2 چې د قراردادي د هر فرعي قراردادي وسیله اجرا کېږي، فرعي قراردادي باید د تړون لرونکي له اړخه په لیکلي ډول روښانه کړي چې د تولو هغو شرطونو پیروي کوي چې په دغه تړون کې راغلي او د فرعي قراردادي د سپړنې د فعالیتونو لپاره د پلې کېدو وړ دي؛

50.1.3 د ۵۰.۱.۲ بند له محدودلو پرته، د تړون لرونکي باید باروي کړي چې قراردادي او د قراردادي فرعي قراردادي، د کان سپړنې د فعالیتونو په برخه کې د هغو کسانو لپاره چې دغه فعالیتونه تر سره کوي د اړونده بیمې نیت لري او ساتي یې.

50.1.4 د تړون لرونکي باید باوري کړي چې، د قراردادي او بل هر فرعي قراردادي د کړنو څخه د تړون لرونکي نظارت او مدیریت کافي دی او:

50.1.4.1 تړون لرونکي ته د دې ورتیا ورکوي چې د دغه تړون له شرایطو سره د قراردادي یا فرعي قراردادي مطابقت وڅېړي؛ او

50.1.4.2 تړون لرونکي باخبر دئ چې د قراردادي او فرعي قراردادي کړنې ممکن تړون لرونکي د دغه امیتاز د شرطونو د ماتولو په خطر کې واچوي

50.2 د شک د لرې کولو لپاره:

50.2.1 په دغه تړون کې هېڅ شی د تړون لرونکي د دندې او مسولیت د سپک کېدو سبب نه شي کېدی، که څه هم د دغه مسولیت تر سره کول قراردادي او یا هم فرعي قراردادي ته سپارل شوي وي؛

50.2.2 د ۵۰.۲.۱ بند له محدودلو پرته، د ۵۰.۱.۳ بند مطابق د بیمې په ساتلو کې د قراردادي یا فرعي قراردادي پاتې راتلل، د دغه تړون په اساس د تړون لرونکي د دندې او مسولیت بار نه شي سپکولای (د شک د لرې کولو لپاره، په شمول د تړون لرونکي مسولیت چې د ۲۴.۱ بند مطابق باید بیمه وساتي،)؛ او

50.2.3 تړون لرونکی به د قراردادي او فرعي قراردادي د کړنو او غفلت مسول وي، که چېرته د قراردادي یا فرعي قراردادي کړنه یا غفلت د تړون لرونکي کړنه یا غفلت وي)

## 51 د مدیریت (کنترول) بدلون

**د اړتیا وړ منظوري**

51.1 پر ۲۶.۲ بند د محدودیت له وضع کولو پرته، تړون لرونکی مکلف دی چې په مدیریت کې تر بدلون راوستلو وړاندې د مقررې د ۳۳مې مادې له مخې د وزارت لیکلي منظوري واخلي.

**د هغو جواز څندول چې منظوری ته په تمه دی**

51.2 د تړون لرونکی دا منې چې د کانونو د قانون د ۳۸ (۲) مادې له مخې، که د تړون لرونکي په مدیریت کې د وزارت تر لیکلي منظورۍ وړاندې بدلون راشي، په دغه صورت کې د تړون لرونکي ټول جوازونه د بدلونو د پیل په موده کې ځنډول کېږي او د وزارت له لورې د غوښتنې په منظورۍ سره بیاخلې با اعتباره بلل کېږي.

**د وزارت له منظورۍ پرته د مدیریت (کنترول) بدلون**

51.3 که د تړون لرونکي د مدیریت بدلون:

51.3.1 د وزارت تر لیکلي منظورۍ وړاندې پېښ شي او بیا وزارت د تړون لرونکي غوښتنه د مدیریت د بدلون له مخې رد کړي؛

51.3.2 تر هغې نېټې وروسته وشي چې په هغو کې وزارت د بدلون غوښتنه رد کړې؛

په دغه صورت کې به تړون د ۴۶.۱.۹ بند له مخې فسخ کېږي.

## 52 د [حقوقو او مسؤلیتونو] پر لېږد وضع شوي محدودیتونه

**د دولت لهخوا لېږد**

52.1 دولت باید په دغه تړون کې خپل حقوق او مسؤلیتونه ونه لېږدوي، خو په هغه صورت کې چې له دې وړاندې یې په لیکلي توګه د تړون د لرونکي خوښه ترلاسه کړې وي.

**د تړون لرونکي لهخوا د [حقوقو او مسؤلیتونو] لېږد**

52.2 د تړون لرونکی کولای شي:

52.2.1 هر ډول خپل حقوق او مسؤلیتونه د تړون له مخې لېږدولای شي، خو په جواز یا د جواز په امتیازاتو پورې اړوند حقوق او مسؤلیتونه نهشي لېږدولای؛

52.2.2 یوازې په هغه صورت کې د جواز یا د جواز د امتیازاتو لېږد (د شک د له منځه وړلو په موخه چې باید د جواز امتیازات پکې شامل وي) چې:

52.2.2.1 د تړون خاوند د مقرري د ۳۲ مادې له مخې وړاندې په لیکلې ډول د وزارت رضایت لکه څرنګه چې د کانونو د قانون د ۳۹ مادې له مخې لازمي دی ترلاسه کړی وي.

52.2.2.2 د ۵۲.۳ او ۵۲.۵ بندونو د حکم له مخې که د جواز د امتیازونو د وړاندیز ترلاسه کوونکي په لومړي سر کې له دولت سره هوکړه کړې وي او د وزارت خوښه یې ترلاسه کړې وي او دا ژمنه یې کړې وي چې د دغه تړون له مخې تړون لرونکی مسؤلیتونه اجرا کوي او د تړون د لرونکي امتیازونه ترلاسه کوونکي ته لېږل کېږي او یا به د ترلاسه کوونکي نوم د تړون لرونکي د نامه پرځای ولیکل شي.

52.3 دولت په ۵۲.۲.۲.۲ بند کې د راغلي هوکړې پر ځای، له ترلاسه کوونکي غوښتلای شي چې د کان کیندنې په نوي تړون کې له نویو شرایطو او مقرراتو سره را ګډ شي چې د هغو د شرایطو او مقرراتو له مخې د دولت ګټې له پخوانې تړون سره برابرې وي.

52.4 د ۵۲.۲.۲.۲ بند له مخې د هوکړلیک په ترلاسه کولو او یا د ۵۲.۳ بند له مخې د کان کیندنې د تړون خایناستې کول (د موجودیت په صورت کې) د تړون لرونکي حقوق او مسؤلیتونه د دغه تړون له مخې، په هغو کچه چې د جواز د امتیازونو د لرونکي په ترلاسه کولو پورې اړه لري، خو د ترلاسه کوونکي او دولت ترمنځ د شوې هوکړې او تړون له مخې به (د موجودیت په صورت کې) ساقطیږي.

**د تضمین ګټه**

52.5 که تړون لرونکی د جواز د امتیازونو د لېږد وړاندیز وکړي (چې د شک د له منځه وړلو په موخه د جواز د امتیاز رامنځته کول هم پکې شامل دي) او هدف یې دا وي چې یوه شخص ته د ګروی یا د تضمین د بلې ګټې د ورکولو لپاره د فنډونو د خوندي کولو په موخه پر جواز کاني فعالیتونه وکړي، هغه هوکړه چې ۵۲.۲.۲.۲ بند یې غوښتنه لري کیدای شي د ترلاسه کوونکو په تاکلو یا د هماغه شخص لخوا د ګام په ګام حقونو په عملي کولو یا هم د هماغه شخص لخوا یا د هغه په استازیتوب له صلاحیت څخه په کار اخیستلو پورې اړه ولري، ترڅو جواز یا د جواز امتیاز ولېږدوي.

**یوولسمه برخه: عمومي حکمونه**

**53 دولتي تضمینونه**

**منظوری**

53.1 دولت باید د دغه تړون او نافذه قوانینو له مخې تر خپله وسه د دې ډاډ ورکړي چې وزارت او اړونده هره یوه اداره د پروژې د پرمختیا او عملي کولو او یا په دغه تړون کې به بل ډول د ټاکلو حقوقو د استفادې په موخه د لازمو تدارکاتو او تصدیقپاڼو اړوند، د تړون لرونکی لازمي مرستې عملي کوي.

**د دولت لهخوا د ممانعت او تبعیض نه کول**

53.2 په دغه تړون کې د ټاکل شوو شرایطو او مقرراتو په رعایتولو پورې اړوند، دولت باید هغه اقدامات ونهکړي چې پر لاندې مواردو اغېز وکړي:

53.2.1 د تړون لرونکي هغه وړتیا چې له مخې یې ور وسایل او کاروبار تنظیمولی شي؛

53.2.2 په افغانستان کې د ننه د تړون د لرونکي د استازو ازاد تګ او راتګ.

53.3 د ۵۳.۴ بند له مخې، دولت باید په اړوندو قوانینو کې داسې څه رانه وړي چې یوازې پر تړون لرونکي یا هم د تړون په نورو لورو مادي، مالي یا هم بل ډول محدودیت ولګوي. که څه هم دغه قانون په مشخص ډول تړون لرونکي یا یې هم اړوند لوري د خپلې موخې په توګه مشخص کړي.

53.4 د ۵۳.۴ بند پر هغو قوانینو چې په معقول ډول د لاندې موخو د ترلاسه کولو په لټه کې وي، نه پلې کېږي:

53.4.1 د دولت او یا د وګړو د خوندیتوب، روغتیا، هوساینې او امنیت ساتنه؛

53.4.2 د دولت د نړیوالو مسؤلیتونو اجرا کول.

**بهرنې وګړي**

53.5 په ۳۱ بند کې د راغلو شرایطو او د سیمه‌ییزې ګټې د منل شوي پلان په رعایتولو، د تړون لرونکی د نافذه قوانینو له مخې د اړتیا پر مهال او یا د کان کیندنې د فعالیتونو د اسانولو لپاره، بهرنې وګړي ګومارلی او یا یې په بل ډول په فعالیتونو کې را ګډولای شي.

53.6 پر ۵۳.۱ یا ۵۳.۲ بندونو د محدودیت په نه وضع کولو سره دولت باید د تړون د څښتن لەخوا د ګومارل شوو بهرنیو وګړو یا هغو بهرنیو کسانو جواز چې په یو ډول د کان په فعالیتونو کې را ګډ شوي صادر کړي ترڅو:

53.6.1 افغانستان ته راشي، کار وکړي او استوګنه وکړي؛ او

53.6.2 په ازاد ډول له افغانستانه ووځي؛

خو په دې شرط چې یاد کسان قانون رعایت کړي.

**د تړون لرونکي د شتمنیو د مالکیت سلبول**

53.7 دولت باید د تړون لرونکي شتمنې په جبري توګه په لاندې مواردو کې سلب نه‌کړي.

53.7.1 په کان کیندنې پورې د اړوندو فعالیتونو د اجرا کولو پر مهال هر ډول استخراجي مواد او د تړون د څښتن لەخوا تولید شوي تولیدات؛

53.7.2 د تړون لرونکي کس نور نا منقول یا شخصي مالونه (د ګونګتیا د رفع لپاره، هغه څمکه چې د تړون د لرونکي په مالکیت کې وي)

خو په هغو مواردو کې چې د استملاک قانون، د خصوصي پانګونې قانون یا بل قانون اجازه ورکړي.

53.8 که دولت و غواړي هر ډول معدني توکي، محصول یا د تړون د لرونکي نورې شتمنۍ د ۵۳.۷ بند له مخې په جبري توګه استملاک کړي، لازمه ده چې د تړون لرونکی ډېر زر په عادلانه، مناسب او اغېزناک ډول د قانون له مخې د خسارې جبران ترلاسه کړي.

**د تړون لرونکي په ګټه د څمکې استملاک**

53.9 که د کانونو د قانون ۷۱ (۱) (۱) ماده پلې شي، دولت باید داډ ورکړي چې وزارت ډېر زر د اقتصاد د عالي شورا د تایید په موخه غوښتنه جوړوي ترڅو د نورو کسانو تر مالکیت یا مدیریت لاندې هر ډول څمکه په جبري توګه استملاک شي. په هغه صورت کې چې لاندې موارد په لومړي ځل پېښ شي:

53.9.1 هغه نېټه چې ۹۰ کاري ورځې وروسته تر هغې نېټې چې په هغو کې د تړون لرونکي، د یادې څمکې د څښتن یا اوسېدونکي د رضایت ترلاسه کولو لپاره، د کانونو د قانون په ۷۱ (۱) (۱) ماده کې د راغلو شرایطو له مخې د لومړي ځل لپاره مکتوب لېږلی دی.

53.9.2 هغه نېټه چې په هغو کې د تړون لرونکي د خپل صادر شوي مکتوب په ځواب کې چې د کانونو د قانون د ۷۱ (۱) (۱) مادې له مخې د څمکې د څښتن یا اوسېدونکي لەخوا منفي ځواب ترلاسه کړی وي؛

په دواړو حالتونو کې،که د تړون لرونکی غواړي په لیکلي ډول وزارت ته خبر ورکړي، لاندې موارد باید له هغو سره ضمیمه شي:

53.9.3 د تړون په لرونکي او په یاد څښتن یا اوسېدونکي پورې د اړوندو ټولو مکتوبونو کاپي؛ او

53.9.4 په جبري توګه د څمکې د استملاک په موخه د وزارت لەخوا د غوښتنې د جوړولو غوښتنه او د اقتصاد د عالي شورا لەخوا د هغو تایید.

53.10 په هغه صورت کې چې د اقتصاد عالي شورا د کانونو د قانون د ۷۱ (۱) (۱) مادې له مخې د هرې څمکې اجباري استملاک تصویبوي، وزارت باید معقولې هڅې وکاروي ترڅو دا ډاډ ترلاسه کړي چې د بیا میشتېدنې

د پروژې د پلي کولو پلان د استملاک له قانون سره سم او او د IFC د فعالیت له معیارونو-۵ (د ځمکې استملاک او غیر اختیاري بیا میشتیدنه ۲۰۱۲) د اهدافو په پام کې نیولو سره مطابق د بیا میشتیدنې د کمېټې لخوا چمتو شوی دی.

53.11 د تړون لرونکی دا تصدیقوي که د اقتصاد د عالي شورا لهخوا په جبري ډول ځمکه استملاک شي، د کانونو د قانون د ۷۱ (۱) مادې له مخې:

53.11.1 د استملاک د قانون له مخې د خسارې جبران (د معادلې ځمکې د ورکړې په شمول) د ځمکې د استملاک د ادارې لهخوا د ورکړې وړ دی؛

53.11.2 د کانونو د قانون پر ۷۱ (۱) (۱) مادې او د مقررو پر ۹۳ مادې سربېره، که د خسارې جبران د استملاک د قانون له مخې د استملاک د ادارې لهخوا د ورکړې وړ وي، په دغه صورت کې د تړون لرونکی مکلف دی چې د استملاک د ادارې تر غوښتنې وروسته د ۲۰ کاري ورځو په موده کې، دغې ادارې ته د هغو معادل ورکړي.

**مالي چارې**

53.12 پر ۵۳.۱ بند د محدودیت له نه وضع کولو پرته، دولت باید داډ حاصل کړي چې وزارت له تړون لرونکي سره همکاري کوي او لکه څنګه چې د کان کیندنې په وړاندیز کې راغلي، د تړون لرونکي له خوا د پیسو راټولولو په تړاو د فنډونو په برخه کې مناسبه مرسته چمتو کوي، چې په لاندې طریقو سره شوني ده:

53.12.1 که د تړون لرونکي نافذ قوانین رعایت کړي وي، د تړون د څښتن غوښتنې د اړتیا وړ مالي تصدیقپانو د اخیستو په موخه څېړل کېږي او دغه تصدیقپاڼې هغه ته ورکول کېږي (د هرې هغې تاییدۍ په ګډون چې د کانونو د قانون د ۳۹ (۱) مادې او د خدماتو وړاندې کوونکې دریم لورې په ګټه د جواز د ګټې د انتقال او اخیستو د اړوندې مقررې د ۳۲ مادې له مخې چمتو کېږي)؛ او

53.12.2 له دلیل پرته دا ډول غوښتنې دې ونه ځنډول شي؛

53.13 د شک د له منځه وړلو په موخه، دولت د پروژې د مالي تمویل لپاره د مالي سرچینو، باورونو، د ضمانت صادرولو یا په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د نورو مسؤلیتونو پر چمتو کولو مکلف نه دی.

**54 د تړون بیا کتنه او بدلون**

**د تړون بیا کتنه**

54.1 دواړه لورې پر دې هوکړه لري چې په لوړه کچه د کان ایستنې د پروژې تدارک او پیلول، اوږد مهالو پروسو ته اړتیا لري او په پروژې پورې اړوند ټول حالات او اړتیاوې په بشپړ ډول په دغه تړون او د هغو د انفاذ په نېټه کې شوني نه دي.

54.2 دواړه لورې ملکف دي:

54.2.1 تړون لرونکي ته د ګټې اخیستنې جواز د ورکړې په صورت کې؛

54.2.2 په ۵۶.۱۰ بند کې د ټاکل شوې مودې د تېرېدو په صورت کې؛

54.2.3 په بل هر وخت کې د یوه لورې د غوښتنې په صورت کې، دا ډول غوښتنه له لاندې نېټو وروسته له پنځو کلونو په کمه موده کې نه وي (مګر دا چې دواړه لورې بل ډول هوکړه وکړي):

54.2.3.1 د انفاذ نېټه؛ یا

54.2.3.2 له ۵۴.۲ بند سره سم تر ټولو وروستې ترسره شوې بیاکتنه،

په ښه نیت سره خبرو اترو کې داخل شي او په دغه تړون کې د اړینو بدلونونو په راوړلو سره هوکړه وکړي چې په لاندې ډول دي:

54.2.4 د پروژې د ځانګړو تخنیکي او عملیاتي مسایلو انعکاس چې په دغه تړون کې په کافي توګه نهدي ښودل شوي؛

54.2.5 که ۵۶.۱۰ بند د پلې کېدو وړ وي، هغه لاملونه چې له کنټروله وتلو حالتونو په پایله کې بدل شوي، بیان کړي.

**د تړون بدلون**

54.3 په دغه تړون کې به هېڅ ډول بدلونونه د اجرا وړ نه وي، مګر دا چې هغه بدلون:

54.3.1 په لیکلي ډول وي او د تړون دواړو لورو لاسلیک کړی وي؛

54.3.2 که مقرراتو وړاندوینه کړې وي، د اقتصاد عالي شورا (د کانونو ایستلو د تخنیکي کمېټې تر وړاندیز وروسته) هم هغه تاییدوي.

**55 دوامداره کېدل (ثبات)**

**ثبات**

55.1 په هغه صورت کې چې:

55.1.1 د انفاذ له نېټې وروسته په هر وخت کې:

55.1.1.1 هر ډول نوي مالیات، عوارض یا په افغانستان کې نور لګښتونه دې یوازې د کاني فعالیتونو په برخه کې معرفي شي؛ یا

55.1.1.2 د مالیاتو په شمول دې په نافذ قانون کې بدلونونه راشي (یا دې ذ قانون په تفسیر کې بدلون راشي)؛

چې د تبعیض یا د تبعیض پایله د تړون لرونکي پر خلاف وي؛ او

55.1.2 په ۵۵.۱.۱.۱ یا ۵۵.۱.۱۲ بندونو کې د راغلو حالتونو له مخې تړون لرونکی د تړون یا معدني فعالیتونو په تر لاسه شوو ګټو منفي اغېز پرېوځي.

د تړون لرونکی د مکتوب له لارې دولت ته خبر ورکولای شي، په دغه مکتوب کې باید د اړوندو لاملونو جزئیات او له هغو څخه را پیداکېدونکي منفي اغېزونه د تړون لرونکي پر وړاندې شامل وي.

55.2 که تړون لرونکی د ۵۵.۱ بند له مخې دولت ته مکتوب ولېږي، پر ۵۴.۳ فقرې د محدودیت له وضع کولو پرته، دولت سمدلاسه ګډې هڅې کوي ترڅو دغه تړون ته د دا ډول تعدیلاتو د راوستلو په اړه هوکړه وکړي، لکه څرنګه چې دغه هڅې د تړون د لرونکي د هغو اقتصادي ګټو د بیا راګرځېدو لپاره اړینې دي چې د کان ایستلو له فعالیتونو څخه تر لاسه کېږي. هڅه به وشي چې تړون له نویو مالیاتو، عوارضو او یا په نافذ قانون (یا یې تفسیر) کې د راغلو لګښتونو یا بدلونونو څخه معاف شي.

55.3 که د تړون لوري په هغو شپږو میاشتو کې دننه هوکړې ته په رسېدو کې پاتې راځي چې د ۵۵.۱ بند له مخې دولت ته د تړون لرونکی باید خبر ورکړي، نو بیا:

55.3.1 د منفي اغېزو لپاره د تړون لرونکي یوازینی او ځانګړې چاره یا علاج چې په ۵۵.۱.۲ فقره کې ورته اشاره شوې، هغه مقدار خساره ده چې د دغو منفي اغېزو لپاره تړون لرونکي ته د خسارې د جبران کولو لپاره کافي وي، دا به تړون لرونکي ته له ۵۵.۳.۳ بند سره مطابق ورکول کېږي؛

55.3.2 هر اړخ کولی شي د خسارې د مقدار یا د هغه میکانیزم د ټاکلو لپاره چې د خسارې اندازه پرې محاسبه کیږي، له ۵۷ بند سره سم منځګړي ته مراجعه وکړي ؛ او

55.3.3 دولت باید داډ حاصل کړي چې وزارت تړون لرونکي ته د خسارې اندازه چې د ۵۵.۳.۲ بند له مخې ټاکل شوې، له دغه تړون سره سم د تړون لرونکي له لوري ورکړل شوي امتیاز حق د تادیاتو له عایداتو څخه ورکوي.

**استثنائات**

55.4 د شک د رفع کولو لپاره:

55.4.1 له ۵۵.۱ څخه تر ۵۵.۳ پورې بندونه (په هراړخیز ډول) پر لاندې مواردو نه تطبیقېږي:

55.4.1.1 هر ډول مالیې، تادیات او یا نور فیسونه چې عمومیت لري او په مشخص ډول موخه معدني فعالیتونه نه وي او یا داسې فعالیتونه نه وي چې د تړون لرونکي پر وړاندې تبعیض کوي او یا هم پر هغه تبعیض ډوله اغېز لري؛ یا

55.4.1.2 له اړوند قانون سره سم د ساختماني توکو لپاره د سطحې کرایه، فیس یا د امتیاز حق هرډول زیاتوالی، چې دا زیاتوالی په افغانستان کې د انفلاسیون د کچې په کارولو سره پلې کیږي؛ او

55.4.2 په ۵۵ بند کې هېڅ داسې څیز د هغه نافذ قانون د محدودیت یا هم د بشپړ پلې کېدو پر وړاندې د خنډ لامل نه‌شي کېدای چې د تړون لرونکي پر وړاندې تبعیض نه کوي او نه هم پر هغه تبعیض ډوله اغېز لري.

**د پلې کېدو وړ قانون په نسبت د بدلون ګټې**

55.5 پر ۵۵.۱ څخه تر ۵۵.۳ (په مجموع کې) بندونو پورې له محدودیت وضع کولو پرته، تړون لرونکی په قانون کې د لاندې هر ډول بدلونونو له ګټو څخه د برخمن کېدو مستحق دی.

## 56 نه کنټرولېدونکې پېښه

**نه کنټرولېدونکې پېښه**

56.1 د ۵۶.۲ بند له مخې د دغه بند (۵۶ بند) د ګټې پر اساس **نه کنټرولېدونکې پېښه** د هرې هغې پېښې او یا حالت په معنا ده او یا د دې دواړو ترکیب دی چې:

56.1.1 له منطقي نظره د وړاندوېینې وړ نه وي؛

56.1.2 له منطقي نظره د زیانمن لوري د کنټرول له ساحې لوړه وي؛

56.1.3 د دغه تړون مطابق د زیانمن لوري د کړنچارې د درېدو یا خنډ لامل شي (له مالي مسؤلیتونو پرته)؛ او

56.1.4 دا تمه نه کېده چې زیانمن لوری په کاري دود کې د رایجو فعالیتونو په اجرا کولو د هغو مخنیوی وکړي او یا هغه تر کنټرول لاندې راولي؛

او په هغه کچه کې چې له ۵۶.۱۱ تر ۵۶.۱۴ (په مجموعي توګه) بندونو پورې د ټاکل شوو شرایطو له مخې وي، لاندې موارد شامل دي:

56.1.5 جګړه، سرغړونه، مدني سرغړونې او ترهګریزې کړنې.

56.1.6 د لارو بندول، ممنوعیت، اعتصاب او یا نورې کارګري شخړې چې په ملي یا د اړوند صنعت په برخه کې پېښې شوې دي چې په زیانمن یا په زیانمن لوري یا د زیانمن لوري په نورو اړوندو لورو پورې نه دي مشخص؛

56.1.7 ساري ناروغي یا قرنطین؛ او

56.1.8 زلزله، طوفان، سېل، اور لېګېدنه، شارټې او یا د اوبو او هوا ناوړه وضعیت.

56.2 د ۵۶.۱ بند پر خلاف، لاندې پېښې یا حالتونه د ۵۶ بند د موخې لپاره، تر کنټرول وتلې پېښه نه ګڼل کېږي:

56.2.1 اقتصادي ستونزې یا د بازار د اوضاع بدلون؛

56.2.2 هغه پېښې چې د تړون له مخې د اغېزمنو لورو د دندو اجرا ستونزمنه خو ناشونې کوي نه؛

56.2.3 جګړې، ګډوډی، مدني سرغړونې او ترهګریزې کړنې، مګر دا چې:

56.2.3.1 په مستقیم ډول د جواز سیمه اغېزمنه کړي یا په مادي توګه د کان کیندنې د وړاندیز پلې کول ګډوډ کړي یا یې مخه ونیسي؛

56.2.3.2 په پورتنې ۵۶.۲.۳ بند کې مشخص شوی اړوند حالت مادي خرابوالی رامنځته کړي او د انفاذ د نېټې په څېر شرایطو سره تړاو ولري؛ او

56.2.3.3 تړون لرونکی د کورنۍ امنیت له پلان سره موافق وي؛

56.2.4 د نا چاودېدونکو توکو د شتون په شمول د جواز په سیمه کې شته شرایط؛

56.2.5 د جواز په سیمه کې تر معمولي کچې ډېر د ژمي اورېدل؛

56.2.6 نورې هغه پېښې چې د پېښېدو پر مهال په مستقیم ډول په ۵۶.۱ بند کې د نه کنترول وړ پېښو له تعریف سره ورته والی ونه‌لري.

**د نه کنترول وړ پېښې اغېزې**

56.3 د ۵۶.۴ بند له مخې په هغه صورت کې چې د نه کنترول وړ پېښې له امله د تړون لرونکی یا دولت (**اغېزمن لوری**) د دغه تړون له مخې د ځینو یا ټولو مسؤلیتونو د اجرا مخه ونیول شي یا و ځنډول شي په دغه حالت کې:

56.3.1 په اغېزمن لوري پورې اړوند مسؤلیتونه (د پیسو د ورکړې له مسؤلیت پرته)؛ او

56.3.2 د مقابل لوري هغه مسؤلیتونه چې د اغېزمن لوري د مکلفیتونو په اجرا کولو پورې اړوند وي،

له هغه وخته چې نه کنترولېدونکې پېښه د هغو له پای ته رسېدو مخنیوی وکړي، د پېښې د پای ته رسېدو موده د ۵۶.۹ بند له مخې ځنډول کېږي.

**د نه کنترولېدونکې پېښې اعلامیه (مکتوب)**

56.4 په هغه صورت کې چې اغېزمن لوری د نه کنترولېدونکې پېښې د پېښېدو ادعا ولري، نو باید:

56.4.1 سمدلاسه د تړون بل لوري ته د هغې پېښې یا شرایطو یا دواړو په اړه خبر ورکړي، او د نه کنترولېدونکې پېښې له پېښېدو وروسته د ۱۰ کاري ورځو په موده کې له هغه څه چې اغېزمن لوری د لومړي ځل لپاره د دا ډول حالت له پېښېدو خبر شي، د پېښې یا حالت د مشخصاتو سره یوځای دې خبر ورکړي؛

56.4.2 سمدلاسه د نه کنترولېدونکې پېښې د اغېزونو د مخنیوي او لرې کولو د لارو چارو په اړه د تړون بل لوري ته خبر ورکړي؛

56.4.3 د ۵۶.۵ بند مفهوم رعایت کړي، ان په هغه صورت کې چې د ۵۶.۴ بند د دې لامل شي ترڅو اغېزمن لوری د ۵۶.۴ بند له مخې اعلامیه صادره نه‌شي کړای.

56.4.4 د خپلو هغو مسؤلیتونو اجرا کولو ته ادامه ورکړي چې د نه کنترولېدونکې پېښې له امله نه دي اغېزمن شوي؛ او

56.4.5 په ممکن فرصت کې، د دغه تړون له مخې دې ټول ژمنې عملي کړي.

**د اغېزونو د راکمولو مسؤلیت**

56.5 اغېزمن لوری باید د نه کنترولېدونکې پېښې د پایلو د را کمولو او د دغه تړون له مخې د ورسپارل شوو مسؤلیتونو په اجرا کولو کې د راغلو ځنډونو د راکمولو لپاره باید خپله ټوله هڅه وکړي.

**د حل په موخه نه مسؤلیت**

56.6 په ۵۶.۵ بند کې د شاملو دندو په شمول د دغه تړون له مخې د اغېزمن لوري پر دندو د محدودیت له وضع کولو پرته، اغېزمن لوری د لارې ترل کېدو، ممنوعیت، اعتصاب یا نورو کارګري شخړو پر حل کولو اړ نه دی، البته که اغېزمن لوری یې د خپل مصلحت له مخې هغه نامناسب ګڼي.

56.7 پر هغو پېښو د اغېزمن لوري نه بریالی کېدل به، چې په ۵۶.۶ بند کې اشاره ورته وشوه، داسې چاره نه بلل کېږي چې کواکې د اغېزمن لوري په کنترول کې وه او یا دا چې د نه کنترولېدونکې پېښې له رامنځته کېدو څخه یې، لکه څرنګه چې د ۵۶.۱ بند په مفهوم کې تعریف شوه، مخنیوی کولی شوای یا یې کنترولولی شوای.

لګښت

56.8 له ۵۶ بند سره د هر ډول حکم د مغایرت پر خلاف، د نه کنټرولېدونکي پېښې د پایلو د راکمولو یا پر هغو د برلاسي لپاره په هڅه کې، اغېزمن لوری به اړ نه وي چې د اړوند کار ترسره کولو لپاره له مناسبو پیسو څخه ډېرې پیسې مصرف کړي. که څه هم، د اغېزمن لوري خانګړو مالي شرایطو ته به پام ونه شي.

د نه کنټرولېدونکي پېښې پای

56.9 نه کنټرولېدونکي پېښه به پای ته رسېږي (او له ۵۶ بند سره سم د دواړو لورو ځنډول شوي مسؤلیتونه په بشپړ ډول بېرته پیلېږي) چې پیل یې:

56.9.1 هغه وخت بلل کېږي چې مقابل لوری د اغېزمن لوري مکتوب ترلاسه کړي او د دغه تړون له مخې (چې دغه مکتوب باید په ترتولو لنډه شوني موده کې صادر شي) د خپلو ټولو مسؤلیتونو د بیا خلې پیلولو ورتیا اعلان کړي؛ او

56.9.2 هغه وخت چې اغېزمن لوری د دغه تړون له مخې د خپلو ژمنو اجرا کول له سره پیل کړي.

د نه کنټرولېدونکي پېښې د دوام له امله د تړون فسخ کول

56.10 که د نه کنټرولېدونکي پېښه تر پرلپسې شپږو میاشتو دېره شي، په دغه صورت کې:

56.10.1 دواړه لوري باید په ښه نیت، د ۵۴.۲ بند د مفهوم له مخې په دغه تړون کې د اړینو بدلونونو د راوستلو په اړه د هوکړې لپاره، خبرې پیل کړي؛

56.10.2 په هغه صورت کې چې:

56.10.2.1 که دواړه لوري د ۵۴.۲ بند له مخې د دغه تړون د بدلون په اړه د ۵۶.۴.۱ بند له مخې د نه کنټرولېدونکي پېښې د پیل په اړه مقابل لوري ته د اغېزمن لوري د مکتوب د لېږلو د نېټې وروسته د ۱۲ میاشتو په موده کې، هوکړې ته ونه رسېږي؛ یا

56.10.2.2 د ۵۴.۲ بند له مخې دواړه لوري په دغه تړون کې د څو مواردو د بدلون په اړه په ۵۶.۱۰.۲.۱ بند کې په ټاکل شوې موده کې هوکړې ته ورسېږي، خو د ۵۴.۳ بند له مخې راغلي بدلونونه د هغو د پای ته رسېدو له نېټې وروسته شپږ میاشتې عملي نهشي.

په دغه صورت کې له ۵۶.۱۱ بند سره سم، دولت له سملاسي انفاذ سره مقابل لوري ته د یوه مکتوب له لارې دغه تړون فسخ کولای شي.

56.11 د ۵۶.۱۰ بند له مخې د دولت له لوري د دغه تړون د فسخ کولو په صورت کې، د ۴۷ بند مفهوم پلی کېږي.

57 د اختلافونو حل

د پانګونې د شخړو د حلولو نړیوال مرکز (ICSID)

57.1 د ۵۷.۲ بند له مخې، که په دغه تړون کې هر ډول اختلاف او یا شخړه پارونکي ادعا رامنځته کېدل چې د یوه لوري لهخوا متقابل لوري ته د رسمي اعلامیې له صادرېدو ۶۰ کاري ورځې وروسته هم د دواړو لورو په هوکړې د حل وړ نه وي، د پانګونې د شخړو د حلولو د کنوانسیون (ICSID کنوانسیون) له مخې، چې د ۱۹۶۵ کال د مارچ په ۱۸مه د غړو هېوادونو ترمنځ لاسلیک شوی، باید د پانګونې د شخړو د حلولو نړیوال مرکز ته ولېږل.

57.2 د شک د لرې کولو په موخه، د ICSID د کنوانیسیون د ۲۵ (۱) مادې له مخې د پانګونې د اختلافونو د حل نړیوال مرکز ته په دغه تړون کې د راغلي هر ډول اختلاف د لېږلو په موخه دولت خپل رضایت وراندې کوي.

57.3 د ICSID د کنوانسیون د ۲۵ (۲) (ب) مادې د مفهوم له مخې، د تړون لرونکی باید د یوه بل هېواد وګړی وي نه د یاد دولت.

57.4 پرېکړه کوونکي کسان هم باید درې تنه وي.

57.5 منځګړیتوب باید په انګلیسي ژبه جوړ شي.

57.6 د منځګړیتوب حکم کېدای شي د پیسو ورکړه، د یوه کار کول یا د یوه کار پرېښودل وي یا هم د دغو ټولو ترکیب وي.

57.7 د منځګړیتوب ځای د انګلستان د لندن ښار دی.

57.8 صادرېدونکی حکم باید وروستی او جامع وي.

57.9 د صادرېدونکي حکم په اړه قضاوت په باصلاحیته محکمو کې کېږي او یا د پلي کولو د حکم د صادرولو او قضایي تایید لپاره هم محکمې ته غوښتنه ورکول کېدای شي.

57.10 له ۶۱.۷ بند سره سره، د تړون دواړه لوري په ۵۷مه فقره کې د منځګړیتوب لپاره د موافقتنامې پلي کولو د محدود هدف لپاره د انګلستان او ویلز محکمو صلاحیت ته وړاندې کوي.

57.11 د تړون لرونکی او دولت دواړه باید دغه تړون تر هغې کچې چې د اجرا وړ دی، د اختلاف د ځنډ په جریان کې هم عملي کړي.

**د ملګرو ملتونو د نړیوالې سوداګرۍ د حقونو د کمیسیون (UNCITRAL) منځګړیتوب**

57.12 که چېرې یو اړخ ونشي کړای چې ICSID ته له ۵۷.۱ سره سم د منځګړیتوب لپاره شخړه وسپاري یا ICSID د دې ډول منځګړیتوب له اورېدلو څخه انکار وکړي، نو:

57.12.1 دا شخړه باید د ملګرو ملتونو د نړیوالې سوداګرۍ د حقونو د کمیسیون (UNCITRAL) د منځګړیتوب له قواعدو سره سم هواره شي؛ او

57.12.2 د ۵۷.۴ تر ۵۷.۱۱ پورې بندونه به (په تولیزه توګه) پلي کېږي.

**قضایي دفاعیه**

57.13 دواړه لوري دلته دا ژمنه کوي چې د دغه تړون په واسطه ژمنه شوې پانګونه د ICSID د کنوانسیون د مفهوم له مخې د پانګونې ښکارندویي کوي او دولت دا مني چې په دغه تړون کې یې حقوق او مسؤلیتونه سوداګریز دي او له دولتي یا حکومتي ماهیت څخه نه دي.

57.14 د ۵۷ بند د مفهوم له مخې:

57.14.1 **تر پوښښ لاندې کس** د دولت یا د دولتي ادارو په معنا دی؛ او

57.14.2 **سوداګریز مالونه** د پوښښ لاندې شخص د هغه ډول مالونو په معنا دي چې:

57.14.2.1 د سوداګریزو موخو لپاره پانګه شوي وي؛ یا

57.14.2.2 د سوداګریزو فعالیتونو لپاره کارېږي؛

او په مشخص ډول لاندې مالونه پکې شامل نه دي:

57.14.2.3 له هېواده بهر دیپلوماتیکې شتمنۍ او یا ماموریتونه

57.14.2.4 هغه مالونه چې په پوځي فعالیتونو کې لګول کېږي او یا پوځي ځانګړنې لري او د هېواد د امنیتي او دفاعي ادارو تر کنترول لاندې دي

57.14.2.5 د مرکزي بانک شتمنۍ د هغو حسابونو په ګډون چې د نورو ادارو د مالي تمویل لپاره ځانګړي شوي دي؛ او یا

57.14.2.6 الوتکه او د هغې اړوند نور ټول تجهیزات چې په پرلهپسې ډول د دولت د رسمي سفرونو لپاره کارېږي.

57.15 تر پوښښ لاندې شخص باید د قضایي دعوې د مخنیوي لپاره د دولت موقف یا ځواک ونهکاروي چې له دغه تړون سره سم پیل شوی دی، د لنډمهالې مرستې غوښتنه او یا بل هر اقدام چې د محکمې د حکم پلي کېدو لامل کېږي هم په هغه کې شامل دی.

Ahmad Nabizada LTD
Import - Export
Kandahar

57.16 تول هغه مالونه چې په ۵۷.۱۳ فقره کې د یادو شوو اقداماتو موضوع وګرځي، د محکمې د حکم د اجرا او پلې کولو لپاره د کارېدونکو مالونو په ګډون، باید د پوښښ لاندې شخص تر سوداګریزو شتمنیو پورې محدود شي.

## 58 محرمانه معلومات

**دولتي اسناد**

58.1 تړون لرونکی تصدیقوي چې د کانونو له قانون سره سم:

58.1.1 د اوسني تړون یوه نسخه او د تړون لرونکو همګتو مالکانو معلومات به، د دغه قانون تر لاسلیک ۱۰ کاري ورځې وروسته خپاره شي؛

58.1.2 د جواز یوه نسخه او د جواز لرونکو همګتو مالکانو معلومات هم د جواز له ورکولو ۱۰ کاري ورځې وروسته د وزارت له لوري خپرېږي؛

58.1.3 وزارت مکلف دی چې له اړوندو مقررو سره سم، ثبت شوي معلومات خوندي او وساتي او په همدې موخه پالیسي جوړه کړي؛

58.1.4 پر نورو موضوعاتو سربېره، د اوسني تړون په اړه معلوماتو کې ثبت شوي محتویات هم، همغسې چې په مقررو کې تعریف شوي، شامل دي

58.1.5 له دغه تړون سره اړوند مشخصو اسنادو کاپي به (د تایید شوو پلانونو په شمول) له تاکل شوو مقررو سره سم د ټولو خلکو د لاسرسي وړ ګرځي؛ او

58.1.6 هېڅ کوم سند به هم په هغه سند کې د ځینو محرمانه معلوماتو د شتون له کبله له خپرولو نه پاتې کېږي.

**د محرمانه معلوماتو استفاده او افشا کول**

58.2 د ۵۸.۴ مادې د مفهوم له مخې، ترلاسه کوونکی لوری باید محرمانه معلومات د کوم دریم کس په واک کې ور نه کړي، همدا راز له محرمانه معلوماتو څخه په هېڅ ډول استفاده نه شي کولی، مګر دا چې له دغه تړون یا نافذه قانون سره سم له خپلو حقونو څخه د ګټې اخیستنې او یا خپلو مسؤلیتونو پرځای کولو لپاره وکارول شي.

58.3 ترلاسه کوونکی لوری باید داډ ورکړي چې هر استازی یې چې د ۵۸ بند د محتوا له مخې محرمانه معلومات د هغوی په واک کې ورکول کېږي، د یاد شوي بند محتوا به مراعاتوي.

58.4 د ۵۸.۲ مادې له مخې، ترلاسه کوونکو لوری په لاندې مواردو کې له محرمانه معلوماتو ګټه اخیستلای او یا یې افشا کولای شي:

58.4.1 د ۵۸.۵ مادې له مخې، ترلاسه کوونکی لوري به د معلوماتو د افشا کوونکي اداري مخکې له مخکې رضایت ترلاسه کړی وي (دا رضایت په غیرمنطقي او مشروط ډول نه وي ترلاسه شوی او ځندول شوی هم نه وي)؛

58.4.2 د معلوماتو افشاء کول به د ترلاسه کوونکي لوري استازي ته وي چې موخه یې له دغه تړون یا نافذه قانون سره سم د ترلاسه کوونکي لوري له حقونو استفاده یا ترلاسه کوونکي لوري مسؤلیت پر ځای کول وي.

58.4.3 د کانونو قانون او نافذه مقررې او یا قوانین یې افشاء کول لازم وبولي.

58.4.4 معلومات د مالي مسؤلینو او یا د ښه نیت له مخې د ترلاسه کوونکي لوري د مالي مسؤلینو او یا هم له ترلاسه کوونکي لوري سره اړوند کوم دریم کس په واک کې ورکړل شوي وي او هغه کس هم هوکړه کړې وي چې د ۵۸ بند محتوا به مراعاتوي؛ او یا

Ahmad Nabizada LTD
Import - Export
Kandahar Afghanistan

58.4.5 افشاء د پیرودونکي لپاره او په دغه تړون یا ورکړل شوي جواز کې د ترلاسه کوونکي لوري له حقوقو او ګټو سره په ښه نیت سره شوي وي او د معلوماتو ترلاسه کوونکی کس به هم د 58 بند د محتوا له رعایت کولو سره هوکړه کوي.

**فرضي رضایت**

58.5 په هغه صورت کې چې تړون لرونکی د دولت له لوري د رضایت نامې د مکتوب له ترلاسه کولو وروسته تر پنځو کاري ورځو پورې په لیکلې بڼه، د ۵۸.۴.۱ فقرې له محتوا سره سم خپل څرګند مخالفت اعلان نه کړي، په دې صورت کې به د محرمانه معلوماتو د افشاء او استفادې پرښنسټ د قرارداد لرونکي رضایت بلل کېږي. البته په هغو حدودو کې چې د دولت له لوري د معلوماتو افشاء د خلکو د روغتیا، خوندیتابه او امنیت ساتنې لپاره په بېړنیو حالاتو کې اړین وبلل شي

**59 ضمانت (ګرنټي)**

**ګرنټي**

59.1 د دولت او تړون لرونکي تر منځ شوي تړون ته په کتو سره ضامن له قید او شرط پرته او د اوسنیو او راتلونکو مسوولیتونو تر اجرا پرته او همدارنګه د ټاکل شوو پیسو چې په حال او راتلونکي کې دي چې په دغه تړون کې هوکړه شوې دي، تضمینوي او مکلف دی چې د تړون لرونکي د ناکامۍ په صورت کې د دولت په غوښتنه ټول یاد مسوولیتونه اجرا کړي او یا پیسې په هغه ډول ورکړي لکه څرنګه یې چې په تړون کې یادونه شوې ده.

**خساره ورکول**

59.2 په ۵۹.۱ فقره کې له راغلو مسوولیتونو جلا ضامن د تړون لرونکي د ناکامۍ په صورت کې د دولت لپاره رامنځته شوي زیانونه هم په دغه تړون کې د راغلو نېټو او اندازو له مخې جبرانوي.

**د مسوولیت ماهیت او ساتنه**

59.3 ضامن په ۵۹ فقره کې پر راغلو مسوولیتونو له پوهې سره هوکړه کوي چې مسؤولیتونه یې:

59.3.1 اصولي او دوامدار دي او هیڅ حقوقي اصل او قاعده په ۵۹ فقره کې د یادو شوو مسوولیتونو د محدودېدو یا کمېدو لامل نشي کېدای؛ او

59.3.2 د لورو یا نورو اشخاصو په واسطه په دغه تړون کې له هر ډول بدلون یا معافیت راتلو او یا مصالحې یا اخطاریې صادرېدو سره سره دغه مسوولیتونه دوام مومي.

**60 اخطاریې**

**د اخطاریې (اعلامیې) صدور**

60.1 هر ډول اخطاریه (اعلامیه) یا صادر شوی وړاندیز باید د دغه تړون له مخې په انګلیسي ژبه ولیکل شي او په لاندې لارو ولېږل شي:

60.1.1 د تړون د لوري په پته دې ولېږل شي او د اړوندې څانګې د پام اړولو لپاره یې باید د اړوند ډیپارټمنټ یا آمر په نوم (که وي) چې لاندې مشخص شوي، نښاني کړي؛ یا

60.1.2 هغه لوري ته د ایمېل له لارې او د څانګې او یا اړوند آمر (که موجود وي) له نښانې سره ولېږل شي، لکه څرنګه چې په لاندې ډول مشخص شوي.

**تړون لرونکی او ضامن**

پته: لکه څرنګه چې په "راجستر" کې ثبت دي

ایمېل: لکه څرنګه چې په "راجستر" کې ثبت دي

**دولت**

پته: [د عبدالحق څلورلارې کابل ښار، کابل افغانستان]

برېښنالیک: [lsmmd@momp.gov.af]

اخیستونکی: [د لوی مقیاس کانونو د تنظیم چارو ریاست]

**د اړیکې د جزئیاتو بدلون**

60.2 تړون لرونکی تصدیقوي چې:

60.2.1 د کانونو د قانون له مخې تړون لرونکی مسوول دی چې خان د ثبت شوې پتې پر سموالي او دقيقوالي داډه کړي؛ او

60.2.2 پته او ايمېل د اړوندو مقررو له مخې بدلېږي

60.3 که دولت [دري] کاري ورځې وړاندې تړون لرونکی کس د خپلې پتې او ايمېل پر بدلېدو خبر کړي، هر ډول لېږل شوې خبرتيا او مکتوب هغه مهال د اعتبار وړ دی چې وروستي ايمېل يا پتې ته لېږل شوی وي.

**د خبرتيا وخت [لاندې] ترتيب شوی دی**

60.4 هر ډول لېږل شوې خبرتيا يا مکتوب بايد تر لاندې ټاکل شوو مودو وروسته ترلاسه شوی وبلل شي:

60.4.1 که تحويل شوی وی، هغه وخت چې په اړونده پته ابښودل شوی

60.4.2 که د پست له لارې لېږل شوی وي، د لېږلو تر نېټې وروسته [پنځه] کاري ورځې (يا که پست له هېواده بهر ته وي) [لس] کاري ورځې؛ او يا

60.4.3 که د ايمېل له لارې لېږل شوی وي، د اتوماتيکي تاييدی له راتلو سره سم؛ که که اتوماتيک خواب رانهشي، له هغه وخت څخه دري ساعته وروسته چې ايمېل يا بريښناليک د ليږونکي لخوا ليږل شوی و، او دا وخت د هغه وسيلې په حواله ټاکل کيږي چې بريښناليک يې ليږلی و.

60.5 له دې سره سره، که خبرتيا يا بريښناليک په نارسمي ورځ او يا د مازديگر تر ۵:۰۰ بجو وروسته لېږل شوی وي، د لېږلو نېټه به يې د بلې کاري ورځې پيل وبلل شي.

**61 متفرقه موارد**

**د لورو اړيکه**

61.1 په دغه تړون کې به هېڅ کار:

61.1.1 د طرفينو تر منځ د شراکت او پانګونې په معنا ونهبلل شي؛ يا

61.1.2 هېڅ يوه لوري ته دا واک نه ورکول کېږي چې د بل لوري په استازيتوب کوم کار وکړي او يا کوم مسووليت ومني.

**لګښتونه**

61.2 خو که دغه تړون او يا د کانونو قانون بل ډول څرګندونه وکړي؛ هر يو لوری د دغه تړون او اړوندو اسنادو په برابرولو، مذاکرې، اجرا او پلي کولو کې مکلف دی چې خپل خانګړی اندازه لګښت ورکړي.

**رضايتپاڼي او تصديقپاڼي**

61.3 پرته له دې چې دغه تړون يا اړوند قوانين بل ډول څرګندونه وکړي، دولت بنايي له خپل واک سره سم تصديقپاڼه يا رضايتپاڼه ورکړي او يا يې له ورکولو ډډه وکړي. دولت د ټاکل شوو شرايطو له مخې پر دې نه دی مکلف چې د تصديقپاڼي يا رضايتپاڼي د ورکولو يا نه ورکولو لپاره دليل وړاندې کړي.

**بوليزه هوکړه**

61.4 دغه تړون او په تړون کې په يادو شوو اسنادو کې ټول هغه مطالب شامل دي چې طرفينو د تړون د موضوع په اړه پر هغو هوکړه کړې ده. هېڅ يو لوری پر هغو کتبي اسنادو او هر بل هغه څه استناد نهشي کولای چې چې د مقابل لوري په استازيتوب تر دغه تړون وړاندې ويل شوي او يا عملي شوي دي.

**د جلا اسنادو اجراء**

61.5 که دواړه لوري دغه سند او يا دغه سند ته په بشپړ ډول ورته بل سند اجرا کړي، دغه تړون په مناسب ډول اجرا شوی دی.

**نور اقدامات**

61.6 هر يو لورى مکلف دى چې په خپل شخصي لګښت ټول اسناد چمتو کړي او يا له مقابل لوري څخه د غوښتنې وړ چارو د اجرا لپاره دريېم شخص وګوماري تر څو دغه تړون او دې ته ورته نورې معاملې په ګټور او بشپړ ډول له نيمګړتيا لرلو پرته عملي شي

**پر تړون حاکم قانون او قضايي حوزه**

61.7 دا تړون د افغانستان د قانون له مخې تنظيمېږي. له ۵۷ فقرې سره سم، دواړه لوري به خپله قضيه اړوندو محاکمو او د استيناف د محکمو غير څانګړي صلاحيت ته سپاري.

**د تړون ژبه**

61.8 دغه تړون په انګليسي او پښتو ژبو چمتو کېږي او اجرا کېږي. يوه نسخه يې په دواړو ژبو طرفينو ته ورکول کېږي. که د انګليسي او پښتو نسخو تر منځ کوم اختلاف راشي، انګليسي نسخه يې د اعتبار وړ ده.

**د جلا کېدو وړتيا**

61.9 د دغه تړون يو حکم په جلا ډول د تفکيک وړ دی. که دغه حکمونه په کومه دعوه کې ناقانونه، ناعملي او يا بې‌اعتباره وي او يا شي:

61.9.1 ياد حکم بايد په اړونده دعوه کې له دغه تړون څخه په جلا ډول لرې کړل شي، خو پر نور تړون اغېزه نه‌لري؛ او

61.9.2 په بله هره دعوه کې د دغه حکم پر قانونيت، اعتبار او د پلي کېدو پر وړتيا اغېزه نه کوي.

**معافيتونه**

61.10 پر هر ډول حق، وړتيا او حل‌لاره سترګې پټول بايد له دغه تړون سره سم په ليکلي ډول مقابل لورى وکړي. په سترګو پټولو کې يوازې مسووليت او يا د ټاکل شوي مسووليت ادا کول شاملېږي. له دې امله، په هر مناسبت په نورو مسووليتونو او يا د نورو مسووليتونو په ادا کولو کې معافيت نه کېږي.

61.11 که يو لورى د يوه کار په کولو ونه توانېږي او يا يې په کولو کې ځنډ وکړي چې د دغه تړون له مخې يې د کولو حق لري، پر هغو د سترګو په پټولو په معنا نه دی.

**د زيانونو د جبران تداوم**

61.12 په دغه تړون کې د زيانونو هر ډول جبران د طرفينو يو يو جاري (دوامدار)، جلا او له نورو مسووليتونو څخه خپلواک مسووليت دی او د تړون تر فسخې وروسته هم دوام کوي.

[د دې پاڼې پاتې برخه په قصدي توګه خالي پرېښودل شوې ده.]

د کان کيندني تړون: [د کندهار ولايت د سمنټ پروژه]

**لومړی جدول: د کان سپړني جواز**

**لومړی برخه: مخکيني شرطونه**

| | مخکيني شرطونه | وروستی نېټه |
|---|---|---|
| .1 | [و يې ليکئ] | |
| .2 | [و يې ليکئ] | |
| .3 | [و يې ليکئ] | |

**دويمه برخه: د جواز اضافي شرطونه (د کانونو د قانون ۳۵ (۲) (۲) ماده)**

| | د جواز اضافي شرط |
|---|---|
| .1 | ۱. هغه اضافي شرطونه چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا په راپور کې د کانونو وزارت د ۷۳(۲) مادې مطابق ځای پر ځای شوي دي (د لرغونو آثارو او فرهنګي عتيقه شيانو په اړه)، لکه څرنګه چې د وزارت له خوا د دغه تړون لرونکي ته په (الف) ۳۴.۳.۲.۲ جز کې ذکر شوي |
| .2 | [و يې ليکئ] |
| .3 | [و يې ليکئ] |
| .4 | [و يې ليکئ] |
| .5 | [و يې ليکئ] |

Ahmad Nabizada LTD
Import - Export
Kandahar, Afghanistan

د کان کیندنې ترون: [د کندهار ولایت د سمنټ پروژه]

**دریمه برخه: د جواز ساحه**

[لکه څرنګه چې د قرارداد په انګلیسي بڼه کې مشخص شوې ده]

د کان کيندني تړون: [د کندهار ولايت د سمنټ پروژه]

**دويم جدول: د استخراج يا کټې اخيستنې جواز**

**لومړی برخه: د جواز اضافي شرطونه (د کانونو د قانون ۳۵ (۳) (۱) ماده)**

| | **د جواز اضافي شرط** |
|---|---|
| 1. | د کان سپړنې د پروپوزل په اړه ټول هغه شرطونه چې داقتصاد د عالي شورا له خوا د سپړنې پر جواز لرونکي باندې د کانونو د قانون د ۲۸(۸) مادې مطابق وضع کيږي |
| 2. | هغه اضافي شرطونه چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا په راپور کې د کانونو وزارت د ۷۳(۲) مادې مطابق ځای پر ځای شوي دي (د لرغونو آثارو او فرهنګي عتيقه شيانو په اړه)، لکه څرنګه چې د وزارت له خوا د دغه تړون لرونکي ته په (الف) ۳۴.۳.۲.۲ جز کې ذکر شوي |
| 3. | [و يې ليکئ] |
| 4. | [و يې ليکئ] |
| 5. | [و يې ليکئ] |
| 6. | [و يې ليکئ] |

د کان کیندني تړون: [د کندهار ولایت د سمنټ پروژه]

**دریم جدول: زېربنا او عامه کارونه**

**لومړۍ برخه: زېربنا**

| | هغه زېربنا چې باید د تړون لرونکی یې جوړه کړي |
|---|---|
| .1 | |
| .2 | |
| .3 | |
| .4 | |
| .5 | |
| .6 | |

**دویمه برخه: عامه کارونه**

| | هغه عامه کارونه چې تړون لرونکی یې باید وکړي | وخت |
|---|---|---|
| .1 | | |
| .2 | | |
| .3 | | |
| .4 | | |
| .5 | | |
| .6 | | |

**څلورم جدول: ځانګړي شرایط**

[د تړون ځانګړي شرایط چې دلته به ولیکل شي(که وي)]

Ahmad Nabizada LTD
Import - Export
Kandahar Afghanistan

**اجراء**

[د اجرا مادي چې و به لیکل شي]

CONFIDENTIAL

د کان کیندنې تړون: [د کندهار ولایت د سمنټ پروژه]

**د قرارداد اعتبار**

**نیټه: ۴ مارچ ۲۰۲۳**

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د کانونو او پټرولیم وزرت**

**شیخ شهاب الدین دلاور (سرپرست وزیر)**

**لاسلیک:**

**د احمد نبي زاده د کانونو د استخراج شرکت**

**حاجي احمد نبي زاده( د شرکت رییس)**

**لاسلیک:**



\\DE - 755044/000003 - 3393060 v8

د کان کیندنې ترون: [د کندهار ولایت د سمنټ پروژه]

**لومړی شمېره ضمیمه: د استخراج منظور شوی پروګرام**
[وبه لیکل شي]